احمد شاه ((اوریا)) وحدت یار
Ahmad Shah Vahdat Yar

منبع الجهاد

جهادي ، سياسي اوادبي مياشتنی خپرونه



بختور میلاد



* مجاهدين دځلورو خواو څخه دګرديز پر لور دپرمختګ په حال کې دي
الحاج «حقاني»

* دمولانا عبدالحق په یاد



الهی لارښوونی

خپلوانو ، مسکینانو اومسافرو ته یی حق ورکړی
بیځایه لګښت مه کوی ، بیځایه لګښت کوونکی
دشیطان ورونه دی اوشیطان دخپل رب ناشکره دی

دبنی اسرائیلو سورة (۲۶-۲۷)ایت

منبع الجهاد

جهادي،سیاسي اوادبي میاشتنی خپرونه

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین «حقاني»

دتأسیس کال : ۱۳٦۸ هـ ش ، ۱٤۰۹هـ ق

دریم کال ، څلورمه ګڼه ، د ۱۳۷۰ هـ ش تله ، د ۱٤۱۲ هـ ق ، ربیع الاول - ربیع الثاني

دهیئت تحریر تر نظر لاندې

مکاتباتي پته

پوست بکس نمبر (۱۰۳۳) یونیورسټي

ټاون - پیښور

دټیلفون نمبر :(۸۱۲۸۸۱)

بانکي پته

حبیب بانك ، دصدر روډ څانګه

دحساب نمبر : ۲۰۵۵۹

پیښور - پاکستان

کمپوزر: احمدضیاً « ذهین بابري »

په دې ګڼه کې

شمیر	عنوان	مخ
۱:-	سرمقاله	(۲)
۲:-	توطئه هاودسایس جدید ...	(٤)
۳:-	دجنرال فضل الحق دترور ...	(۷)
٤:-	خداي (ج) یې مه ګڼه بې شکه ...	(۸)
۵:-	روسیه له ابرځواکي تر...	(۱۲)
٦:-	نقش مسلمانان هند ...	(۱٤)
۷:-	مولانا عبدالحق داسلامي امت ...	(۱٦)
۸:-	دغورا وخپګان ټکی ...	(۱۸)
۹:-	نړۍ اودامریکا استعماري ...	(۲٤)
۱۰:-	دپکتیا اوپکتیکا دقوماندانانو اعلامیه	(۲۸)
۱۱:-	په ګردیزکې دحقاني صاحب سره مرکه ...	(۲۹)
۱۲:-	ګردیز دازادی په لور...	(۳۷)
۱۳:-	کمونیزم یادتکامل او...	(٤۱)
۱٤:-	درسول الله (ص) دژوند لس ...	(٤٤)
۱۵:-	داسلام په اړه دصلیبیانو...	(٤۷)
۱٦:-	جهادي ادب ...	(۵۰)
۱۷:-	لنډه کیسه ...	(۵۲)
۱۸:-	ولسي ادبیات ...	(۵۳)
۱۹:-	جهان درماه سنبله ...	(۵٦)
۲۰:-	راغلي لیکونه ...	(۵۹)
۲۱:-	ابدي ژوندي ...	(٦۱)

منبع الجهاد

بسم الله الرحمن الرحيم

آزادي اخستل کيږي ورکول کيږي نه

دخوست تر بريمني سوبې وروسته دافغانستان مسلې په اړه يو لړ نوی سياسی تحرکات رامنځ ته شول ، دملګرو ملتو دسر منشی استازی بينن سيوان کابل ، اسلام اباد اوتهران ته منډې رامنډې وکړې، په ايران اواسلام اباد کی دمجاهدينو ايران اوپاکستان تر منځ ګڼ سمينارونه جوړشول ، امريکا او روسيې په ګډه دواړو خواو باندی دوسلو بندولو اعلان وکړاوبالاخره دزياتی مودی راهيسی په ستونی کی ساتل شوی خبره چی يادی مجاهدين دظاهرشاه حکومت ومنی اويا دی جمهور رئيس له مجاهدينونه او صدراعظم دی خالقيار شی چی هماغه دمخلوط اوائتلافی حکومت پنډوره ده ، له خولی راووتله .

ظاهرا ښايی ځينو ته داوړانديزونه نوی جذاب اوله زړه سوی ډک ښکاره شی خو په حقيقت کی دادهغو توطيو کړی ده چی په افغانستان کی داسلامی حکومت دمخنيوی په خاطر په لاره اچول شوی ، په دی روان پړاو کی استعمارله دی وړانديزونو اوتوطيو هدف لری چی ترڅو دمجاهدينو تر منځ فاصله زياته کړی ، ذهنيتونه مغشوش ، ستړی اوخپلو فيصلومنلو ته چمتو کړی ، دجهاد روحيه تضعيفه اودکمونستانو په مقابل کی چی دافغانستان ديو نيم مليون شهيدانو کونهو ، رنهو او کليو اوبانهو دتباهی مسولين دی حساسيت راټيټ کړی خو ترکومه چی خبره موږ پوری اودی توطيو ته دعملی جامی وراغوستلو پوری اړه نيسی بايد په دی باب ډير جدی ، دقيق اوحساس واوسو.

زموږ دتوپك له خولې څخه ګولی خو یواځې دغږ اخستلو، اتل اوقهرمان لقب ګټلو په خاطر نه ده راوتلی، موږ یواځې دمیړنی قوم ویاړ لاس ته راوړل نه دی غوښتلی ددی تکل مو کړی واو کړی مو دی ترڅو داسلام تر سیوری لاندی ژوند وکړو ، خپلو وګړو ته دریښتونی سوکالی دروازی پرانیزو یواځې اتل ملت سرلوړی قوم القاب موږ ته څه نشی راکولی موږ به هلته اتل اوسرلوړی ؤچی دڅه شی په تکل راوتلی و هغه لاس ته راوړو.

منو چی باید دروان سیاسی بهیر څخه دځان په ګټه کاراخلو خو نه په دی توګه چی دادخپلې ستونزی دحل یواځینی لار وبولو، خپل ټول توان په همدی لاره کی په کار واچوو ځکه هغه څوك چی موږ ته دحل لاری ښیی هغوی خپله فیصله کړی ملګروملتونو دژنیوپه خبرو اترو کی کابل رژیم داصلی لوری پیژندلو سره سره اوس هم په خپل چوکاټ اوچاپیریال کی دګوډاګی رژیم استازی اوسفارت ته ځای ورکړی ، موږ باید خپل سیاسی تحرکات دجهادی اونظامی هلو ځلوتابع وګرځوو ، دهغوی په رڼا کی خپلی منډی رامنډی پیل کړو چی ښیي تجربی یی هم لرو ، هغه وخت مو دسیاست پرمیز ښیی چنی وهلی دی ، چی په نظامی مورچل کی موښه بریالیتوبونه لاس ته راوړی خو متاسفانه چی دسیاسی مورچل ټیر وهو نکو مو کله ناکله له بیړی کار اخیستی هغوتېرونو ته یی لاس اچولی چی زموږ پخووهلو ته جوړشوی نه دګوډاګی رژیم ، دهغو برنامو په رڼا کی یی منډی رامنډی پیل کړی چی زموږ دله منځه وړلو په خاطر طرحه ریزی شوی .

خواوس چی زموږ دمسئلی دحل خبری اتری زیاتی شوی اودګردیز عملیاتو داپروسه لاګړندی کړی باید دنورو په اشاره زغاسته او منډی رامنډی پیل نکړو دنورو شنو چراغونو ته خوشحاله نه شوو ځکه پردی چی موږ ته کوم آنی او موقتی شنه بڼونه ښیی دابه موږ ددایمی اورلمبو ته ورغورځوی ، باید دمجاهدینو دتوپك له شپیلی راوتلی ګولی څخه سیاسی ګټه واخلو ځکه موږ یواځې دګڼ نظامی فشار په نتیجه کی خپل سیاسی اهداف لاس ته راوړی شو که ددښمن پر ټټر دپرله پسی ګولیو لګیدل کم او کمزوری شی زموږ په ګټه سیاسی حل ناممکن دی ، همدا پرخه په پرخه لویدل ، شهادت اوددښمن ګولی ته غیږ ورکول دی ، چی زموږ راتلونکی تضمینوی ، کنه نو ملګرو ملتونواو ابر ځواکونو سره زموږ مشکل حل دی ښه ده بیادشرق دسترنابغه علامه سید جمال الدین افغان خبره تکرار کړو ، چی «آزادی اخستل کیږی ورکول کیږی نه» .

وما علینا الاالبلاغ

توطئه هاودسایس جدید علیه انقلاب اسلامي ما

سمیع الله «تازه»

سیاسي تبصره

درین اواخر به اثر تحرك سیاسی مجاهدین وازجهت عملیات سنگین مجاهدین علیه مواضع وپایگاه های نظامی رژیم در گردیز مرکز ولایت پکتیا ، معضله افغانستان باردیگر جای مهمی رادرسلسله نشرات رسانه های گروهی جهان بخود اختصاصی داده است ،این امر نشان میدهد ، که مساله افغانستان تاکنون نه تنها پایان نیافته بلکه هنوز هم بحیث پرویلم جدی به سطح منطقه وجهان باقیمانده است.

ستراتیژی نیروهای جهادی درمجموع درشرایط روان موازی با ادامه جهاد مسلحانه علیه تمام منافع وپایگاه های رژیم دست نشانده روس درکابل ، تحرك سیاسی جهت اثبات حقوق حقه ملت مجاهد ومسلمان ما ازطریق بازگشودن راه به مجامع ومحافل سیاسی واجتماعی جهانشمول میباشد.

درین اواخر به سلسله پیشنهادات و طرحهای گونا گون ازسوی رژیم کابل ودولت روس تحت عنوان حل مساله افغانستان بازهم طرقی ارائه شده است که درهمه انها بصورت واضح تلاش های روسها ورژیم کابل بخاطر شرکت دادن کمونست هادر حکومت اینده افغانستان بمشاهده میرسد .

هرچند درفعالیت های سیاسی که فعلًا جریان دارد ، از تاکید قبلی روسها بربودن نجیب الله رئیس رژیم کابل در دوره حکومت انتقالی درقدرت اثری دیده نمیشود ، ولی نمیتوان این امر را بحیث یك نرمش از طرف روسها در حل مساله افغانستان تلقی نمود ، طرحهای که روسها ورژیم کابل به اصطلاح جهت حل قضیه افغانستان پیشکش می کنند همان مفاهیم قبلی چند بار تکرار شده است که در قالب الفاظ جدید ریخته شده است .

اینبار روسها طرحی که به مجاهدین ارائه نموده اند ، بوضوح عدم انصراف از تصمیم شامل ساختن کمونست ها در رژیم آینده کشور رانشان میدهد ، بوریس پنکین وزیر خارجه روسیه به مجاهدین پیشنهاد نموده است که مجاهدین میتوانند حکومت رادرافغانستان تشکیل دهند ، ولی درعین حال فضل الحق خالقیار صدراعظم کنونی رژیم کابل

هرچند درفعالیت هاي سیاسي که فعلا جریان دارد ، از تاکید قبلي روسها بربودن نجیب الله رئیس رژیم کابل در دوره حکومت انتقالي درقدرت اثري دیده نمیشود ، ولي نمیتوان این امر را بحیث یك نرمش از طرف روسها در حل مساله افغانستان تلقي نمود ، طرحهاي که روسها ورژیم کابل به اصطلاح جهت حل قضیه افغانستان پیشکش مي کنند همان مفاهیم قبلي چند بار تکرار شده است که در قالب الفاظ جدید ریخته شده است .

دروظیفه خود همچنان باقی خواهد ماند.

دیگر اینکه مجاهدین بپذیرند که محمد ظاهر پادشاه سابق افغانستان رهبری یك حکومت انتقالی رابکف گیرد .

درپیشنهادمذکور که برای نخستین بار ازسوی روسیه که با مداخله وحشیانه خود موجب رنجهای بی پایان ملت مظلوم ما گردید، ارائه شده درهر دوطرح اهداف خائینانه نهفته است .

اول اینکه روسها باز هم تلاش دارند تاهسته حزب کمونست (خلق وپرچم) را نه تنها زنده بلکه همچنان فعال نگهدارند ، دوم اینکه روسها هنوز هم حاضر نیستند ، ازمنافع خود در افغانستان صرف نظر نمایند ، وباین جهت برای تحفظ عمال وایجنت های وفادار خود مذبوحانه تلاش بخرج میدهند.

رژیم کابل نیز با الهام ازنظرات ودساتیر روس پیشنهاد نموده است تایك حکومت ائتلافی ازقوماندانان داخل، نیروهای جهادی مقیم پشاور وایران طرفداران ظاهرشاه ورژیم کابل ایجاد گردد.

درین طرح شیطانی که صرف بخاطر ایجاد تفرقه میان نیروهای جهادی ارائه شده دیده میشود که قوماندانهای جهادی راکه پیروان ومجاهدین صدیق اسلام بوده وبخاطر دین وازادی وطن تحت قیادت یکی از تنظیم های جهادی علیه کفر والحاد و رژیم الحادی کابل رزمیده اند ، بصورت نیروی جداگانه مطرح ساخته است ، رژیم بدین گونه خواسته است با جدا ساختن قوماندانان، قیادت جهادی رادر برابر خود خلع سلاح نماید .

همچنان این طرح دیگر رژیم که خواسته است بخاطر ازمایش درجه محبوبیت درمیان ملت انتخابات براه انداخته شود ، جای تعجب است که رژیم کابل هنوزهم باین فکر است که درمیان مردم افغانستان هنوزطرفداران الحاد موجود باشند .

اینها همه ازیکطرف تلاشهای کمونست هارابخاطر ا تلاف وقت وازطرف دیگر کوششهای بی ثمر شانرا برای بقاوحتی سهیم شدن در حکومت اینده افغانستان رانشان میدهد ، اگر طرح روسیه وکابل رامقایسه کنیم بدون شك عین مفاهیم وسخنان است در قالبهاوترکیبات جدید.

درطرحهای اخیر روسیه وکابل اکنون مانند گذشته تاکید بر ادامه قدرت نجیب در حکومت اینده ائتلافی افغانستان دیده نمیشود ،

اما درمقابل برنکته اساسی که همانا سهم گرفتن حزب کمونستی وطن دردولت است ، باپیش کشیدن مهره پر سابقه کی ، جی، بی که ظاهرا روسها کلاه بیطرفی رابر سرش گذاشته اند مطرح می سازند .

مطنقیست که روسها بیش از ین بر شخصیت نجیب تاکیدی نداشته باشند ، زیرا قدرتهای استعماری افراد وایجنتهای خویش راصرف بخاطر مرام معین وتازمان معین استخدام می کند وبعد ازان جای شان بگورستان ویا بزباله دان متعفن خاینین است .

منافع روسها ایجاب می کرد ، تااکنون وشاید چند سبای دیگر از نجیب استفاده نمایند ، بعد از ان درمرحله دیگر سیاست، روسها شاید لازم ندانند بازهم ازنجیب استفاده کنند انگاه اشخاص دیگری چون خالقیار که بهمین جهت وبه همین روز پرورده شده اند وارد میدان نماید ازهمین جاست که خالقیار خود درمورد بودن ویانبودن نجیب درقدرت اینده گفته که همه چیز میتواند درحل قضیه افغانستان مورد بحث قرار گیرد .

ازین به بعد دیگر نجیب شاید بحیث مهره مانع حل قضیه نباشد ، درعوض روسها برشرکت حزب وطنفروش خلق پرچم درحکومت

درین طرح شیطاني که صرف بخاطر ایجاد تفرقه میان نیروهاي جهادي ارائه شده دیده میشود که قوماندانهاي جهادي راکه پیروان ومجاهدین صدیق اسلام بوده وبخاطر دین وازادي وطن تحت قیادت یکي از تنظیم هاي جهادي علیه کفر والحاد و رژیم الحادي کابل رزمیده اند ، بصورت نیروي جداگانه مطرح ساخته است ، رژیم بدین گونه خواسته است با جدا ساختن قوماندانان،قیادت جهادي رادر برابر خود خلع سلاح نماید

اینده پافشاری خواهند نمود وسالهارانیز بخاطر این هدف چانه خواهندزد زیرا روسها اکنون بخاطر حفظ منافع خویش در افغانستان تکتیک کهنه راکنار گذاشته راه وروشهای تازه وتازه تری راانتخاب می کنند وهیچگاه هم حاضر نیستند ، ازمنافع ناجایز واستعمار گرانه خویش صرف نظر نمایند .

ولی ملت مجاهدما همانطوریکه درصحنه عمل نشان داد ، که میتواند مشت رابامشت جواب دهد اکنون وقت ان رسیده است تا بازور ونیرو فراست رانیز همراه سازد ، حوادث نشان میدهد که روسها به اسانی حاضر نیستند ، حق مسلم ملت ما را تسلیم دهند ، پس لازم است ملت مجاهد ما بازهم با اتحاد ووحدت زور را بازور سیاست واسلحه پاسخ گوید ، طوریکه تجربه نشان داده است بزرگترین مانع پیروزی جهاد ما نفاقیست که درسطح رهبری جهاد وجود دارد ، ملت مجاهد ما همیشه درسنگرقرار داشته وبرفرق دشمن میکوبد ولی عدم اتحاد رهبری جهاد ازقوت وضربت بردشمن را تضعیف می نماید .

ملت مجاهد وجهاد ما در لحظات دشوار قرار گرفته است توطئه هاودسایس ازهر سو علیه ملت ما وارد صحنه عمل میشوند درینگاه این مسوولیت قیادت جهادی است تا مسوولانه فکر کنند ان قیمت گزاف را که برای اعتلای کلمة الله وبرقراری حکومت اسلامی ، ملت مسلمان ما پرداخته است به مفت نرود وآن ارمان شهدای ملیونی وملیونهااواره ما نابر اورده نماند .

دجهاد له تودو مورچلونو څخه دجنرال فضل الحق دظالمانه تروریه اړه دالحاج مولانا جلال الدین حقاني پیغام

په خواشینی سرمو خبر ترلاسه کړ چی دسرحدی ایالت پخوانی والي جنرال فضل الحق دیوی ډلی تروررستانو لخوا ووژل شو.

جنرال فضل الحق یوغیرتی او میړنی سپاهي و چی دخپل ملك او اسلام لپاره یی دقدر وړ خدمتونه تر سره کړی دی .

جنرال فضل الحق دافغان جهاد له پیاوړو ملاتړ کوونکو څخه ؤ ، اودده په شهادت غیرتی مجاهدین له یوه غیرتی اوخواخوږی انصار څخه محروم شول .

دجنرال فضل الحق خدمتونه او ملاتړ به زموږ مجاهد ملت هیڅ کله له یاده نه باسی اویقیناً دافغان جهاد په افتخاراتو کی دقربانی پر ډگر ولاړو مجاهدینو تر څنگ دشهید ضیاالحق اوجنرال فضل الحق په څیر مومنو انصارو له رول نه هیڅ انکار نشی کیدای له خدای (ج) نه دغه غیرتی جنرال ته دبخښنی او جنت الفردوس دعا کوو او کورنی اوخپلوانو ته یی دصبر جمیل غوښتنه کوو.

همدارنگه الحاج مولانا نظام الدین حقاني هم دجنرال فضل الحق په وژنه خپله ژوره خواشیني دیوه پیغام په ترځ کي څرگنده کړي ده .

والسلام

م ، ز – شفيقي

خدای (ج) یی مه گنه بی شکه چی بنده دی

دحضرت سرور کائنات محمد مصطفی (ص) دمبارك میلاد په مناسبت

انسانی تاریخ دبشر دژوندانه له پیله ترننه دډیرو سترو حادثو اوپدلونونو شاهد دی ، کله تولنه نړی اوبو لاندی کړی ده ، کله دنړی کومه برخه دچا جابر او ستمگرواکمن له لاسه دجگړی په اور کی لولپه شوی ، دامپراطوریو تر منځ خو نړی اواوړدی نښتی شوی ، دخدای (ج) بنده گان دخپلو همنوعو له لاسه ربړول شوی ، تکول شوی اووژل شوی دی ،بشری تاریخ پاڼه پرپانه دهمدغسی واقعو اوکیسو نه ډك دی ، په یوه مخ دکوم مصلح سوله ایز اوانسان دوستانه کړه وړه ثبت دی پربل یی بیا دهلاکو ، چنگیز ، هټلر ، اتیلا ، موسولینی ، ستالین ، او ... دوحشت اوستم کیسی .

په یوه پاڼه کی یی دحضرت ادم (ع) حضرت ابراهیم (ع) جضرت لوط (ع) حضرت نوح (ع) حضرت موسی (ع) اوحضرت عیسی (ع) دبلنی اوهدایت داستانونه دی ، خپل خپل قوم ته ددوی دلارښوونی اوهدایت هلی ځلی بیانوی ، دهغوی هغه ملکوتی رسا فریادونه اوشعارونه وراندی کوی ، چی دخپلو قومونواوولسونو دنجات لپاره یی تر خوله وتلی خوپله پاڼه یی دثمود ، نمرود ، فرعون ، هامان اودی ته ورته قومونواو گمراهانو له فتنو او کړو وړو نه خبری کوی ، دخدای (ج) داستازو په وړاندی ددوی دجبراو کبر نه ډك کړه وړه بیانوی .

دخدای (ج) پر بنده گانو ددغه سرکشانو اوباغیانود ستم او وحشت کیسی کوی ...

اوربنتیا چی تاریخ دانسانی ژوندانه دپیښواو حادثو نه زیږیدلی ،اوهمدغه حادثی دی چی تاریخ جوړوی ،همدغه انسانان دی چی حادثی جوړوی او له حادثو نه بیا دتاریخ پاڼی رنگینی شی .

خو موږ نن دتاریخ له یوی بلی ستری پیښی نه خبری کوو دغه پیښه خونه دځمکی پر مخ دکوم توپان کیسه ده،اونه هم دکوم جابر اوستمگر واکمن دبغاوت داستان، نه دکوم مظلوم ددردونو فریاد دی ،اونه دکوم ظالم له کبر اوغروره ډك اواز دنخرو او کرشمو یاد .

نن موږ دانسانی تاریخ یوه ډیره ستره پیښه یادوو ، چی یو عظیم انقلاب یی راوستلی ، نړیوال اوجهان شموله انقلاب ، نن موږ دانسانانو له ډلی نه تر ټولو ستر انسان اودپیښو او حادثو له لړی‌نه تر ټولو ستری پیښی په باب یادونه کوو اونن موږ دهغه چاپه باب خبری کووچی انسانیت وړاندی وياړی ، دهغه چاپه باب چی تاریخ وړاندی وياړی اوټول جهان او کاینات یی په وجود فخر اوویاړ کوی .

نن موږ دیوه یتیم په باب خبری کوو ، دهغه یتیم چی په یوه فقیرانه کوته کی یی نړی ته سترگی وغړولی ، خو ټوله نړی اوټول کاینات یی دراتگ انتظار وو ، نن



مور دیوی جونګړی دبختور مولود په باب یادونه کوو
چی دوخت دسترو امپراطورانو مانی یی ولړزولی ،
اوغورځولی .
اونن مور دانسانی تاریخ ترټولو لویی اوبختوری
پیښی ، اوترټولو ستر او مبارک انسان دمبارک اوبختور
میلاد یادونه کوو .
نن ددواړو جهانونو دسردار حضرت محمد (ص) اخر
زمان دمبارک میلاد نیکمرغه ورځ لمانځو ، دهغه چاد
میلاد لمانځنه کوو چی دشاعر په قول :

خدای (ج) یی مه کړه بی شکه چی بنده دی
نور یی کل واره صفات دی په رښتیا

هغه مبارک میلاد چی دیوه ستر انسانی انقلاب بنسټ
شو ، پر انسانی نړی دیوه نړیوال انسانی نظام
دراتګ زیری شو ، اودجبر او کفر دبنیادونو
درانسکوریدو اغاز شو.
نن مور دربیع الاول دولسمه دخدای (ج) دمحبوب
رحمت للعلمین (ص) دمبارک میلاد نیکمرغی ورځی
لمانځنه کوو د۶۷۰ یا ۶۷۱ م کال دربیع الاول دولسم
سهار چی کله لمر له غرونو سرراهسک کړ ، یو نوی
پیغام ورسره ؤ ، په ورانګو کی یی له تودوخی ، اونور
سره یو بل زیری هم ؤ دغه د جهالت اوتیارو ځپلی نړی
ته دنور اوهدایت پیغام !!
دعزت ، شرف اوسعادت پیغام !
انسان ته دانسانی ژوندانه دپیل پیغام اومظلوم ته دظلم
دانجام زیری !
دمکی په یوه فقیرانه کور کی دبی بی آمنی له مبارکی
لمنی نه دخدای (ج) محبوب نړی‌ته تشریف راوړ ،او
سمدستی دبیت الله ستر بوت «هُبل» رانسکور شو
د«کسرا» (۱٤) کنګری ونړیدی ، دبخدی (زر) کلن
اورتون سوړ شو ، دروم دقیصر تخت په لړزه اوراچپه
شو، حضرت محمد (ص) ماشوم ؤ خو دماشومتوب له
لوبو اوهوسونه بیګانه ، دشرک او جهالت په ماحول کی
واوسیده خو دتوحید او سپیڅلتیا په جامه سمبال ،
دبوتانو نه ډک ماحول کی ستر شو خو دهغوی په
نسبت له کرکی سره ، هغه مبارک دنړی پرمخ له سترګو
غړولو نه دحرا دغره ترسمڅی پوری دژوند ځلوېښت
کلونه له پیغمبرانه معصومیت اوسپیڅلتیا سره تیرکړل
اوبیا دعمر په ٤٠ کلنی ددغه غره په سمڅه کی یوه ورځ
هغه ته دپیغمبری ستر خلعت هم ورواغوستل شو .
له همدغی شیبی نه نور هغه ستر انقلاب اوبدلون پیل
شو چی ورو ورو یی ذهنونه تسخیر اوولسونه راګیر کړل
، هغه پیغمبری انقلاب چی په نړی یی دبندګانو واکمنی
اوخدا یی رنګه کړه، دجهالت اوضلالت سرداری یی له
منځه یو وړه او دالهی عدالت اونیا ؤ قانون یی راوړ چی
دامیراوفقیرتوپیر په کی نه ؤ او که ؤ هغه هم په تقوا
اوخدای (ج) ته په اطاعت اوعبادت کی ؤ .
دلومړی ځل لپاره بلال بن رباح (رض) اوابوبکر صدیق
(رض) یو دبل ترڅنګ یو دبل سره یو شان اویو دبل
سره اوږه په اوږه ودریدل ، توراوسپین غلام او حکمران

، کمزوری اوزورور تول دیو بدن غړی اودتولنی دمساوی
حقوقو خاوندان وګڼل شول، حضرت محمد (ص)
دخدای (ج) استازی اومحبوب و ، دنبیانو سالار او
سردار ؤ اولوی خدای (ج)ته ترتولو نږدی او ګران ؤ
خوبیا هم هغه له دنیاوی دبدبی اومادی زرق اوبرق نه
ډیر بیزار او لری ؤ ، دهغه (ص) تول ژوند خپلو
اصحابو ته اوتول بشر ته عملی درس او تعلیم ؤ .
حضرت پیغمبر(ص) کوم خیالی او تصوراتی موجود
نه ؤ ،همدغسی انسان ؤ ، خو په قرانی صفتونو
اوپیغمبری خصلتونو متصف انسان ، دهغه مبارك ژوند
ډیر ساده اوله سپیڅلتیا اوقدسیت نه ډك ؤ، سره له دی
چی هغه دنړی تر تولو ستر انسان ؤ سربیره پر دی
چی هغه دنبیانودسالار تاج پر سرلری هغه بیا داسی
ساده ژوند تیراوه چی اوس ښایی زموږ له فهم نه لوړ
وی ، هغه مبارك خپل كار په خپله كاوه ، له سترو
امتیازونو سره یی ځانته ددی امتیاز ورنکړ چی کار یی
بل ورته وکړی ، ددنیا خزانی یی په مخکی انبار وی ،
خو مبارك پیغمبر(ص) به کله وږی ؤ اوکله په نیمه ګیډه ،
جامو به یی پیوندونه درلودل ، دکور په کار کی به له
خپلو « بیبیانو » سره مرستندوی ؤ ، له مبارکو اصحابو

سره به یی کار ویشه ،اوخپله برخه به یی په خپله کوله .
سره له دی چی هغه دامت شفاعت ګر دی ، دخدای
محبوب اورحمت للعلمین دی خو په عبادت اوریاضت کی
تر نورو تولو انسانانو وړاندی ؤ ، حضرت محمد (ص)
پرڅوستانو څه چی پر دښمنانو هم مهربان ؤ هغه به
خلك دنجات اوسعادت لور ته رابلل خودښمنانو به
دکانو په اوررولو استقبال کړاوبیا به چی دالهی قهر
دریاب په څپو شو حضرت پیغمبر ته به یی ددښمنانو
دانجام اختیار وروسپاره نو مبارك پیغمبر به په داسی
حال کی چی تپی تپی ؤ خپل قوم ته هدایت غوښت ،
همدغه سبب و چی ډیر داسی کسان به چی سهار دده
دقتل په اراده له کوره ووتل ، بیرته به داسلام له نور او
عزت سره غبرګ کورته راستنیدل ، حضرت محمد
(ص)دکوم داسی خونړی انقلاب اوبدلون لارښود اولیدر
نه و چی ښارونه کلی ،او کوڅی په وینو لمبیدلی وی ،
هغه دداسی انقلاب بانی اولارښود ؤ چی وینوتوئیدولو
اوژوندی خښیدلو ته یی دپای تکی کیښود . فکرونه یی
واړول ، له جاهلی خرافاتو اوعاداتو نه یی لومړی
حجاز او وروسته نړی وژغورله ، انسانانو ته یی
دانسان له فطرت اوغوښتنو سره سم دین او قانون
راوړ ، داسی الهی قانون چی یوازی
دهغه تر سیوری لاندی انسان
دارامی اوسکون ژوندتیرولای شی

نو دحضرت محمد (ص) مبارك
میلاد ، دنور میلاد ؤ چی تیاری
یی ورکی کړی ، دانسانیت میلاد ؤ
چی وحشت او ځناورتوب ته یی
پای ورکړ دعزت او شرف میلاد ؤ
چی انسان له ذلت اوسپکاوی نجات
وموند اوبالاخره په ریښتنی معنی
دژوند میلاد ؤ چی دابدی هلاکت له
کرنګونو نه یی انسانی تولنه
دسعادت اونجات ساحل ته رهبری



حضرت پیغمبر(ص) کوم خیالي او تصوراتي موجود نه ؤ ،همدغسي انسان و ، خو په قراني صفتونو اوپیغمبري خصلتونو متصف انسان ، دهغه مبارك ژوند ډیر ساده اوله سپیڅلتیا اوقدسیت نه ډك ؤ سره له دي چي هغه دنړي تر ټولو ستر انسان ؤ سربیره پر دي چي هغه دنیانودسالار تاج پر سرلري هغه بیا داسي ساده ژوند تیراوه چي اوس ښایي زموږ له فهم نه لوړ وي ، هغه مبارك خپل كار په خپله كاوه ، له سترو امتیازونو سره یي ځانته ددي امتیاز ورنكړ چي كار یي بل ورته وكړي ددنیا خزاني یي په مخكي انبار وي ، خو مبارك پیغمبر به كله وږي ؤ اوكله په نیمه گیډه ، جامو به یي پیوندونه درلودل ، دكور په كار كي به له خپلو « بیبیانو » سره مرستندوي ؤ ، له مباركو اصحابو سره به یي كار ویشه ،اوخپله برخه به یي په خپله كوله .

كره نور چاته دلوړو پیداكیدل شرم خبره نه ؤه ، توروپوستكي ځان تر سپین پوستكي كم نه گاڼه ، فقیر تر امیر ځان ټیټ نه احساساوه ، اوځزر ، زمین او نسب توپیرونه ورك شول ، دانساني ریښتني ژوندانه بنیاد كیښودل شو اوبیا دعزت او شرف دژوندانه تیرولو لاری په نخښه شوی ، دظلم ، جبر اوكفر پر خلاف دجهاد او قتال لاره انتخاب شوه ، حضرت محمد (ص) پخپله توره پورته كړه او خپل امت ته یی عملاً دجهاد لاره وښوده ، همدغه عملی درس ؤ چی تر ننه دخدای (ج) پر دین اودپیغمبر دلاری پر ننگ دجهاد لاره له لارویو ډكه وه اودادی نن هم دپیغمبر(ص) په پیروی دنړی په گوټ گوټ كی دهغه دامت اوابو جهلیانو تر منځ معركه گرمه ده ، هره شیبه دخدای (ج) په لاره كی دپیغمبر(ص) ریښتینی امتیان خپلو وینو تویولو ته تیار دی ، سرښندنی كوی ، قربانی وركوی خو دكفر باداری ته یی سرونه ټیټ نه دی په دی لړ كی یوه ډیره توده معركه اوتاریخی جگړه هم چی دپیغمبر(ص)دامتیانو او دشیطان دپیروانو تر منځ روانه ده زموږ دومن ملت او نړیوال كفر تر منځ مقابله ده ، چی دادی كلونه كلونه روانه ده دلته هم هره ورځ دبدر او احد په څیرډگرونه په وینو لمبیدلی ، غازیان راپاریدلی ، اودخدای (ج) پر عظمت دگواهی تكبیرونو سمه اوغرونه لاندی كړی دی ، دلته هم دكفر احزابو په گډه داسلام پر ضد مورچل نیولی ، دلته هم همغسی غازیان دی ، هماغسی ننگیالی او توررن سربازان دی ، دخالد (رض) ، معصب (رض) ، سعد (رض) اواسامه (رض) په څیر اتلان دی چی دتكبیر شعارونو یی دكفر پر هڅونو زلزلی گډی كړی دی خوافسوس !

افسوس چی ددوی تر منځ دعبدالله بن ابی پیروان هم شته چی ددوی تر منځ یی دبیلتون دیوالونه درولی دی اونږدی ده چی دلكونو تنو دوینو حاصل اوثمر یی بی ځایه اوبی نتیجی پاتی شی .

دریغه نن زموږ دغازیانو غوږونو ته دخپل محبوب پیشوا حضرت محمد (ص) خپل هغه وروستی دحجة الوداع پیغام ورسیږی چی:

« ای خلكو ! ستاسو وینی اوستاسو مالونه یو پر بل حرام دی ، بلكی داسی لكه نن « دعرفی مباركه ورځ » چی دلته په كعبه كی ستاسو وینی او مالونه یو بل ته حرام گڼی .

ښه یی ذهن ته وسپاری چی دجاهلیت دزمانی ټول عادتونه او رواجونه له منځه ولاړل ، اوداټول زما تر دغو قدمونو لاندی وځپل شول ....»

دریغه څوك راشی دخدای (ج) دهغه ستر استازی دغه ملكوتی پیغام یو ځل بیا زمزمه كړی اوداخواره واره اویوله بله بیزار وروڼه داسلام اووروولی په سپیڅلی رشته بیرته سره وروڼه او خپل كړی ، په پای كی له ستر رب نه دخپل محبوب (ص) په روی په افغانستان اونړی كی داسلام دبشپړ حاكمیت دوعا كوو .

اللهم صل علی محمد وعلی ال محمد كما صلیت علی ابراهیم وعلی ال ابراهیم انك حمید مجید .

(ومن الله التوفیق)

روسیه له ابرخُواکي ترتوته کیدو

دشیخ القران والحدیث مولانا شیر علي شاه په قلم

دکمونیزم په نړی کی دبدلونونو روان بهیر بی له شکه چی دافغانستان داسلامی جهاد دحقانیت او کامیابی ځلانده اوروښانه ثبوت دی ، داستربدلون هر حق پرست اوعقلمند انسان ته داپیغام ورکوی چی دانسانی دماغو جوړشوی نظامونه هیڅ ټینګښت اودوام نلری دفنا کیدونکو انسانانو تولی چاری او هلی ځلی بی بنسټه اودقرانکریم ابدیت دایمی اوتل تر تله دی دسوسیالیزم او کمونیزم بنسټ ایښودنکو په خپلو لاسونو په دی ناپاك اوبیهوده نظام خاوری امبار کړی او ځای په ځای یی دانسانیت دښمنانو بتان را نسکور کړل هغه لینن چی کمونستانو ته یی دپلار او مشر حیثیت لرلواو په خپلو کورونو دفترونو کی یی دهغه مجسمی او عکسونه ایښودلی ؤ هغه چی ویناوی دقران پاك دایتونو څخه هم غوره بللی او په روسیی او ځینونورو هیوادونو کی دهغه مجسمی درولی وی نن جنایتکار بلل کیږی ، دهغه تولی غتی ،غتی مجسمی هم هغو لاسونو راچپه کړی چاچی مخکی په ډیر درناوی اوعقیدت دروِلی وی ، په دی حقیقت کی هیڅ شك نشته چی دانسانی دماغ جوړشوی ناقص نظام چیری هم دانسانانو کشالی نشی حل کولی ځکه چی هغه کی دلږی ګټی پر ځای بی شمیره تاوانونه وی که دانسان په لاس جوړشوی نظام کامیابیدی شوی اودخلکو ستونزی حل کولی شوی نو دستالین اولینن عقیده به کامیابه شوی وی اودخلکو ستونزی به یی حل کړی وی ځکه چی دهغه ملاتړ ته ډیرلوی قوت ملاړاتړلی وه خودډمره درنو وسایلو اوستر قوت سره سره ډیر زر دخزان دپاڼو په شان ورژید.

یکار خو داوه په کومه ورځ چی گورباچوف اونورو کمونستانو په خپلو لاسونو دکمونیزم بتان ماتکړل اودمارکسیزم، لیننزم مفکوره یی تر خپولاندی ریز مریز کړه ددوی گوړاکی نجیب هم

دباکو ښاریواوسیدونکي دلینن مجسمه رانړوي

خپلو جنایاتو ته خاتمه ورکړی وای ، مجاهدینو ته یې ځان تسلیم کړی وای او دحکومت واګی یې دمجاهدینو عالمانو ته سپارلی وای که نجیب اوس هم خپلو کړو وړو ته ادامه ورکوي دا به ددی معنی لری چی هغه به هم دمارکسیزم په شان پر ځان خاوری امبارول غواړی .

دافغانستان اتل ملت داټولی قربانی دکمونستی رژیم دنسکوریدو او اسلامی نظام دنافذیدو لپاره ورکړی هغوی خپلی وینی نذرانه کړی دقربانی ډګر ته راوتلی په اسلام یی ننګ وکړ بالاخره یی روسان افغانستان څخه وتلو ته اړ کړل او دنجیب دګوډاګی رژیم دراپرځولو په خاطر یی هلی ځلی لاهم دوام لری ، دافغانانو قربانی تاریخ کی مثال نلری دوی دیوه ابر ځواك دله منځه وړلو ویاړګټلی اویو ځل بیایی داسلام شمله نیغه کړه .

که څه هم چی بی دینه کمونستانو په پټو سترګو په مارکسیزم ایمان راوړ دخپل ژوند ټولی چاری تعلیمات اوسیاست یی دروسانو په مشوره او دستور عیار کړ اودافغانستان شکلی اواسلامی فضا او ماحول یی دلینن او ستالین په ناپاکو او مردارو قوانینوخړپړاو کړکیچن کړ اوږظاهرشاه په ګډون ټولو واکدارانو دروسانو لپاره هلی ځلی وکړی دافغانستان په زرګونو کتابونه ورځپانی جریدی او مجلی یی دکمونیزم نیغ په نیغه ترویج ته وقف کړی خود بربادی اوتباهی پرته څه لاس ته ورنغلل او اوس چی له نړی څخه دکمونیزم جنازه په وتو شوه که

> دافغانستان اتل ملت داټولي قرباني دكمونستي رژيم دنسكوريدو او اسلامي نظام دنافذيدو لپاره وركړي هغوي خپلي وينې نزرانه كړي دقرباني ډګر ته راوتلي په اسلام يي ننګ وكړ بالاخره يي روسان افغانستان څخه وتلو ته اړ كړل او دنجيب دګوډاګي رژيم دراپرځولو په خاطر يي هلي ځلي لاهم دوام لري ، دافغانانو قرباني تاريخ كي مثال نلري دوي ديوه ابر ځواك دله منځه وړلو وياړګټلي اويو ځل بيايي داسلام شمله نيغه كړه

دوی بیاهم دکمونستانو اودروسانو لپاره لاسونه پړقوی دا به ددوی حماقت اوخودکشی وی باید دوی چی نیکونه او پلرونه یی مسلمان تیر شوی خپل ټول ژوند او کړه وړه اسلام ته وقف کړی داسلام دسرلوړی لپاره زیار وباسی داسلام سره مینه وکړی ځکه یواځی اسلام دی چی کولی شی دټولنی ستونزو ته مثبت ځواب ورکړی ، په روس کی داعظیم انقلاب دافغانستان دغیرتی مسلمانواو باشهامته مجاهدینو دعظیمو کارنامو له برکته رامنځ ته شوی اوس ګوروچی هر ایالت دجلاکیدو او ازادی نعری وهی لیتوانا ، لیتویا ، استونیا اوڅو اسلامی ریاستونو خپله ازادی اعلان کړی داټول دافغانستان دجهاد برکت دی هغوی چی ولیدل افغانی مجاهدینودنړی څخه دکمونیزم ټغر ورټول کړ دازادی وینو یی په رګونو کی موجونه ووهل ، دازادی نعره یی پورته کړه اودادی لله الحمد نن موږګورو چی روسیه دهغوی دازادی غږ ته سر ټیټوی اوانشاالله ډیر زر به وی چی هغه روسیه چی پر نیمی نړی یی حکومت کاوه ټوټی ، ټوټی شی .

نویسنده : محمد عالم «ایزد یار»

نقش مسلمانان درتحولات تاریخي و سیاسي هند

نقش مسلمانان هند در انتخابات

بخش دوم

مسلمانان علاوه براینکه درانتخابات سراسری هند نمایندگان خودرا برای مجلس این کشور انتخاب می نمایند با ارأی که در صندوق می اندازند نقش بسیار مهمی درانتخاب نمایندگان دوحزب کانگره وحزب جاناتادال ایفأ نموده اند.

درانتخابات سال (۱۹۸٤)که به پیروزی حزب کانگره انجامید ، تعداد نمایندگان مسلمان در مجلس عوام هند از (٥٤٣) نماینده (۳۹) نفر متشکل از احزاب مختلف بوده است

درانتخابات سال (۱۹۸۹) م که حزب کانگره موفق به کسب اکثریت ارأ نگردید حزب جاناتا دال به رهبری (وی پی سنگ) با ائتلاف سایر احزاب منجمله حزب «بهارتیاجاناتا »روی کار امد ، درین دوره ۳۲ نماینده مسلمان درمجلس عوام حضور پیداکردند .

دانتخابات کنونی هند آنچه که از شواهد امربر میاید ، ان است که به احتمال زیاد اکثر مسلمانان آراخود را باردیگر به صندوق حزب «جاناتادال » ریختند ، هرچند که تعداد قابل ملاحظه ازمسلمانان به حزب کانگره رای دادند.

پس از استقلال هند وتقسیم ان به دوکشور هند وپاکستان تاریخ شاهداین حقیقت است که مسلمانان هند هیچگاه در انتخابات سراسری انکشور از حزب و ازخط ومشی واحد وهماهنگی پیروی نکرده بلکه آنها به داشتن منافع خاص اجتماعی سیاسی واقتصادی به احزاب مختلف رای داده اند .

به همین علت «مولانا سید عبدالله بخاری » امام جمعه مسجد جامع دهلی که یکی از شخصیت های پرنفوذ مذهبی درمیان مسلمانان هند است بتاریخ ۱۳ ثور سال جاری ازمسلمانان هند خواست تا درانتخابات کنونی از حزب جاناتادال برهبری وی پی ، سنگه حمایت نمایند ، واین عمل امام بخاری مورد انتقاد بعضی از رهبرٰان هند مواجه شد ، درواقع سیاست های امام بخاری به تناسب شرایط متفاوت بوده است ، وی درسال ۱۹۷۷ م به خاطر مخالفت باتحمیل وضعیت فوق العاده ونیز طرح عقیم کردن زنان که از سوی حزب کانگره مطرح می شد از حزب جاناتا دال حمایت کرد ، و درانتخابات بعدی مواضع خود را تغییر داد ودرسال ۱۹۸۰ م از حزب کانگره حمایت کرد ودر سال ۱۹۸٤ م نیزپشتیبانی وی از حزب کانگره تکرار شد ، اما درسال ۱۹۸۹ م امام بخاری از حزب جاناتادالُ برهبری «وی پی سنگ »حمایت کرد وباعث کسب ارای وسیع این حزب شد وهمین حمایت درانتخابات کنونی نیز تکرار شده است .

درزمان استقلال هند اکثر مسلمانان وابسته به طبقه متوسط

جامعه به پاکستان مهاجرت کردند وآن دسته از مسلمانانیکه توسط رهبران جماعت علماء هند تشویق به ماندن در هند شدند ، عمدتاً از نظر اجتماعی وتحصیلاتی عقب مانده واز لحاظ اقتصادی ضعیف بودند . در آنزمان تبلغات ضد اسلامی توسط « راشتریاسویام سواك سینگ » دموسوم به آر،اس،اس (R.S.S.) که یك سازمان نظامی بنیادگرای هند و است به همرای دیگزفرقه های متعصب هندو اوج گرفته بود ومسلمانان نگران آینده خود بودند .
دران هنگام تعداد ی از رهبران «جماعت علمای هند » از قبیل مولانا حفظ الرحمن ومولانا ابوالکلام که از حامیان واعضای حزب کانگرم بودند به مسلمانان اطمینان خاطر دادند که درصورت حمایت از نامزدهای حزب کانگره از امنیت اجتماعی ، اقتصادی ، ومذهبی برخوردار خواهند شد .
شرکت مسلمانان درانتخابات اولی هند وتاثیر مثبت آن برنتیجه انتخابات باعث بوجود آمدن پدید ای بنام « بانك رای مسلمین » دربین سیاستمداران هند شد .
احزاب افراطی ومتعصب هندو نیز باتوجه به وضع به وجود آمده وبااغتشام فرصت برای استحکام موقعیت خود شان از پدیده « بانك رای مسلمین » بعنوان خطری برای اکثریت جامعه هند ویادکردند .

درهمین رابطه تعدادی از مورخین هندو نیز بااشاره به دوران پادشاهی مسلمانان وتسلط آنان برسرزمین هند وتحریك احساسات هندوها به استحکام موقعیت این گروه کمك شایانی کردند از جمله « اس ، ای ، دی مورمدار » از نظریه پردازان این طرز تفکر دریکی از اثار خود می نویسد .
« مسلمانان یك جامعه مذهبی متحد می باشند که پیوسته باهندوئزم درتضاداند» اما درعمل مشخص شده است که مسلمانان هند از اتحاد ویك پارچگی لازم برخوردارنیستند ، ودرواقع یکی ازعلل عمده ضعف مسلمانان وانداشتن برنامه کوتاه مدت وخط ومشی درازمدت مناسب درشرایط زمانی مختلف ، همین عدم اتفاق واتحاد ووحدت کلیمه ورای بوده است .

تفکر طبقاتی مسلمانان وآثارسیاسی آن:

زندگی چندین ساله مسلمانان باهندوها بعضی ا ز عادات ،رسوم وقسمتی از مسائل اعتقادی دوطرف به یکدیگر منتقل ساخته است از جمله میتوان این طرزتفکر جامعه مسلمانان هند رامانند هندوها به چهار طبقه « اشراف » یعنی گروهای شیخ سید مغل وغیره « اترا » یعنی کسانیکه از طبقات بالایی هندوها به اسلام گرویده اند

« اذلاب » و« اراذل » به ترتیب طبقات کاسب وکسانی که درکارهای پائین اجتماع مشغول اند رادربرمیگرد.
مسلمانان هند مانند هندوها برای وابستگی های طبقاتی اهمیت قایل اند انگروه از مسلمانان که به طبقات بالا وابسته اند به افراد طبقات پائین به دیده حقارت می نگرند .
همانطور که موضوع طبقه بندی اجتماعی درجامعه هند به صورت یك جز لاینفك اجتماعی درهمه مشئونات درامده است جامعه طبقه بندی شده مسلمانان هند نیز بطور امنیتی باتمام مسایل طبقاتی برخورد می نماید وبه این دلیل است که هنگام رایی دادن نیز این طرز تفکر تعین کننده است بناء حکام هند وکسانی که دررأس احزاب سیاسی هند قرار دارند با درنظر داشت تفکر طبقاتی مسلمانان روش وطرق مختلفی را برای جذب وبدست اوردن اراء مسلمانان براه انداخته اند از جمله میتوان انتخابات سال ۱۹۸۰م را نام برد که منجر به پیروزی حزب کانگرس گردید و« اندراگاندی » رهبران حزب وصدراعظم وقت هند با تغییرات درقانون اساسی موقعیت های خاصی رابرای طبقات خاصی از مسلمانان ایجاد کرد .

مولانا عبدالحق داسلامي امت ځلانده اونه هیریدونکی څیره

عوض الدین «صدیقي»

دژوند هره شیبه دیوه انسان زیږیدل اودبل انسان له دی فانی نړی سترگی پټیدل له ځان سره لری ، هری شیبی کی که زیاتو انسانانو سترگی غړولی ، په زیاتوباندی خاوری هم امبار شوی دزیاترو کړه وړه دنابودی توپان له ځان سره وړی خو شته داسی انسانان هم چی دژوندهره شیبه یی نوروته عبرتونه اودرسونه دی اوکړه وړه یی دتاریخ دویاړمن باب جز گرځیدلی مولانا صاحب عبدالحق هم داسلامی امت دهغو نامتو عالمانو څخه دی ، چی دژوند پل ، پل یی موږ ته دلاری مثال دی ، هغه په ۱۹۱۲ کال کی دصوبه سرحد داکوړه خټك په سیمه کی سترگی غړولی ، وروسته یی خپل دینی تعلیمات سرته رسولی دیوه بارسالته مسلمان په توگه یی اسلام اومسلمانانو ته دخدمت کولوجذبی یون پیل کړی اوغزونی کړی ، په ۱۹٤۷ کال کی یی دمسلمانانو ددینی زده کړی په خاطر په اکوړه خټك کی د«دارالعلوم حقانیه » بنسټ ایښی ، دجهاد اواسلام په لاره کی یی سبه توری چلوونکی اودممبر ښه واعظین روزلی دشهید مولوی فتح الله حقانی الحاج مولانا جلال الدین حقانی اومولوی صاحب نظام الدین حقاني هم په حقانیه دارالعلوم کي دیني زده کړي کړي اومحترم مولوي جلال الدین حقاني یوکال په حقانیه دارلعلوم کي دمدرس دنده هم سرته رسولي، مولانا صاحب عبدالحق په حقانیه دارالعلوم کی دنړی دگوټ گوټ مسلمانانو روزلوتر څنگ خپلی سیاسی هلی ځلی هم نه دی پریښی دجمعیت علما اسلام درهبری دغړی په توگه یی داسلامی حکومت دجوړیدو په خاطر زیاتی منډی رامنډی کړی ، څو ځلی یی دقومی اسمبلی غړیتوب لاس ته راوړی او ددې لاری یی دمحمدی شریعت دنافذولو زیار ایستلی .

الحاج مولانا جلال الدين حقاني دهغه په باب وايي :

«... سره ددي چي مولانا صاحب عبدالحق زما استاد ؤ خو كله به چي زه ورغلم زما په ليدو به يي له لري ځايه رامنډه كړه په ګريدو به شو: بختور ياستي ، دخداي (ج) دوستان يي چي دحق په مورچل كي دجنګيدو وياړ درپه برخه شوي ، تل به يي پر ما ټينګار كاوه ، ماته لارښوونه وكړه دحق په لار ه كي دمبارزي كولو لار راوښيه ...»

مولانا صاحب عبدالحق دجهاد تږی اولیوال ؤ سره ددی چی پری دخزان بادلګیدلی ؤ خو تل به یی هڅه کوله چی دجهاد دمورچل وږمی پری ولګیږی ، الحاج مولانا جلال الدین حقانی دهغه په باب وایی :

«... سره ددی چی مولانا صاحب عبدالحق زما استاد ؤ خو کله به چی زه ورغلم زما په لیدو به یی له لری ځایه رامنډه کړه په ګریدو به شو: بختور یاستی ، دخدای (ج) دوستان یی چی دحق په مورچل کی دجنګیدو ویاړ درپه برخه شوی ، تل به یی پر ما ټینګار کاوه ، ماته لارښوونه وکړه دحق په لار ه کی دمبارزی کولو لار راوښیه ...»

مولانا صاحب عبدالحق زموږ داسلامی انقلاب دبریالیتوب په لاره کی زیاتی منډی رامنډی کړی ، دمجاهدینو ترڅنګ دریدلی په هری برخی کی یی دهغوی مرسته کړی ، په پاکستان کی یی دافغانستان دجهاد دزیاتو دښمنانو ناروا اوبی ځایه پروپاګنداوتبلیغات خنثی کړی اوخلکوته یی دجهاد په سنګر کی دجنګیدو بلنه ورکړی .

مولانا صاحب عبدالحق داسلامی امت دسوکالنی او سرلوړی په خاطر زیاتی هلی ځلی کړی اوبالاخره یی د۱۹۸۸ کال دستمبر په ۷ له دی فانی نړی سترګی پټی کړی او روح یی حقیقی مالك ته وسپارله .

خوکارنامه اوکړه وړه به یی تل ترتله ژوندی اوموږ ته دلاری مشال وی پرویاړونو به یی راتلونکی نسل ویاړی اوداسلام دسرلوړی په لاره کی هلو ځلو ته به یی دعقیدت پیرزوینه وړاندی کوی .

موږ دهغه دشهادت دکالیزی دلمانځلو په ترڅ کی وړته دعقیدت پیرزوینه وړاندی کوو اودلارویو دبریالیتوب اوسوکالی په هیله یی خپلی خبری رانغاړو .

یاد دی ژوندی او جاودان وی

ژباړن : سیدشهریار

دغور اوخپګان تګی

دمحکومو اسلامي جمهوریتونو ازادي اوداسلامي نړی چوپتیا

په روسیه کې چې داګست په ۱۹مه کومه ډرامه پیل شوې وه ، ظاهراً داګست په ۲۱ مه پای ته ورسیده ، ګورباچوف له خپلې دندې څخه ګوښه کړای شوی ؤ ، خوبیرته یې واک ترلاسه کړ ، خوپه حقیقت کې داډرامه پای ته نه ده رسیدلې بلکه دپیلامې لومړی مرحله یې تیره اونوره دوام لري .

دډرامې لومړی برخه یومصنوعي اوغیرفطري انقلاب ؤ چې له ناکامی سره مخامخ شو ، خو دویمه برخه یې دیوه حقیقي اوفطري انقلاب بڼه لري .

داګست په ۲۱ مه خو صرف دومره وشول چې په روسیه کې کمونیزم دخپلو وروستیو سلګیو په بدرګه دمرګ له کومې ورتیر شو .

پـه ډاګـه ده چـې دکـمـونـیـزم دشرمیدلې ماتې څخه وروسته دیوه حقیقي انقلاب پیلامه ضروري اولازمي ده ، نو ځکه داګست د۲۱ می نیټې څخه راوروسته دانقلاب څپوموجونه پیل کړل اودکمونستي استعماري ماڼیو په نړیدو لاس پورې شو .

دډرامې په لومړی برخه کې خو یواځې کمونیزم دمرګ له کومی ورتیر شو خو دډرامی په دویمه برخه کې تردوه کاله وړاندې پورې دنړی دزبرځواك په نوم پیژندل شوې استعمار توټه ، ټوټه کیږي .

دغـه اسـتـعـمـاري قـوت د۱۵ ریاستونو څخه جوړ شوې ؤ چې دشوروي اتحاد په نامه یادیدو اوس ددوي له جملې ځنی لسو ریاستونو دخپلو ازادیو له اعلانو سره سره دخپلو بیلو بیلو پارلمانونو منظوری هم ترلاسه کړي .

دکمونیزم دناولی پنجې څخه یونیم دوه کاله وړاندې پولینډ ، جرمني چکوسلواکیا رومانیه او ځنی نور

تړل شوي هیوادونه ازاد شوي ؤ ، اونن دروسیې محکومو ریاستونو دازادی اخستلو غږ اوچت کړې په روسیه کې اوس څه کیږي اوڅه لیدل کیږي ؟ داپوښتنه خامخادپاملرنې اوڅیړنې وړده چې څنګه دغه امـپـراطـوري لـه دومـره ذلالـت اوشرمیدلې ماتې سره مخامخ شوه . لږ فکر وکړی دروسیې دغه ټوټه ټوټه کیدل دتیري اویا کوم پوځي یرغل نتیجه نه ده بلکه ددوي پرچې او ټوټې نن ددوي په سینه کې دخپلو پیل شویو چاودنو له لاسه الوځی . دادهغو محکومو او زبیښل شویو ملتونو دازادی چاودنې دي کوم چې روسي تزاریانواو روسي کمونستانو دیوې پیړی په موده کې دوړی په ځیر خوړلي اوهضم کړي ؤ په حقیقت کې دغه ملتونه کومه ورسـتـه توټه نـه وه چې دومـره په اسـانـه دې، ددوي جـز وګـرځـي

اودنړۍ دتاریخ څخه دې یې نوم وغورزیږي ، ځکه نن دکمونیزم داستعماري پنچې دماتیدو سره سم هر تړل شوي ملت دخپلې ازادۍ او دخپل رپانده توغ سره دنړۍ پرمخ راڅرګندیږي اودطوفان ګردونه او دوړې چې کښینې هر څه به نور هم په ډاګه شي ،دنړۍ په نقشه کې چې چیرته داوږدې مودې راهیسې یو هیواد لیدل کیدو هلته به بې شمیره هیوادونه ولیدل شي ځکه روسیه کوم فطري اوسیاسي قوت نه بلکې په زور او زیاتي سره جوړشوي استعماري colonial empire سلطنت ؤ چې دمحکومو ملتونو دزبیښاك دنده یې په غاړه درلوده ، موږ دلته دروسي استعمار دنورو اړخونو په باب له خبرو څخه صرف نظر کوو او صرف دومره معلومول غواړو چې د۱۵ ریاستونو څخه شپږریاستونه اذربایجان ، ازبکستان ، قزاقستان ، کرغزستان تاجکستان اوترکمنستان هغه اسلامي سیمې وې دکومو چې ازاد حیثیت دتاریخ په پاڼو کې لیکل شوي ؤ ځکه نن ددغو اسلامي ریاستونو له جملې څخه اذربایجان ، ازبکستان ، اوکرغزستان دخپلو ازادیو اعلانونه وکړل اوتاجکستان قزاقستان اوترکمنستان دازادۍ اخستو په درشل کې دي چې انشاالله ډیر زر به اسلامي نړۍ دازیږې هم واوري .

اذربایجان په ۱۹۲۰ کال کې په روسیه کې شامل کړای شو ، ازبکستان ، بخارا ، سمر قند ، تاشقند ، سرخان درنسك ، فرغانه اوځنې نور کوچنی کوچنی اسلامی ښارونه په بیلابیلو وختو کې دتزاری روسانو منګولو ته ورولویدل .

دثمرقند اوبخارا تاریخي اسلاي ښارونه تزاریانو په ۱۸٦۸ کال کې خپل ملکیت وګرځول او وروسې په ۱۹۲٤ م کال کی کمونستانو داسلامی خاورو ځنې نورې برخې لکه تاشقند ، سرخان درنسك او فرغانه سره یو ځاې کړل او دازبکستان دریاست په نوم یې ونومول ، چې وروسته یې په کراره کراره دروسي استعماري سلطنت یوه برخه وګرځوله .

د۱۷۳۰ نه تر ۱۸۱۹ م کال پورې تزاریانو دمسلمانانو څخه زیاتې برخې ونیولې ، لومړې یې داسیمې روسي ترکستان پورې وتړلې اوبیا داکتوبر دکمونستی انقلاب څخه وروسته په ۱۹۲۰ م کې یې دروسیی ترکستان څخه جلا او دروسی فیدراسیون جز وګرځولې ، په ۱۹۳٦ کې یې دغو سیموته دقزاقستان دریاست درجه ورکړه او دروسیي یو ریاست یې وګرځاوه .

کرغزستان هم کوم چې دهندوستان دمغلو دسلطنت دلومړی بادشاه ظهیر الدین بابر پلرنې وطن «اوش» هم پکې شامل دې دتزاریانو په پنجه کې راغې او په ۱۹۳٦ کې یې دروسیي دپنځلسو ریاستونو څخه یو ریاست وګرځاوه.

تاجکستان اصلاً دبخارا اوترکستان داسلامي امارت یوه برخه وه چې ترنیولو وروسته یې د۱۹۲۹ کال ددسمبر په پنځمه دروسي امپراطورۍ برخه وکرځوله.

تزاریانو په ترکمنستان باندې هم د۱۸٦۹ – ۱۸۸۵ کالونو په منځ کې قبضه وکړه او په ۱۹۲۵ کې یې دروسي استعمار ملکیت وګرځولو .

ددغو لنډو اومختصرو معلوماتو څخه په ډاګه کیږي چې تړپرونه پورې دروسیي زبر ځواك په حقیقت کې هغه استعماري سلطنت ؤکوم چې دکمونیزم دخیالی جنت دښودلو په نوم دنړۍ پر مخ پاتې شوې ؤ ددغې استعماري سلطنت پراختیا هم داتلسمې اونولسمې پیړیو په اوږدو کې په همغه ترتیب وشوه څنګه چې دنورو اروپایی استعماري امپراطوریو (colonial empires) شوي وه.

اروپایی استعماري قوتونه خو پخپل خپل وخت زوال ته ورسیدل اودخپلو مستعمرو خوشې کولو ته اړشول خو صرف دغه روسي امپراطوري هغه وروستی استعماري (colonial empires) سلطنت دې دچا دپنجو څخه چې نن دمحکومو ولسونو دخلاصون وخت راغلې دې .

داروپا په سینه کې یو استعماري قوت برتانیه وه دچا په مقابل کې چې په لومړي ځل امریکا وجنګیده

پدغه جنگ کې دبریتانیي دماتې خوړوڅخه وروسته په امریکا کې دبریتانیي د۱۳ مستعمرو په شمول دامریکا متحده ایالات منځ ته راغلل بریتانیي په امریکا کې دماتی خوړو څخه درس اوعبرت واخیست اودکینډا ، استرلیا ، اونیوزي لنډ څخه یې هم خپله استعماري لمن پورته کړه لدی څخه وروسته هندوستان اوپه اسیا کې ځنو نورو محکومو ولسونو هم دازادۍ حق ترلاسه کړ.

دویم استعماري قوت (پرتگال) ؤ دچادغلامۍ څخه دازادیولپاره چې دجنوبي امریکی ، افریقې (انگولااو موزنبیق) او اندونیشیا ترمنځه خونړۍ نښتی وشوې.

دریم استعماري قوت هسپانیا ؤچې په اسیاکې دهسپانیا یوه مستعمره فلپاین هم وه چې وروسته پڼې بیا امریکا خیټه واچوله په ظاهره خو فلپاین هم ددویم نړیوال جنگ څخه وروسته دامریکانه خپله ازادي واخیسته خو ترننه پورې دامریکا داستعمار څخه په پوره توگه نه دي خلاص شوي .

څلورم استعماري قوت جرمني ؤ خو په لومړي نړیوال جنگ کې دماتې خوړو څخه وروسته دده د مستعمرو څخه دافریقا (تانیگا) سیمه، جنوب لویدیځ افریقا څخه دنامیبیا سیمه شمالي استرلیا او ځیني نورې برخې دبرتانیی استعماري غیږی ته ورغلې .

داروپا پنځم استعماري قوت فرانسه و،دکوم سره چې ویتنام دازادۍ لپاره خونړۍ جنگ په سرواخیست او په (دین پوس)کی یې فرانسه له شرمیدلې ماتې سره مخا مخ کړه او په همدې ترتیب ورسره خونړۍ نښتې په الجزایر کې هم وشوې .

شپږم استعماري قوت (هالینډ) ؤ دچا په مقابل کې چې اندونیشیا دازادۍ دترلاسه کولو لپاره په پوره میړانه وجنگیده او خپله ازادي یې ترلاسه کړه دغه ټول استعماري ځواکونه دیوې پیړۍ په موده کې بیرته خپلو ځالوته ستانه شول او خپلې مستعمرې یې له لاسه ورکړې په اسیاکې جاپان هم خپلو مستعمرو کوریا ، تائیوان ، او منچوریا ته په دوهم نړیوال جنگ کې له ماتې خوړ لو څخه وروسته ازادي ورکړه . البته داتلسمې او نولسمې پیړۍ په اوږدو کې یو لوی استعماري قوت «تزاری روسیي » دبی وسو ملتونو وینې وڅښلې او دواکمنۍ وحشي دوره یې تیره کړه خو د۱۹۱۷ کال دکمونستی انقلاب په راتگ سره دتزاریانو دوره پاې ته ورسیده اودتزاریانو په لاسوجوړ شوې استعماري سلطنت دکمونیزم په غلاف کی ونغښت چې لاتراوسه پورې پکې نغښتی دي .

ددغه ناولې نظریي دنظام په وحشي پنجه کې نښتي محکوم ولسونه دشلمې پیړۍ په اوږدو کې هم دازادۍ له هغه خوند څخه محروم ؤکوم چې دنورو استعمار چپانو څخه ازادو شویو پرگنو ته په برخه ؤخو دشلمې پیړۍ په وروستیو کې دکمونیزم توره ټوټې ټوټې شوه ، دروسي استعمار دوحشي زندانونو وراسته دیوالونه ونړیدل اودپیړیو څخه زنداني ولسونه دروسي استعمار څخه ازاد او دخپلې ازادۍ درپانده بیرغونو سره یو ځاې دنړۍ پرمخ راښکاره شول اولا راښکاره کیږي .

داولسمې او اتلسمې پیړۍ موده خو دغربیانو لپاره پیره گټوره وه

یلتسین مظاهره چیانوته وینا کوي

ولې دادانسانيت په ضمير توردا غ ؤ اودمظلومو پرګنو لپاره ستونزورې شپې ورځې وې .

خو شلمه پيړۍ ديونوي جوړښت او طاقت پيړۍ وګرځيده ددغې پيړې په تېر کې دزورورو او کمزوريو تر منځ سختې معرکې اونه ستړې کيدونکې مبارزې پيل شوې ددغو مبارزو او هلو ځلو زيږنده په دريمه نړۍ کې دازادۍ هغه تحريکونه دي دکومو دمبارزې اومقاومت له امله چې نن استعماري مانۍ په ويرانو بدليږي .

دحيرانتيا خبره خو داده چې دزبيښناکي نظامو څخه دازادۍ اوغلامۍ دخلاصيدو وياړوچ په وچه کمونستانو ته منسوب کيږي.ولې ايا دغه زبيښناکي نظامي نظام هم چاته ازادي ورکولای شي؟

دافغانانو دمقاومت اوميړانې له برکته دوحشت اوبربريت کمونستي لړ دوه ټوټې شو اوپه نړۍ کې يو داسې روښانه لړ راوخت دکوم په رڼا کې چې نړيوالو په خپلو سترګو دکمونيزم ړوبيدل وليدل شلمه پيړۍ دلړ په سپينو وړانګو روښانه شوه ځکه دهمدغې پيړې په اوږدو کې ترل شوې ملتونه دخپل حق غوښتنې ته وهڅيدل اودهغه نظام دجړړو په ايستلو يې پيل وکړ دکوم دباطلو نظريو په واسطه چې دفرد په لاس دفرد زبيښناك اووينې څښل کيدې اوانشاالله ډير زر به نوره هم دغه مبارزه قوي شي ، دنړۍ دګوټ ګوټ څخه به دکمونيزم دباطلو نظريو جرړې ووځي ، اوس نو دملګرو ملتو عمومي منشي او ځني نور سياستمداران پدې هڅه کې دي اوکوښښ کوي چې دروس دغه فطري ګروهې په مصنوعي کوښښونو ارامه کړي ځکه ددوي په فکر دروس دغه ګوډيدل يوه داسې حادثه ده چې په نړۍ کې به دطاقت توازن ګډوډ کړي اوګرده نړۍ به دبحران په منګولو کې ونښلي!!

خو اسلامي نړې ته دروسي استعمار دماتې او ټوټه کيدو په عواملو غور پکار دي. چې ايا موږ ته صرف دروسي استعمار ماته اوداسلامي خاورو خوندي کيدل پکار دي اوکه نه په روانو حالاتو اودمسلما نانو دراتلونکي لپاره هم لاره سنجول پکار دي. اسلامي امت بايد داخبره په فکر کې ونيسي چې دروسي استعمار له ماتې څخه وروسته دهغه ځای مسلمانان څنګه سلامت وساتل شي په شوروي اتحاد کې دشاملو شپږو اسلامي رياستونو مساحت ٤١ لکه ٣٢ زره ، ٨١٣ کيلو متره مربع دي چې پکې څلورپاکستانه جوړيدې شي اوددغو شپږو واړو رياستونو نفوذ هم دپاکستان څخه کم نه دي دغه اسلامي رياستونه دمعدني ، زرعي، فني او تکنيکي ترقې له وسايلو څخه مالا مال دي ددوي سره دازاد بازاراو تجارت اسلامي نړۍ ته يو ځانګړې اقتصادي قوت ورپه برخه کولې شي نو ځکه ددغو اسلامي رياستونو ملګرتيا اوملاتړ دګرنو اسلامي هيوادو اجتماعي مسوليت دی، که موږ په غور سره وګورو نو اروپا اوغربيان دروسي استعمار له پنجو څخه دخلاصوشويو عيسوي رياستونو دګټو دتحفظ لپاره څومره هلې ځلې کوي دغه تکې ډير په زړه پورې اوډپاملرنې وړدې چې دبالټيك رياستونه لتوانيا ، لتويا ، او استونيا په څومره چابکۍ سره غربيان په رسميت پيژني ، اودادربايجان ،کرغزستان ، اوقزاقستان په رسميت پيژندو کې دڅومره ځنډ او ځنډ څخه کار اخلي ايا دادربايجان ،کرغزستان او قزاقستان مسلمانان دبالټيك درياستونو دعيسويانو څخه دټيټې پايې بشري حقوق لري که څنګه ؟

يوه غربي اواروپايي هيواد هم تراوسه پورې ددغو نوو ازادو شويو اسلامي رياستونو ازاد حيثيت په رسميت ندې پيژندلې دغربي او اروپايي نړۍ دغه غيرعادلانه سلوك دمسلمانانو لپاره دعبرت درس دي اسلامي هيوادونو ته لازمه ده چې بې دکوم ځنډ او ځنډ څخه دغه اسلامي هيوادونه په رسميت وپيژني اودبالټيك رياستونه تر هغې پورې په رسميت ونه پيژني ترڅو پورې چې غربي اوعيسوي هيوادونو ددغو اسلامي رياستونو په رسميت دپيژندو لړۍ نه وي پيل کړې دا سی نشي چې اسلامي نړۍ دبالټيك رياستونه په رسميت وپيژني

اوغربیان دانربایجان کرغزستان اوقزاقستان دازادی په رسمیت پیژندلو کې چوپه خوله ناست وي .

پدې حساس وخت کې داسلامي هیوادونو په بهرنی پالیسی کې یو والې اوجوړښت دټول عالم اسلام لپاره ضروري اوګټور دې .

هو : اسلامي هیوادونو ته دومره هم ندي کافي چې دروسي استعمار څخه دخلاصوشویو اسلامي ریاستونو ازادي په رسمیت وپیژني اوبس .

بلکه اسلامي نړی باید په هراړخ کې دنوموړو اسلامي ریاستونو ملګرتیا اوملاتړته په ړاګه ودریږي څکه دغه اسلامي هیوادونه به تر یوه وخته پورې دروسي استعمار ګرانو دښکیلاك اوزبیښناك له امله له سختوستونزو سره مخامخ وي له همدې ورځې راهیسی اسلامي نړی مسولیت لري چې نوي ازاد شوي ریاستونه دومره ستونزورو حالاتو ته پرې نږدي چې ځان په ازادی کې یواځې او بې اسرې وګڼي اوبیرته دشوروي اتحاد کوم جمهوریت ته دمرستو لپاره لاس وغزوي ،ایران ، افغانستان او ترکیه ددوی دستونزو او اجتماعي مشکلاتو څخه په پوره ډول خبریدې شي اودټول شویو پولو په واسطه ددوي اقتصادي اوتجارتي روابط له ګردې اسلامي نړی سره ترلې اوپیاوړي کولې شي دغه اسلامی ریاستونه دمسلمانانو لپاره کوم بار نه دي بلکه دمسلمانانو سره دتبادلې لپاره ورسره ډیرڅه شته دنړی پرمخ اوس هم دوي له ډیرو اسلامي هیوادو څخه سرمایه دار اودلوړی سطحې خاوندان دي .

اسلامي نړی باید دروسي استعمار څخه ددوي په خلاصون جشنونه ونماځي اوددوي سره دپیژندګلوی لپاره په ښار ښار کې سمینارونه دایر کړي ددوي سره تجارتي اوفرهنګي اړیکي ټینګي کړي اوهمدغه لار نیول دټولو مسلمانانو لپاره په ګټه تماميږي ځکه دغه ریاستونه دمسلمانانو ځان او قوت دي مسلمانان باید هلی ځلی وکړي چې دوي بې له کوم ځنډه دنړیوالو تنظیمونو ادارو اوورسره دملګرو ملتو غړي وګرځول شي اسلامي نړی باید بیداره واوسي چې ددغو ریاستونو په ځمکه پراته د روسي نظامي وسایل همدوي ته پاتې شي .

په راروانو وختو کې هم ددغو ریاستونو دګټو ساتنی لپاره سفارتي کوښښونه لازم اوضروري دي که چیرې دمنځنی اسیا دغه اسلامي ریاستونه په پښو ودرول شي دهندي استبداد هغه رعب او دبدبه به هم کومه چې دروسانو دملګرتیا په زور یې پیدا کړې وه خاورې ایرې شي دروس دغه ستونزورحالات هرومرو په هند بدې اغیزې کوي که دروسانو لخوا پرې دپوځی مرستو راخوشې شوې ویالې بیخي بندې نشي نو محدودې خو به ضرور شي ، دروسي استعماري مانیو نړیدل هرومرو په هند کې دازادي غوښتونکو ولسونو لپاره ګټور ثابتیږي ، چې ډیر زر به دهندي استبداد مانی ونړوي .

ددوهم نړیوال جنګ څخه راپدې خواچې نړیوال دکومو دوو زبرځواکونو دکشمکش او استعماري نظامونو ددام په لومو کې نښتي و،

دلوشنبی دښار اوسیدونکو دمظاهری یوه څنډه

دهغوي څخه به خلاصي ومومي ددريمې نړۍ پرګنې به هم دکرنيل ميڅيستو ، قذافي ، صدام حسين ، جمال ناصر ، اوکاسترو په څير ديکتاتورانو ، مغرضينو اوتش په نامه انقلابيانو دهغه چال بازيو څخه نجات ومومي کومې يې چې دروسي سره انقلاب دپرمختګ لپاره پيل کړي وي ، اوپرته لدې به دريمه نړۍ د مارکوس اريا مهر ، شافاروق اوځنې نورو امريکايي تالي څټو او درويزه ګرو څخه هم خلاصي ومومي ، دکومو

نن سبا په نړۍ کې دروسي تالي څټو لخوا دا اوازې زمزمه کيږي چې دروسي زبر ځواک په نه موجوديت کې به نړۍ له سختو مشکلاتو سره مخامخ شي ځکه چې ديوه زبر ځواک (روس) له ورکيدووروسته به ددوهم زبرځواک د(امريکا) قوت دوه چنده شي

سرمايداري زبيښاکي نظام چې دنړۍ دبې وسو پرګنو لپاره عذاب ګرځيدلې ؤ ، دروسي استعمار ترماتې خوړووروسته ددوو زبرځواکونو په منځ کې دروان زبيښاکي نظام ځای به هرو مرو يو بل نوي نظام ونيسي اوپدغه نوي نظام کې به دهر ولس هغومره برخه وي څومره چې دخپلو کټو دساتنې لپاره بيدار اوفعال واوسي.

دامريکا نوي نړيوال نظام کوم چې داسلامي پرګنو دويني څښلو په تکل کې دې هم ونه شي کړای چې اولالعزم ملتونه وزبيښي اوله ستوني يې تير کړي .

نن سبا په نړۍ کې دروسي تالي څټو لخوا دا اوازې زمزمه کيږي چې دروسي زبر ځواک په نه موجوديت کې به نړۍ له سختو مشکلاتو سره مخامخ شي ځکه چې ديوه زبر ځواک (روس) له ورکيدووروسته به ددوهم زبرځواک د(امريکا) قوت دوه چنده شي اودامريکا نوي نړيوال نظام به دمظلومو اوبې وسو پرګنو لپاره دسرډرډ وګرځي خو ددغه دليل وړاندې کوونکي له حقيقت څخه سترګې پټوي اودومره فکر نکوي چې اوس به دامريکا استعمار دهر اړخه دګذارونو لاندې راشي دنړۍ دولسونو تر منځ به خپل منځي اختلافات ختم شي اوټول به په ګډه سره دامريکا دسرمايه داري نظام مقابلې ته راووځي هغه ملتونه چې دروسي استعمار له ويرې دامريکايي استعمار غيږې ته په ورتلو مجبور شوي وُ له دغې مجبوريت څخه خلاص شي اوخامخا به دامريکاپه مقابل کې دمقاومت سنګر تود کړي بيا به دغه دنړيوالو پرګنو اتحادي قوت تاثير هم دامريکا استعماري قوت له منځه يوسي اوپه نړۍ کې به دورور ګلوۍ فضا قايمه شي ځنګه چې نن دکمونيزم زبيښاکي نظام ته په مسکو کې دخلاصون لار نه پيدا کيږي په همدې ترتيب به سرمايه داري نظام ته هم په راروان سبا کې په واشنګټن کې دخلاصون ځای نه وي دکمونستي نظام له ماتې څخه هرومرو اسلامي نړۍ ته له حده زياتې ګټې رسيږي ځکه دروس او امريکا په ګډه پيدا کړيو سياسي کشمکشونو اونظرياتي ګډوډيو دمسلمانانو فکرونه او نظرونه خپلې خواته جلب کړي او تر اغيزو لاندې يې راوستي ؤ ، دمسلمانانو نه يو کيدنه دهمدغو کشمکشونو زيږنده وه چې اسلامي نړۍ يې په دوو برخو ويشلې وه اوس به دغه زهرجنه فضا له منځه ځي او دمسلمانانو په منځ کې نظرياتي اختلافات به داور په لمبو سوځي اويو ځل بيا به دحق اوباطل ترمنځ دپخوانيو تاريخي کشمکشونو اومعرکو په څير نوي کشمکشونه اومعرکې پيل کيږي خو داځل به دغه دلوارو خواوو تر منځ دعقايدو اونظريو جنګ په يوه بيله سياسي اونظرياتي بڼه کې وي اوس به دمسلمانان اوعيسوي پر ځای دبنيادګرو اوديموکراسي دتش په نامه پلويانو په نومونو کشمکش رامنځ ته کيږي نوسرله وخته اسلامي نړۍ ته دقوي اومضبوط سنګرنيونه لازمي اوضروري خبره ده .

سيدعبدالمنان

نړۍ او د امریکا استعماري سیاست

کفری طاقتونوتل هڅه کړی چی دنړی پرمخ کمزوری ملتونه وزبیښی وینی یی وچښی گټی او وسایل یی ترخپل کنترول لاندی راولی او په نړی کی خپله واکمنی برقراره وساتی دهمدغه پلان له مخی دروانی پیړی په اوږدوکی متعصبو او نسل پرستو دولتونو امریکا او بریتانیی داسرائیلو په واسطه ددریمی نړی کمزوری ملتونه سڼه وزبیښل په جنوبی افریقاکی دسپین پوستو او په فلسطین کی داسرائیلو دابادولو او واکمنولو لپاره امریکی او برتانیی په گډه سره یوه اوږده مبارزه وکړه دامبارزه فقط ددی لپاره وه چی دجنوبی افریقا دسروزرو په کانونو او فلزاتو او داسرائیلو یعنی دفلسطین له لاری په منځنی ختیځ کی دتیلو په کوهیانو خیته واچوی همدغه وجه ده چی امریکایی مطبوعاتو تیل (بلیك گولد) یعنی تورزربللی دی دسروزرو دکانونو دنیونی لپاره غربی طاقتونه دتیری شوی پیړی په اوږدوکی جنوبی او مشرقی افریقا ته ورسیدل افریقایی قبائلو دغربی طاقتونو په مقابل کی یوه نه ستړی کیدونکی مبارزه پیل کړه خو دروانی پیړی په سرکی غربیان دخپل شوم پلان له مخی دافریقا په زیاتر و هیوادوکی دخپلو گوډاگیو دولتونو په کینولو بریالی شول:

لومړی یی دبرتانیی ،امریکی او نورو اروپایی هیوادو سپین پوستی او یهودیان په جنوبی افریقا کی په لویه پیمانه آباد کړل په دغه سیمه کی دسپین پوستو ابادولو دوه مقاصد درلودل :

لومړی داچی دغلته دسروزرو دکان کنستلو په صنعت خپل کنترول راوستل شی .

دویم مقصد داوچی په غربی هیوادوکی دبی روزگاري مسئله تریوه څه حده راکمه شی .

همدغه وجه ؤ چی غربی طاقتونو دروانی پیړی په پیل کی په جنوبی افریقا کی دسپین پوستو یوداسی (جمهوری !!) دولت جوړ کړ چی د تور پوستی نوم هم پکی نه ؤ یعنی دتورو په هیوادکی دبهرنه راغلی خو فیصده سپین واکمنان شول .

دغو سپین پوستو نه صرف دجنوبی افریقا په اقتدار ، گټو او وسایلو منگولی سنخی کړی بلکی ددغی سیمی دتورپوستو سره یی ناوړه چال چلند هم راواخیست دتورپوستو آبادی یی دسپین پوستو د آبادیو څخه لیری کړی د تورپوستو مکتبونه ، روغتونونه او حتی سرکونه یی هم بیل بیل کړل. دسپین پوستودغه ناوړه چال چلند په مقابل کی دمسلمانو مبارزینو ترڅنگ یو تور پوستی مبارز ځوان (یلسین مندیلا) دهمدی پیړی په نیمایی کی دخپل حق دغوښتنو غږ پورته کړ . نوموړي دافریقا استوگن پدی باوری کړل چی دبهر نه راغلی سپین پوستی زمونږ دسروزرو دکانونو څخه راویستونکی

سره او نور معدني مواد غلا کوي چې ددوي دغه ناوړه عمل زموږ دويني څښلو سره برابردې .

ددغو مبارزو له امله په جنوبي افريقاکې امريکا يې او برتانوي کمپينو ته په ملياردونو ميلياردونو تاوان ورواوښت چې دجبران په خاطريې دمنځني ختيځ تيلوته رسيدل يواځينی لارو سنجوله په همدې ترتيب پلان يې جوړ او په پای کې يې پلې کړ امريکا او برتانيی دمنځني ختيځ دتيلو دکوهيانو دترلاسه کولو لپاره له ډير پخوا څخه پلان درلود:

په نړۍ کې دتيلو له ٦٣ فيصدو څخه زياتې ذخيرې دسعودی عرب ، ايران ، عراق ، کويت ، متحده عرب امارات ، قطر ، ليبيا ، نائجيريا ، گبون ، ايکوبدور ، ونزويلا او اندونيزيا سره دي دکمونستي هيوادوسره د تيلو (٢٥) فيصده ذخيرې موجودې دي دامريکا سره (٨) فيصده او د نورو غربي هيوادوسره فقط (٤) فيصده ذخيرې وجود لري .

دتيلو دټولو څخه زياتې ذخيرې په منځني ختيځ کې اسلامي عربي هيوادوکی راوخوتيدې ، دروانې پيړۍ په سرکې چې کله دغه ذخيرې راڅرگندې شوې نوسمدستي امريکا اوبرتانيي دغو ذخيرو ته دوررسيدو خوبونه وليدل دخوبونو دپوره کولو په غرض غربي طاقتونو دعربي هيوادو دښکيلاک اوزبيښناک لپاره ددوي په منځ کې ديوه گوډاگي اواسلام دښمنه دولت دجوړولو په پلان کار پيل کړ ترڅو دغه گوډاگې رياست په نړيواله سطحه ديوه ورانکاري په توگه استعمال کړي اوخپل شوم مقاصد ترلاسه کړي نودغوکفري طاقتونو دفلسطين دسپيڅلی ځمکې دنيوني پلان ترتيب او پلې کړ ، ځکه فلسطين يواځيني هيواد دې چې شمال خواته يې شام لبنان جنوب لورې ته يې مصر اومشرق لورې ته اردن واقع دي خلاصه داچې هرې خواته يې پولې له عربي هيوادو سره نښتې دي .

دفلسطينې قوم تاريخ ډير زوړ اوپخوانې دې ديوه روايت له مخې فلسطين دسام بن نوح (ع) له اولاد څخه ؤ کوم چې دحضرت عيسٰی عليه السلام له پيدايښت څخه تقريباً درې زره کاله وړاندی دغلته اباد ؤ دروم بن سام بن نوح ځلور زامن ؤ چې اليا ، دمشق ، حمصاور ، اوفلسطين نوميدل اليا دبيت المقدس پخوانې نوم دې ، دمشق دشام دمرکز نوم دې حمص دعراق يوښار دې ،اويو همدغه فلسطين چې اوس پرې اسرائيل قابض دي دغه څلور واړه سيمې دڅلوروواړو ورونو په نومونو مسمٰی شوې دي .

حضرت ابراهيم عليه السلام په ٢٢٠٠ قبل الميلاد کې دعراق څخه همدغې فلسطين ته هجرت وکړ او ددغه ځای استوگنو ته يې دتوحيد اودعوت په سپيڅلی کار پيل وکړ چې اوس هم حضرت ابراهيم عليه السلام دفلسطين په يوه ښار (جبرون) کې دفن دي دحضرت ابراهيم (ع) لمسي حضرت يعقوب (ع) ته به يې اسرائيل هم وايه چې اوس يې يهوديان ځان اولاده بولي اوځانته بني اسرائيل وايي دفلسطين پخوانيو استوگنو عربي ژبه ويله خو داسرائيلو ژبه عبراني

دبيت المقدس پرديوال دوه تنه اسرائيلي پوځيان ليدل کيږي

وه دحضرت يعقوب (ع) ديوه زوي
نوم «يهودا» ؤ چې اوس دده په
نسبت اسرائيل ځانته يهوديان هم
وايي .
د٦٣٦ تــه د١٠٩٩ م پـوري پـه
فلسطين كې دهمدغه ځاى
داستوګنو واكمني وه اولدى څخه
وروسته عيسويانو پدغه سيمه قبضه
وكړه خو په ١١٨٥ م كال كې صلاح
الدين ايوبي فلسطين ازاد كړ اوبيا
تر١٩١٧ كاله پورى دغلته
دمسلمانانو دولت اوواكمني وه ،
ددغى ټولى مودې په اوږدو كې
اسرائيلى قوم دخپلو سازشونو
اودسيسو له امله ورځ په ورځ
سپكيدواوله ذلالت سره مخامخ كيدو
په ٦٦٧ م كى يهوديان له حجاز
څخه په ٨٩٠ م كې له شام څخه په
٩٢٠ م كې دپرتګال څخه په ١١١٠
كې له هسپانيا څخه په ١٢٩٠ م كې
له بريتانيې څخه په ١٣٠٦ م كې له
فرانسې څخه په ١٣٧٠ م كې
دبليجم څخه او په ١٣٨٠ م كال
كې له چكوسلواكيا څخه وشړل
شول ، كله چې بيا فرانسې ته
راغلل نوبيا دوباره له فرانسې څخه
په ١٣٩٤ م كال كې وشړل شول په
١٤٤٢ م كې دهالينډ څخه په ١٥٠١
م كې روسانو دايټاليا پلوته تيل
وهل ، په ١٥٤٠ كې دايټاليا نه
دالمان پلوويستل شول اوبيا وروسته
سمدستي المانيانو دخپل هيواد
څخه په ١٥٥١ م كال كې وايستل .
پدغو وختو كې ځيني يهوديان
اسلامي سيمو ته راغلل او ځيني
يې په روسيه كې ابادشول يهوديان
دخپلو توطئو او چالبازيو له امله په
ټوله اروپا كې بدنام ؤ په ١٨ مه
پيړۍ كې دانګلستان كليسا او دهغه
نه پس دامريكا جمهور رئيس
(بنجمن فرنيكلن) خپلو خلكو ته
ديهودو توطئو او چالبازيو نه
دهوښيار اوسيدو تلقين كاوه .
يهوديانو زيار ويسته چې په كومه
سيمه كې مستقله پناه واخلي خو
يوه هيواد هم له ځانه سره ډيره
موده نه ساتل په ١٩٠١ م كې ځينو
برتانوي يهوديانو يو صيهو نيستي
بانك تأسيس كړ چې ددغه بانك له
لارې به يهودوته پيسې وركول
كيدې ترڅو په فلسطين كې
دكركروندې لپاره ځمكې واخلي د
عثمانيې سلطنت دزوال څخه
وروسته برتانيې دخپل پوځي
زورپواسطه يهوديان په فلسطين كې
اباد كړل اودفلسطينيانو څخه يې
ورته په وچ زور ځمكې واخيستې
ددوهم نړيوال جنګ په دوران كې په
زرګونو نوريهوديان له المان څخه په
تيښته فلسطين ته راغلل اوآباد
شول :
په ١٩٤٧ م كال كې امريكې
اوبرتانيې دملګرو ملتو په مرسته
داسرائيلو په بيا منظمولو او
تشكيلولو كې په زړه پورې ونډه
واخيسته په ١٩٤٨م كې اسرائيل
دامريكې او برتانيې په وسلو سمبال
شول او په لكونو فلسطينيان يې په
زور دخپل هيواد څخه مهاجر ت ته
اړكړل او پدې ترتيب امريكې او
برتانيې په منځني ختيځ كې دخپل
ګوډاګي رياست دجوړولو خوب
رښتيا وكړ ځاوه داسرائيلي دولت له
جوړيدو څخه وروسته چې كله هم
عربي هيوادو دغربيانو په مقابل
كې ځان سنبوروليږ دې نو غربيانو
ددوي په مقابل كې سمدستي
اسرائيل استعمال كړيدى خو په
تيرو څو لسيزو كې ځيني عربي

غربيان دخپل شوم پلان له
مخې دافريقا په زياترو
هيوادوكى دخپلو ګوډاګيو
دولتونو په كينولو برياللي شول:
لومړي يې دبرتانيې ،امريكې
او نورو اروپايي هيوادو سپين
پوستي او يهوديان په جنوبي
افريقا كې په لويه پيمانه آباد
كړل په دغه سيمه كې دسپين
پوستو ابادولو دوه مقاصد
درلودل :
لومړى داچې دغلته دسروزرو
دكان كنستلو په صنعت خپل
كنترول راوستل شي .
دويم مقصد داوچې په غربي
هيوادو كې دبې روزګارى
مسئله تر يوه ځه حده راكمه
شي .

په ۱۹٤۷ م کال کې امریکې اوبرتانیې دملګروملتو په مرسته داسرائیلو په بیامنظمولو او تشکیلولو کې په زړه پورې ونډه واخیسته په ۱۹٤۸م کې اسرائیل دامریکې او برتانیې په وسلو سمبال شول او په لکونو فلسطینیان یې په زور دخپل هیواد څخه مهاجر ت ته اړکړل او پدې ترتیب امریکې او برتانیې په منځنۍ ختیځ کې دخپل ګوډاګې ریاست دجوړولو خوب رښتیا وګرځاوه .

دولتونه داسرائیلو په مقابل کې ورځ په ورځ دپوځې لحاظه پیاوړي کیدل نوي دخطراحساس کاوه دعراق زیاتیدونکی اتومي طاقت داسرائیلو لپاره خطر وګرځید.

ځکه امریکا دعراق دپوځې او اتومي قوت دتباه کولو لپاره خپل ترتیب شوي پلانونه په کارواچول:

لومړۍ یې داسرائیلو په واسطه په ۱۹۸۱م کال کې دعراق په اتومي بټیو حمله وکړه او دعراق اتومي پلان یې له منځه یوړ .

وروسته جوخت دامریکا په سازش دایران عراق جنګ پیل شو چې ډیره اوږده موده دواړو خواووته دمسلمان په خونه اوربلیدو ددغه جنګ له بندیدوڅخه سمدستي وروسته امریکادعراق او کویت په منځ کې داور سپرغیو ته لمن ووهله عراق په کویت یرغل وکړ او کویت ځان دامریکا غیږته وروغورځاوه او پدې ترتیب امریکا ته په (توروزور) باندې دمنګولو لګولو لاربرابر ه شوه دا همغه پلان ؤ چې د۱۹۱٥ م کال څخه په کاراچول شوې ؤ په ۱۹۸۱م کال کې ددغه پلان دپلي کولو لپاره دیوې کمیتی په جوړولو کار پیل شوي ؤ په ۱۹۸۹ م کال کې دغه جاسوسي کمیته تأسیس شوه او اوس ددغې کمیتي په لکونو جاسوسان عربي هیوادوته رسیدلي دي دایو نه هیریدونکې حقیقت دی چې کفري طاقتونه تل په ګډه سره دخپلو ناولو پلانونو دعملي کولو لپاره لاس او پښې وهي خو دوي ددغو ناولو پلانونو څخه به ډیر زرد الله تعالیٰ

(ج) په فضل او کرم پرده پورته شي .

په معاصر تاریخ کې دنړۍ په دریو برخوکې دامریکا یانو لاسوهنه په ډاګه ښکاري :

لومړۍ افریقا کې چیرته چې دامریکا نظر دسروزروپه کانونو لګیدلي دې ښه یې ولوټل او اوس یې هم دلوټولو په تکل کې ده :

دوهم منځنۍ ختیځ : چیرې چې امریکا په توروزرو(تیلو) باندې خپل کنترول راوستل غواړي .

او دریمه برخه لاطیني امریکا ده چې دسپینو سروزرو (هیروئینو کوکینو) کارېکې ښه په پرمختګ روان دې ددغه ځای هیوادونه کولمبیا ، پولیویا ، میلسیکو او داسې نور چې دامریکا دښکیلاك او زبیښاك له وجهې له پاڅیدونه وتلي ؤ دغه کارته ګوتې واچولې او اوس دغه زبیښل شوي خلك دنړۍ پرمخ د موخدره موادو لوې لوې قاچاقبران ګرځیدلی دي چې امریکا او نورو غربیانو ته یې دسردرد پیداکړیدې . نو امریکا هم په راروانو وختوکې دغو سیمو ته دپوځې یرغل په تکل کې ده خپل پلانونه یې په عملی توګه یوځلی بیا پلي کړیدي او غواړي چې ددووبرخو طلا (سره زراو تور زر) خپل لاس ته راوړي او دیو ې برخې سپین زر (هیروئین) له منځه یوسي خو دابه راروان وختونه وښایې چې ګټه دچاپه نصیب کیږي ؟

بسم الله الرحمن الرحيم

دپکتیا اوپکتیکا ولایتونو دنظامي شورئ

((اعلامیه))

دگردیز دښار اوسیدونکو صاحب منصبانو ، دولتی مامورینو محاصره اود زور په ذولنوکی ترلوکلیوالو! مورږ داسلام ددین سپاهیان غواړو په لاندی څوټکیو کی په لنډه توګه خپل غږ تاسی ته درورسوو.

دمجاهدو تنظیمونو دعمومي عفوی څخه چی دمخه اعلان شوی ، ګټه واخلی ، هرڅوك چی مجاهدینو ته پناه راوړي عسکروي که صاحب منصب ، ماموروي که کلیوال او اوسیدونکی. ددوي هرڅه به په امن کی وي هر څوك چی بی له جګړی څخه تسلیم شی دهغوی لپاره دمجاهدینو له خوا عفوه اعلان ده اوهغه څوك چی غواړی بی ځایه مقاومت وکړي مجاهدینو ته دتاوان رسولو اووینوتویولوکوشش کوي عاقبت به یی له پښیماني پرته بل څه نه وی . که چیری نور نه پوهیږی نودخوست له ماتی څخه دعبرت درس واخلی چی دمجاهدینو دعفوی څخه یی په وخت باندی فایده وانخسته انجام یی پشیمانی شوه اوبس .

نوپه ډیر تاکید سره وایوو چی له دی طلایی موقع څخه ګټه واخلی اوس چی روسان په مسکوکی دلیتن په کړو وړو لعنت وایی ډیر دافسوس ځای دی چی تاسی دمزدور او ملحد نجیب دزور اوظلم لاندی خپل کوچنیان اوتور سری کړوی اوذلت شپی ورځی تیروی تاسی لااوس هم روسانو مزدور نجیب ته چی دلیتن غلام دی دکامیابی اوښه کیدو امید کوی ؟ په اخر کی وایوو چی پخپلو کوچنیانو تورسریوباندی رحم وکړی نور دافغان مسلمان ملت سره دخیانت اوظلم کولوڅخه لاس واخلی اودخپل ارام ژوند دتیرولو فیصله وکړی .

ومن الله التوفیق

مجاهدین دځلورو خواوو څخه دګردیز پرلور دپرمختګ په حال کې دي

درنو لوستونکو !

دهیواد دجنوبی محاذاتل اونومیالی قوماندان الحاج مولاناجلال الدین حقانی دهیوادپه تودو سنګرونو کی زموږ له خبریال سره پرګردیزدروانو عملیاتو، نیویارك اوماسکو ته مجاهدینو دهیئت دتللواودروسانو دوروستی وړاندیز په باب جلا ،جلا مرکی کړی چی سره لولو یی :

اداره

پوښتنه : محترم حقانی صاحب پرګردیز تعرضی عملیات څه وخت اوڅه وړ پیل اواوس جګړه په کوم حالت کی ده ؟

ځواب :

بسم الله الرحمن الرحیم

څومره چی موږ تحلیل کړی دجګړی وضعه ددرې اوهمدارنګه دغلګی او ستو کندو په طرف لدی کبله چی دایوپخوانی ترانزیتی سرك دی او دښمن دخوست لـه فتحی مخکی دمحاصری دماتولو لپاره دالار ډیره تینګه ساتله ، دوی غوښتل ستو کندو ونیسی چی خوست ته لار پرانیستل شی. دخوست له فتحی وروسته یی هم ډیر کوشش وکړ چی ستو کندو ونیسی ترڅو پر ګردیز مجاهدینو دتوپچی مخه ونیسی که داسی شوی وای مجاهدینونشوای کولی دجنوب په استقامت پر ګردیز عملیات پیل کړی .

له همدی ځایه وه چی موږ له خوست څخه مجاهدین دستو کندو په استقامت سوق کړل او په ستو کندوکی مو خپلی مورچی او مرکزونه ټینګ کړل .

دښمن هم خپل دفاعی خط ددری دمکتب،زاوه اونجیب کلا په استقامت ډیر قوی کړی ؤ ډیر ګربندونه اوقرارګاوی یی جوړی کړی وی او دګلم جم ملیشی یی هم

اچولی وی .
ددوشنبی له ورځی راهیسی چی دمجاهدینو کوم عملیات پیل شول پدی کی مجاهدینو دجنوب ،جنوب شرق او شرقی منطقی ته ښه پر مختګ وکړاو ډیری پوستی او ټانکونه یی ونیول خو دغرب او شمال له طرفه دومره پیشرفت ونه شو ځکه پدغه استقامت ډیر مینونه غوړول شوی ؤ ټانکونو ته هم عوارض پیښ شول او دیادونی وړ پیشرفت ونه شو. په شرقی او شمال شرقی منطقه کی دښمن څو پوستی بیرته ونیولی . پرون ددری په استقامت اونن شپه دبنوزیو تر قرارګاه پوری مجاهدین ورسیدل ددغه استقامت جګی پوستی،ددری مکتب پوستی،دازغنی قرارګاه، دجماعت پوستی ، دحوزی دکنډو دسرپوستی فتحه شوی . اوس یواځی دغو یګری پوستی چی دازغنی شمال ته واقع دی او دبنوزیو دکلی تر څنګ دعجیب کلا په خوا کی ددښمن دتوپچی قرارګاه پاتی ده چی ددی لپاره هم نن مازدیګر دتعرض پروګرام نیول شوی.نن سهار چی مجاهدینو دبنوزیودغر دسر پر پوستو حمله وکړه هغه کامیابه حمله وه دوهم تعرض مازدیګر ته تاخیر شو اوس دمجاهدینو توپچی قوتونه اماده دی اوددری په شاوخوا کی توپچی قوتونه دخوست تر پله پوری ځای په ځای شوی دی .دښمن هیڅ پرمختګ ندی کړی مجاهدینو په فتحه شویو پوستو کی ۳ ټانکونه دوه زرهپوش ،نقلیه وسایط ، شلکا ، دهشکی ، زیکویک اونوری وسلی په غنیمت نیولی دی.

دپرون ورځی له عملیاتونه تر نن پوری ددښمن هیڅ تعرض ندی لیدل شوی توپچی یی هم کمزوری دی یواځی سکډ او اوراګانی یی انداخت کوی خوهغه هم چندان موثر ندی .

اوبایـد ووایـم چـی مجاهدین به ډیر ژر انشاالله دتیری کنډو ونیسی او کیدای شی دشرق اوغرب له طرفه هم ددفاع خط مات کړی .

دجنوب له خوا ددفاع خط مات دی او مجاهدینو دجنوب له اړخه ډیر زیات پر مختګ کړی دی .

محترم حقانی صاحب دګردیز اوسیدونکو پوځی افسرانو او منسوبینو ته په خپل پیغام کی وویل:

موږ ټولو افسرانو، دولتی منسوبینو او ملیشو ته مخکی له مخکی عفوه اعلان کړی. موږ ددوی مرګ ژوبله نه غواړو دوی باید لدی فرصت څخه استفاده وکړی او له مجاهدینوسره یو ځای شی پدی صورت کی ددوی سراو مال په امن دی .

اوکه دوی همداسی دولس پرضد جنګیږی بیا هلته دوی دملت په وړاندی مجرم اومسؤ ل دی اوکه چیری دوی جګړی ته دوام ورکړی په هغه صورت کی حتماً مجاهدین شهیدان کیږی.

بیا به هلته دمجاهدینو داحساساتو کنترولول ګران کار وی

خو موږ بیا هم هڅه کوو لکه په خوست کی مو چی ددوی له اسیرولو وروسته ورته عفوه وکړه دوی عفوه کړو خوهلته به دوی په ټیټو سترګو ژوند تیروی .

په ګرديز کې دمزدور رژيم نيول شوي افراد

ځکه اوس دوی ته دغالب کيدو فکر کول يوحماقت دی او زموږ پوخ باور دی چی ددوی باطل سنګرونه به انشاالله نړيږي اودادوی لپاره يو طلايی چانس دی او مخکی لدی چی په شرميدلی توګه ونيول شی له مجاهدينو سره دی يو ځای شی او دعزت او درناوی ژونددی پيل کړی

***

پوښتنه : يو شمير هيوادونه غواړی دافغانستان مسٔله دسياسی حل له لاری حل کړی ، مجددی صاحب هم دبی ، بی ، سی راديو سره په مرکه کی دغه خبره کړی ، همداراز دمجاهدينو عبوری حکومت يوه هيأت ته يی بلنه ورکړی چی دافغانستان دقضيی دحل په اړه دخبرو اترو لپاره مسکو ته لاړشی . اوريدل کيږی چی دپير صاحب سيد احمد ګيلانی په مشری به يو هيأت روسيی ته ځی پدی هکله ستاسی نظر څه دی؟

ځواب :

محترمه اوله موضوع چی دغه دولتونه غواړی دافغانستان مسٔله د خبرو اترو له لاری حل کړی دادمجاهدينو په عمل کی اودمجاهدينو په جهاد کی اودافغانستان په کورنيو چارو کی لاسوهنه ده موږ دروسانو شړلو اودنجيب دپليد اومزدور رژيم چپه کولو په خاطر ۱٦ لکه شهيدان ، ٦ مليونه مهاجر اوپه زرهاوو کونډی اويتيمان ورکړی دی . تردی وروسته اوس دامريکا او روس يادځينی نورو هيوادونو له خوا دی موضوع ته داسی رنګ ورکول چی نجيب او مجاهدينو تر منځ دخبرو په واسطه دی داموضوع حل شی ، مجرم معلوم نکړي ددی جرم او جنګ مسؤل دنجيب رژيم ونګرځوی ، مساوی اوربند وشی او وسله په دواړو خواو باندی بنده شی ، اوددوی څخه په مساويانه ډول يو موقت حکومت جوړ شی ، دادمجاهدينو ددی شهيدانو وينی خرڅول ، دافغانستان په کورنيو چارو کی ګوتی وهل او مداخله ده ، يوه خو دروسانو پوځی مداخله وه اوس د روسانو په ملګرتيا اودهغوی سره ګډه ددی ټولو دولتونو يوه داسی مداخله ده چی بيرته دروسانو

الحاج حقاني دروسانو وروستی وړانديز رد کړ

محترم حقاني صاحب دګرديز دتودو سنګرونو څخه ديوه بيل راديويي پيام په ترځ کی دافغانستان دمسٔلی دحل په اړه دروس دوروستی وړانديز چی يادی دخالقيار او مجاهدينو مخلوط حکومت جوړ شي اويا دی ظاهرشاه ومنل شي ، په کلکله رد کړی اودايی دافغانانو سره يوه دوکه بللي ده.په پيام کی ويل شوي چی دافغانستان درېږی دحل په اړه دبهرنه تپل شوي هيڅ فيصله به مجاهدينو ته دمنلو وړنه وي .



عکاسی : احمد سینا «احمدی»



دمزدورانو فاسد رژیم په یوه بل
رنگ کی په افغانستان کی پاتی
کړی دخبرو دلاری نه داموضوع په
هغه صورت کی حل کیدای شی
چی دغه دولتونه او ملل متحد چی
پنځه فقره ایز پلان یی وړاندی کړی
دنجیب رژیم ددی جرم مرتکب ،
ددی جنگ مسؤل او یو تپل شوی
گوډاگی حکومت وگرځوی نوبیا که
بندیز لگیږی ، اسلحه قطع کیږی ،
يااقتصادی بندیز لگیږی ، دادنجیب
په رژیم ولگولی شی اوکه
دمجاهدینو نه داور بند غوښتنه
کیږی په هغه حالت کی دی وشی
چی دنجیب رژیم غیر قانونی
وگرځولی شی او وشړل شی
بیابه پرته له غوښتنی اوربند راځی
خو دمجاهدینو جنگ به تر هغی
پوری روان وی چی دنجیب رژیم
چپه شوی نه وی.دروس مداخله چی
مخکی پوځی وه اوس هم
دسلاکارانو او مشاورینو موجودیت
اوهمدارنگه ددوی سفارت چی یوه
عسکری استراتیژیکه قشله ده
چی تراوسه نجیب ته قومانده
ورکوی اوسکډ تراوسه ددوی په
همکاری ویشتل کیږی اوبمباری
ددوی دوسلو اوبمونو اوددوی
دسلاکارانو په واسطه عملی کیږی
نو ترڅو پوری چه دغه غیر مستقیمه
مداخله وی اودنجیب فاسدرژیم ورک
شوی نه وی مجاهدینو باندی
دوسلی قطع کول اوله هغوی نه

داوربند غوښتنه ، ډیره غیر
منصفانه معامله اوغیر منصفانه
فیصله ده . داچی حضرت صاحب
هم ددوی تائید کړی دی چی مسله
دی دجنگ له لاری نه حل کیږی
نوپدی کی دوه خبری دی یوه خبره
داده چی حضرت صاحب په یوه
سیاسی چال کی نښتی دی اوفکر
کوی چی په حقیقی طریقه باندی
داحکومت په انتقالی دوره کی ماته
حواله شی اودابه هلته ماته حواله
کیږی چی زه دامریکایانو اوروسانو
یادغربیانو ددی خلکو په نظر کی
اعتدال پسند،میانه رواو بشر دوست
ښکاره شم . نوپدی سیاسی لوبه
کی یی اسلامی طریقه اولاره پری
ایښی اوپه غیر اسلامی طریقه
باندی روان شوی.دی چی
مجاهدینو ته دابلنه ورکوی چی هغه
قتال اوجهاد چی دخدای اودرسول
(ص)دقانون اوصریحو نصوصو له
مخی پر مجاهدینو باندی فرض دی

او مجاهدین
دافغانستان دعلماؤ
او داسلامی امت دعلماؤ په
اجماع اواتفاق سره دخدای تعالی
اورسول(ص)دقانون مطابق دغه
جنگ ته تر هغه ولاړ دی چی
ترڅو دغه فتنه په افغانستان کی
ورکه شوی نه وی اودی له دی څخه
سترگی پټوی اوددی اسلامی
شئوناتو ، ددی اجماع دمسلمانانو
څخه اوددی صریحه نصوصو نه
ځان باسی اودفریب اودوکی په
چال کی ځان داخلوی . دده په
حال باندی ډیر افسوس دی ځکه
چی دی ځان مسلمان بولی ځان
عالم بولی اوبیا ځان دمجاهدینو
مشر بولی .

دوهمه خبره داده چی حضرت
صاحب هغه دوه ورځی مخکی
مصاحبه کی غوښتنه وکړه چی
مجاهدین دی ښارونه نه خرابوی
اوجنگ دی پریږدی ، په ښارونو دی



دروسانو سره دخبروشرط به همداوي چي دنجيب درژيم هيئت يانماينده هلته وجود ونه لري اودوهم شرط به داوي چي خبرى به په جينوا يا كوم بل درېمګړي هيواد كى كيږي اوچى كله روسانو دمجاهدينو دهيأت سره خبرى كولى نوبايد اعلان وكړي چي دنجيب رژيم سفارت هم له دى وروسته په روسيه كى نشته اوددوى سره يى ټول سياسي معاملات ختم شول اودابه اعلانوي چي دافغانانو اصلي نماينده ګان همدامجاهدين دي نه دنجيب رژيم

انداخت نه کوی اودامسئله دی دخبرو اترو له لاری حل کړی اودملل متحد هغه پنځه فقره ایزه پلان یی تائید کړ خو په دوهمه ورځ یی بیا داخبره وکړه چی داولی ورځی پر ضد وه چی دده داخبری باالکل دخندا او تاسف وړګنل کیږی .
ځنګه چی یو ځوك ځان دمجاهدینومشر بولی ځان مسلمان بولی ، ځان عالم بولی اوداسی متناقضی خبری کوی . دوهمه داچی حضرت صاحب داخبره کوله چی مجاهدینو کامل احضارات نیولی دی خو ددی احضاراتو له نیولوسره سره یی دښمن قانع کولو چی دمفاهمی له لاری تسلیم شی.خودانده معلومه چی دامفاهمه دقوماندانانو له طرفه وه اوکه دسیاسی مشرانو له طرفه. که دقوماندانانو له طرفه وی ، خو هیڅ کله داسی مفاهمه نده شوی چی یو ځل دی احضارات ونیول شی بیا ورته وایی چی تاسی موږ سره خبری وکړی چی بی طرفه حکومت جوړکړو یا تاسی سره ګډ حکومت جوړ کړو ، داخبره خودقوماندانانو له خوا بالکل نده شوی اوکه ددوی له خواشوی وی دوی خوبیا احضارات ندی نیولی دوی خوداحضاراتو مانع وو اوهم ددی خبری په هکله چی پر موږباندی نجیب بریدکړی ، ځینی مرکزونه یی له منځه وړی اوځینی خلك یی شهیدان کړی اومجاهدینو برید ندی کړی .دد ی خبری پر عکس ټولوغربی منابعواودمجاهدینومنابعوداخبره اعلان کړه چی مجاهدینو پدی تاریخ باندی شروع وکړه دډیر وخت راپدیخوا یی احضارات نیولی وو چی دی شورا څخه وروسته یی په ګردیز باندی ددرنووسلو انداخت پیل کړ .البته دانداخت څخه مخکی دمجاهدینو سنګرونه ددښمن له خوا ویشتل کیدل اوبمبارد یی پری کاوه اودمجاهدینو دانداخت له شروع څخه وروسته هم دوی جوابی دتوپونو انداختونه کړی دی خوداسی نده شوی چی مجاهدینو برید ندی شروع کړی اودښمن پرذوی شروع کړی دحضرت صاحب داخبری بالکل ضد ونقیض اودتاسف وړدی اوداچی یوهیأت روسیی ته دعوت شوی اوبیا داسی خبری شوی چی هغوی پیرګیلانی ددی ډلی مشر ګرځولی اوپدی کی یی هلی ځلی شروع کړی دی چی داهیأت مسکوته لاړشی هلته دافغانستان په موضوع دروسانو سره خبری وکړی دمشرانو له خوا ددی هیأت دتلو او منلوفیصله دتاسف وړده اودمجاهدینو دقوماندانانو د طرف نه ، دعلماوو له طرف نه ، دمسلمانانو له طرف نه ، دهغو خلکو له طرف نه چی په شریعت اوپه اسلام باندی پوهیږی ، داهیأت اودامشری ټوله رد شوی داپیغور هیأت دی چی روسانو دافغانستان په لك هاوو مسلمانان شهیدان کړی دی ، په ملیونونو یی مهاجر کړی دی ، ددوی قرآن شریفونه اومذهبی شعایر یی تباه کړی دی زیات شمیر ښځی ، ماشومان اوځوانان ددوی په لاس کوندی یتیمان اومعیوبین شوی دی نواوس که مسکو ته کوم هیأت دمجاهدینو ورځی حتمی ده چی دروسانو هغه ټول ظلمونه تیری اوبی عزتی نادیده نیسی بیابه داهیات نیویارك ته هم ځی ،هلته به هم خپله اجازه اوهدایت ترلاسه

کوی اوبیا به روسیی ته ځی له ځوك
چی پلارته ورځی چی موږ دواړه
نجیب او مجاهدین دیوه پلار بچیان
یو اوپه خپل منځ کی سره بد
شوی یو اوس مو ته سره په خولا
کړه . داډیر ذلیل کاراو ذلیل هیئت
دی اوزه خواهش کوم چی دوی
ددی هیاٌت له لیږلو تیرشی .یو ځل
مخکی هم حضرت صاحب دبوریس
یلتسین دغوښتنی په اساس یو
هیاٌت روسیی ته دتگ لپاره تیار
کړیوو بیادسرتاسری شورا
دقوماندانانویو وفد حضرت صاحب
ته ورغی چی زه پکی شامل وم
اوله ده مو داخواهش وکړ چی پدی
خبره باندی موږ خپه کیږو اوحتیٰ
داموږیل چی که ته داهیاٌت لیږی
نو موږ به تا سلب اعتماد کړو ، نو
هغه داهیاٌت منع کړ اواوس چی
افغانان داهیاٌت لیږی ، پداسی
حال کی چی هلته دکابل رژیم یو
هیاٌت هم دخالقیار په مشری تللی ،
نو دابه دامعنیٰ ولری چی دوی
دواړه په گډه دروس په وړاندی
کښینی او روسان دواړو ته هدایت
کوی اوپه خولا کوی یی ،
په دی خاطر داهیئت ناروااونه
یی منوو.که چیری افغانان بیا هم
غواړی دروسانو سره دافغانستان
په مسئله مخامخ خبری وکړی او
روسان پدی قانع کړی چی دنجیب
رژیم نه لاس واخلی زماپه نظر
خودغه غلطه خبره ده ځکه
روسانو اوس په خپله دلیږن مجسمی
راوغورځولی کمونیزم یی غیر
رسمی اعلان کړ ، لوږه پکی
زیاته ده کچکول گرځوی ، په سوال
باندی خوراك پیداکوی ،
جمهوریتونه ټول ازاد شول ،
دمنځنی اسیا اسلامی جمهوریتونو
خپله ازادی اعلان کړه له ۱۵
جمهوریتونوڅخه دوولسوخپله
ازادی اعلان کړی ده په داسی
شرایطو کی په افغانستان کی
دنجیب دکمونست رژیم پالنه بالکل
مجال کار ښکاره کیږی . نواوس
دوی ته ورتلل اودوی ته درخواست
کول ، چی دنجیب درژیم پالنه مه
کوی ، دایوه فاسده هیله ده . که
بیا هم افغانان غواړی له روسانو
سره پدی هکله خبری وکړی نو بیا
باید خبری په یوه
دریمگړی هیواد کی
وشی اوهلته باید دنجیب درژیم
کوم هیاٌت موجود نه وی اودروسانو
سره دخبرو شرط هم داوی چی
دنجیب درژیم هیات یانماینده باید
هلته وجود ونلری اودوهم شرط به
داوی چی خبری به په جینوایا کوم
بل دریمگړی هیواد کی کیږی
اوکله چی روسان دمجاهدینو دهیاٌت
سره خبری کولی نوباید اعلان
وکړی چی دنجیب رژیم سفارت هم
لدی وروسته په روسیه کی نشته
اودوی سره یی ټول سیاسی
معاملات ختم شول اودا به
اعلانوی چی دافغانانو اصلی
نماینده گان همدا مجاهدین دی نه
دنجیب رژیم . پدی شرط بیاکیدای
شی افغانان دروسانو سره خبری
وکړی .

گردیز دآزادی په لور
گردیز دآزادی په لور
گردیز دآزادی په لور
گردیز دآزادی په لور
گردیز دآزادی په لور
گردیز دآزادی په لور
گردیز دآزادی په لور
گردیز دآزادی په لور
گردیز دآزادی په لور
گردیز دآزادی په لور
گردیز دآزادی په لور
گردیز دآزادی په لور
گردیز دآزادی په لور
گردیز دآزادی په لور
گردیز دآزادی په لور
گردیز دآزادی په لور
گردیز دآزادی په لور
گردیز دآزادی په لور
گردیز دآزادی په لور
گردیز دآزادی په لور
گردیز دآزادی په لور
گردیز دآزادی په لور
گردیز دآزادی په لور
گردیز دآزادی په لور

گردیز دآزادی په لور

دگردیز دروانو عملیاتو په زړه پوری ریوټ

جنرال رحمت الله «صافی» نظامی سلاکار

دخوست دستری فتحی نه پس کله چی دمجاهدینو دقوماندانانو شوری دگردیز دعملیاتو احضارات شروع کړل په سیاسی حالاتوکی بدلون راغی .

امریکایانو دروسانوسره موافقه وکړه چی په مجاهدینو به وسلی بندیږی دامریکایانو اودروسانو بی حده نژدیوالی یو بل تشویش هم راپیدا کړ.

دبلی خوا دنجیب سازشونو دمجاهدینو تر منځه نظریاتی جداوالی لاډیر اوتقویه کړ په ملل متحدکی هم دصلحی ناری تودی شوی .

دمهاجرینواو مجاهدینو په منځ کی پروپاگند شدت پیدا کړاوداسی آوازی خپری شوی چی نجیب دمنځه ځی اوقدرت به مجاهدینو ته سپارل کیږی نور نو جهاد ته ضرورت نشته .

خودمجاهدینو قوماندانان چی ددرك اودرد خاوندان دی اسلامی اوافغانی احساس لری دافغان مسلمان ولس ددرد اوغم شریکان دی عمومی اوضاع یی تر مراقبت اوڅیړنی لاندی نیولی وه کله چی دمجاهدینو دهیاتو دسفرونو انگازی خپری شوی داویره پیداشوه چی خدای ناکرده دمجاهدینو قوماندانانو تر منځه نظریاتی اختلافات پیدانشی .

که څه هم موږ پدی پوه وو چی دادنجیب دخواپلان شوی او ترتیب شوی سازش دی ، اودنجیب ملحدحکومت نه غواړی چی دمنځه ولاړ شی اودسیاسی حل معنی موږ ته دنجیب دحکومت بقأ ده.

نجیب چی دجنگ په لیار کی دختمیدو سره مخامخ دی ، هلی ځلی اوتلاش کوی چی دیوی څوابین المللی اذهان تغیر کړی اودبلی خوادمجاهدینو دمشرانو تر منځه دجدایی درزفراخ کړی ، په همدی لحاظ زموږ پلانونه څه اندازه په تعویق شول اودهوااوموسم مساعد شرایط موځه ناڅه دلاسه ورکړل .

دمجاهدینو قوماندانان دبیځایه جگړی تږی ندی دوی دهرچانه زیات په افغانستان کی دصلحی اوامنیت طرفداران دی ـ

خودصلحی اوامنیت معنی فرق لری بعضی شاید خپل غرض اومنافع په نظر کی نیسی اودمسولیت احساس نکوی خو دمجاهدینو قوماندانان چی دافغانستان یو حقیقی طاقت او دکوندو اویتیمانو دارمانونو ترسره کونکی دی اگاهانه قدم ږدی او عمل کوی .

کله چی دگردیز عملیات پلان شول اودپلان په مطابق اکمالات وشول داویره



لاهم وه چې شاید بعضې قوماندانان دهمکارۍ نه ډډه وکړي چې نجیب هم ورته امید وار و ، اعلی قوماندان حقاني اوما دزرمت دخواهغه جهادي عملیاتي احضارات چې دقوماندانانودخوادوروری په فضأ کې نیول شوی ودنژدي ولیدل دخروارو تیري په احضاراتو موقناعت حاصل شو ، اوبیا دستي کنډو لورته راغلو ؛ که څه هم لیاری ډیری خرابی وی ، خو اکمالات وشول او احضارات تکمیل شول دعملیاتو دشروع نه څو ورځی ترمخه موږ یو زیات شمیر اعلامیی گردیز ته ولیږلی اودوی نه مو تقاضا وکړه چې دنجیب ملحد رژیم حمایت پریږدی ، اودمجاهدینو په خوا ودریږي ، اوداکار باید دوی دعملیاتو دشروع نه مخکې وکړي ، اووقت دلاسه ورنکړي ، ترڅو چې دخوست اشتباه تکرارنشي .

دسه شنبې په ورځ سهار وختی دسروتی دخوا نه تعرض شروع شو ،اوپه چټکتیا مجاهدینو دمیلان منطقه ونیوله ، ددی دپاره چې زموږ دتولو ترمخی دحاجي خلیل قوماندان ټانك ته عوارض پیداشول دبده مرغه زموږ تعرض لږ وځنډید .

زموږ دتوپچی قواو دغرمی په دوه بجو دغو گیری غره اودخو ځی سرجنوب شرق پوستی تر تاثیر لاندی راوستلی اوپیاده تعرض په ٤ بجو شروع شو .

ددښمن دشدید مقاومت سره سره دماښام په ٦,٣٠ بجو دټانك ، دمکتب ، دزغني پوستي يو پر بله پسې فتحه شوی .

مجاهدینو ټانك او درنی وسلی غنمیت کړی ، دښمن په دی عملیاتو کی ډیر ځانی اومالی تاوان ورکړ ، په ۲ بجو شاوخوا کی ددښمن دوه هلیکوپترراغلل چې خپل مړی یوسی خو زموږ دتوپچی انداختونو په واسطه یوهلیکوپتر دمنځه ولاړ.

دروغ هلیکوپتر پیلوټ وویل چې دعالیرتبه منصبدارانو مړی به کابل ته یو سم اودانور دی پاته وی.

دډیری سړی هوا سره سره بیا هم مجاهدینو خپل فتحه شوی ځایونه په داسی حال کی چې ټوله شپه ددښمن توپچی انداختونه ، سکاړ ، اوهوایی بمباردمان قطعه نشو وساتل.

نن دچهارشنبې ورځ ۱۹۹۱ - ۱۰ - ۱ دسهار په ۸ بجو زموږ عملیات بیا شروع شول که څه هم ددښمن دتوپچی قواو انداختونه اومخصوصاً هوایی بمباردمان ډیر شدید وو د ۱۰ بجو په شاخواکی دخو زی دغرپوسته او جماعت دغره پوسته بنوزیو ته نږدی فتحه شوی دپرون ورځی غنمیت شوی دوه ټانکه اوتوپچی درنه وسله او متوسطه وسله اودنن ورځی یو ټانك او درنه وسله دمجاهدینو دخوا په موفقانه توگه بیرته پر دښمن استعمالیږي .

هغه ټانك چې د۸ عالیرتبه صاحب منصبانو مړی پکی اوگردیز خواته روان وو ، دمجاهدینو دخوا دمنځه ولاړ دښمن ډیر پریشانه اووارخطا ښکاری دځمکنی



ددښمن دشدید مقاومت سره دماښام په ۳۰, ٦ بجو دټانك ، دمکتب ، دزغني پوستي يو پر بله پسې فتحه شوي . مجاهدينو ټانك او درني وسلي غنميت کړي ، دښمن په دې عملياتو کي ډير ځاني اومالي تاوان ورکړ ، په ۲ بجو شاوخوا کي ددښمن دوه هليکوپټرراغلل چي خپل مړي يوسي خو زمونږ دتوپچي انداختونو په واسطه يوهليکوپتر دمنځه ولاړ .

قواومقاومت ډير ضعيف دی ددښمن دمقاومت يواځينی عامل توپچی ، سکاډ او هوايی بمباران دی ليکن دلوړی ارتفاع په خاطر ددوی بمبارډان موثر ندی ، دښمن نن توله ورځ دمجاهدينو په سنگرونو سټی کنډواو اکمالاتی ليار کلاستربمونه وغورځول ، دمجاهدينو معنويات لوړدی ، اوپر مخ رواندی، اوپوستی يو پر بله فتحه کوی .

دمجاهدينووسله ښه ده خودلياری دخرابوالی اوشديد بمباردمان په خاطر دمهماتو او خوراکی موادو اکمالات په لازمه سرعت سره نشی اجراکيدلای .

نن ماښام په دپلان سره سم دسروبی (زرمت او سيدکرم) دخواهم په تعرض شروع وشی په نورو خواو کی هم عمليات شروع شوی ، دکابل گرديز عمومی ليار په تيره کی بنده ده ، دښمن اکمالاتی ليار نلری ، اودسترو مشکلاتوسره مخامخ دی .

زمونږ پلان دادی چی دامکاناتو په صورت کی بايد عمليات اوپيشرفت توقف ونکړی اودښمن ته دمقاومت مجال ورنکړای شی ، حملات اوتعرض بايد دوامداره اجراشی .

په پرون او نن جگړی کی دجنوب اوجنوب شرق جبهاتو کی ۸ نفره شهيدان اوترشلو پوری زخميان شوی دی .

مجاهدينودجگړی په څلورمه ورځ ۱۳۷۰/۷/۱۱ نيته دسيدکرم پر ولسوالی عمليات گرندی کړل اودرژيم څلورپوستی يې فتحه کړی .

همدارنگه مجاهدينو دخپلو برياليو عملياتو په ترڅ کی له ازغنی وراندی داوگرمی پوستی هم فتحه کړی .

دمجاهدينو ددرندو وسلو دډزو له امله په تيره کی ددښمن څلورټانکونه ويجاړ کړای شول .

همدارنگه پدغه ورځ په بنوزيو کی ددښمن دتوپچی قرارگاه هم فتحه شوه اوددښمن ډول ډول وسلی اومهمات مجاهدينو په غنيمت ونيول اوددښمن گڼ شمير افراداو صاحب منصبان ووژل شول په نيول شوی وسله کی ۷ ډی سی او ٦ ايم سی توپونه ، ٦ روغ زغره وال ټانکونه ۲۰ عرادی نقليه وسايط ، ۵لويي شلکا ، ۵ وړي شلکا ، پنځه اس ، پي ، جي ، ان ، لس زيگويك پنځه عرادي زرهپوش، ۱۰ پايی وسط هاوان او ۲ غرنی هاوان ۲۰۰ ميله سپکه وسله او ۸۰ موټر مهمات شامل دی همدارنگه ۱۳ ويجاړ ټانکونه هم له دښمن څخه پاتی شوی دی ، نوموړی قرارگاه د٦۷ غونډ ۱۲ ف پياده قرارگاه وه چی ددغی قرارگاه له فتحی کيدو سره ددښمن مقاومت له يوی شديدی حربی سره مخامخ شو او تعرضی ځواکونه يی له پښو وغورځيدل.

دجگړی په پنځمه ورځ ۱۳۷۰/۷/۱۲ له غرمی وروسته الحاج مولانا جلال الدين حقانی دجگړی دلومړنی خط دليدلو قصد وکړ که څه هم ورونو دده له تلو سره مخالفت وکړ خو خپله وسله يي راواخيسته اودلاس په لاس جگړی دلومړنيو سنگرونو په لور يی حرکت وکړ دلاری په اوږدو کی دښمن سخته بمباری او گوله باری جاری وه ، دسکړ توغنديو اونورو درنو وسلو مسلسلی ډزی روانی وی.

دجگړی لومړنی خط دبنوزيو توپچی قرارگاه وه چی مجاهدينو پرون فتحه کړی وه، پدغه قرارگاه کی له دښمن څخه ډول ډول نيول شوی درنی وسلی مجاهدينو بيرته پر دښمن استعمالوی دجگړی په لومړی خط کی دحقانی صاحب دحضور له امله مجاهدينو پر دښمن خپل بريدونه نور هم گړندی اوتوپانی کړل .

دتندی په سيمه کی هم دمجاهدينو اودښمن ترمنځ سخته اوخونړی جگړه روانه وه ،او دالحاج خليل الرحمن زغروال ځواکونه ددښمن پر سنگرونو دورختلو په حال کی وو.

ددښمن گڼ ټانکونه،و نقليه وسايط دمجاهدينو دډزو له امله ويجاړ شوی اوداور په لمبو کی سوځيدل .

الحاج مولوی جلال الدين حقانی دمجاهد غږ راډيو

خبریال دیوی پوښتنی په ځواب کی وویل :
« مجاهدینو دتیری په طرف ددښمن لس پوستی فتحه کړی اودزرمت له خوا دسوروړی تر پوستواودشرق له خوا څخه داوګری تر سر پوری مجاهدینو پرمختګ کړی اوس مجاهدین دتندی په سیمه کی چی دګردیز په نوه کیلومتری کی واقع ده له دښمن سره په جګړه بوخت دی .

حقانی صاحب زیاته کړه که چیری ددښمن قواوی دمجاهدینو له عفوی څخه ګټه وانخلی اومجاهدینو ته تسلیم نشی ، اوپه جګړه کی اسیر ونیول شی نو فکر نه کوم چی مجاهدین لدوی سره دخوست دپوځیانو په څیر چلند وکړی کیدای شی ، ددوی دمحاکمی په لاړو چارو غوروشی ځکه ددوی ددزو او وحشیانه بمباریو اوګوله باریو په جریان کی ګڼ مجاهدین او ولسی خلك شهیدان او زخمیان کیږی ...

سهار محترم حقانی صاحب دغلګی په سیمه کی دمجاهدینوبیلابیل مرکزونه معاینه کړل پدغومرکزونو کی ددښمن نیول شوی افراد هم لیدل کیدل .

یوه نیول شوی عسکر وویل : موږ ۲۵ تنه دریوران یی دکندهار او نیمروز په لارونیولو اوکابل ته یی راوستلو بیایی زموږ په څیر له نیول شویو کسانو څخه یوه ۸۰۰ کسیزه دله جوړه کړه اوګردیز ته یی انتقال کړو زموږ له دلی څخه نژدی ۴۰۰ کسانو دفرصت په پیداکولو سره تیښته وکړه خو موږیی دګردیز دازغنی قرارګاه ته راورسولو پدغه قرارګاه کی دیوی شپی له تیرولو وروسته مجاهدینو په قرارګاه حمله وکړه له لږی جګړی وروسته صاحب منصبان وتښتیدل ، اوټانکونه اوموټر یی پریښودل ، موږ ۱۱ عسکر تر پله لاندی کیناستلو پدی وخت کی مجاهدین راورسیدل ، او موږ یی ونیولو .

دغه عسکر په پای کی وویل : زه داسی فکر کوم لکه چی له زندان څخه خلاص شوی وم .

دشنبی په ورځ دمیزان ۱۳ نیټه محترم حقانی صاحب دغلګی په مرکزونو کی دجنوبی محاذ له قوماندانانو سره دجګړی دښه سمبالښت اوتنظیم په رابطه خبری وکړی او لازم هدایات یی ورکړل .

دجګړی په پنځمه اوشپږمه ورځ ۱۳۷۰/۷/۱۳ نیټه مجاهدینو په بیلابیلومحاذونو کی خپل پرمختګ ته دوام ورکاوه اودنویو سنګرونو په جوړولو او دمهماتو اونویو وسلو په ځای په ځای کولو مصروف ۇ ، دمجاهدینو خپل سنګرونه دګردیز ښار په ۳ کیلو متری اوپه ځینوبرخوکی په ۲ کیلو متری کی نیولی اوټینګ کړی ۇ ، دګردیز په پوځی تاسیساتو او قرارګاوو باندی دمجاهدینو دتوپچی عملیات روان ۇ .

تردی وخت ددښمن ۸۰ پوستی مجاهدینو فتحه کړی وی.

دمیزان په ۱۶ مه نیټه مجاهدینوپه زرمت کی درژیم تعمیر ولسوالی په نوم چی دتعمیر له فتحی وروسته یی په یوه کلا کی دیوی پوستی په بڼه اچولی وه فتحه کړه او دزرمت له استقامت څخه دمجاهدینو دسوروړی ترسیمی پوری خپل بریالی پرمختګ ته دوام ورکاوه.

اوس دګردیز اودمجاهدینو دسنګرونو تر منځ دښمن دمقاومت کوم حایل ندی پاتی مجاهدینو خپل بریدونه ددی لپاره متوقف کړی چی له نورو اړخونو څخه هم دمجاهدینو په ټاکلی وخت، فاصله ګردیز ته دننوتلو لپاره خپل قوتونه ټاکلو ځایونو ته راورسولی شی .

دمیزان په ۱۷ مه نیټه دسهار په لس نیمو بجو ددښمن رهبری شوی راکټو دغلګی په سیمه کی دمجاهدینو په مرکزونو پریوتل اود ۳۰ تنو په شاوخوا کی مجاهدین یی شهیدان اوګڼ نور زخمیان شول .



پنځمه برخه:

عبدالوکیل

کمونیزم یاد تکامل او انساني فطرت ضد ایډیا

محترمو لوستونکو: تاسو په تیرو گڼو کې دنوموړي عنوان لاندې دکمونیزم اقتصادي اړخ په اړوند انتقادي نظر ولوست اوس دادی دکمونیزم په ایډیالوژیکي اړخ باندې انتقادي نظر ستاسو حضور ته وړاندې کوو.

په ایډیالوژیکی اړخ کې:

دمعنوی اومادی جهان په اړوند دکمونستانو نظر او مفکوره دټولو الهی ادیانو سره په تضاد او مقابل لوری کی قرار لری دکمونستانو ایډیا اساس ماتریالیزم یا هغه نظریه ده چی ماده له معنیٰ څخه مقدمه او هغه انسانی روح چی انسان ، ټولنه اونړی یی په جنبش او توپانی تحرک راوستلی ، دانسان دمادی کالبد زیږنده بولی .

کمونستانو دمادی په مقابل کی هغه انسان چی معنوی او روحی قدرت یی پر ماده اودهغی پر قوانینو باندی حاکمیت کوی اوهغه یی دیوه قبضه کړی آس په ډول دخپلو ضرورتونو او خواهشاتو دپرفع کولو په خاطر تر کلك اوقوی تاثیر لاندی راوستلی ، لاس تر زنی کینوی اوماده دبت پرستانو دختو څخه جوړ شوی هغه بت ته ورته تعبیر وی کوم ته چی بت پرستان دبی انتها قدرت اوقوت په حیث قایل دی .

ماتریالیستان دانسان روح اوشعور چی دوړانگو روښنایی یی انتهالری دمادی په محدود چوکاټ کی رابند اوحصاروی اودوی لپاره ژوند دچاپیریال سره دجسم په واسطه دموادو تبادلی په مفهوم دی اوکله چی داتبادله تغیر مومی بیانو ددوی لپاره هرڅه هیڅ دی اودخوړو څو دعیش او عشرت لپاره ټولی انسانی اړیکی اوارزښتونه تریښو لاندی کوی اوبالاخره دانسانی ژوند ماهیت دحیوانی ژوند په مفهوم تعبیر وی .

دټولنیز ژوند په هکله :

دکمونستانو په عقیده دانسانانو ژوند په نړۍ کی دحیواناتو دژوند ددوران جز او انسان هم یو ډول حیوان دی په دی معنی چی انسان دحیواناتو په شان په نړۍ کی راپیدا کیږی دژوند معین دوران تیروی بالاخره دنورو حیواناتو په څیر له منځه ځی په دی ترتیب سره دانسان ، انسانیت ، شرافت ، عظمت اوانسانی ژوند دحیوانیت ژوند ته راټیټوی .

کمونستان یوازی دهغو انسانانو څخه ویره لری کوم چی ددوی دمجازاتو امکاناتپه لاس کی ولری اوبس ، همدارنگه ټول کمونستی گوندونه اواشخاص یوازی دنیاوی اهداف لری اودغو هدفونو ته درسیدو پخاطر هیڅ ډول بشری اصول اوقواعد نه منی اودهری لاری اوهرخومره چی غیر شرافتمندانه اودولسونو او ملتونو په زیان هم وی خو ددوی دهدف په ترلاسه کولو کی موثریت ولری ددوی په نظر معقول داجرا وړ په زړه پوری سیاست او پر ځای عمل دی.

دهمدی ځایه ده چی کمونستان دولسونو پر اوږو اوسرونو باندی پښی ږدی اوخپل هدف تر لاسه کوی کمونستان ولسونه او ملتونه دجبر ، استعمار ، زبیښاك اوتیری پر ضد اودوی دحقوقو څخه ددفاع په نوم راپاروی ، قربانی او جنگ ته یی تیاروی ، مرگ او ژوبله

رامنځ ته کوي خو کله چې سیاسي قدرت ترلاسه کړي بیا نو دولسونو او ملتونو پر سر دتیره سیخ اوزهر لړونکي ښامار په څیر راځوړندیږي اوهر څوك چې دازادي اوبشري حقوقو دلاس ته راوړلو پخاطر عمل اوغوښتنه وکړي نوبي دریغه یې څپې د «پرولتاریا دیکتاتوري» په تورډوزخ کې یې سوځوي، اوله منځه یې وړي.

دکمونستانو په نظر صادق اورښتیني انسان احمق اوبوکه باز، دروغجن،غوړه مال، بې قوله، بداخلاقه، دوه رنگي اوپست فطرته انسان واقعي سیاست مدار او عالي کمونست دی.

دکمونستانو لپاره هیڅ یوه داسې معنوي انگیزه وجود نلري ترڅو هغوي دې ته وهڅوي چې دخپل هدف دلاس ته راوړلو په منظور دنورو انسانانو په مقابل کې له تکې، بې قولي،.جبر اوستم، دبې گناه انسانانو دوژنې او زوروني څخه ډډه وکړي اودوی لپاره هیڅ یوه اخلاقي اووجداني محکمه وجود نلري ترڅو کمونستان دتکې، غلا،لوټماری، اوانساني ضد کړو وړو څخه منع او دنورو انسانانو سره همکاری او کمك کولو ته تیار کړي، نو ځکه خو ترکمونستي استعمار اواستبداد لاندې ولسونو په منځ کې دبې اعتمادي لوړ او پنډ دیوالونه جوړشوي دي، دډار اووحشت فضا رامنځ ته شوي او راتلونکي ته دیاس اوناامیدي په سترگه گوري.

کمونستان دخپلو شخصي گټو دلاس ته راوستلو لپاره هرډول پست، بې ابرو، بربریت، غیر انساني اوغیر اخلاقي عمل ته تیار دي اوکله یې چې خپل ژوند په خطر کې احساس کړییانو که ټول جهان کتې هم تری تیریږي ځکه چې ددوی لپاره مرگ په رښتیا چې حقیقي نابودي اوله منځه تلل دي اودژوند دورکولو په صورت کې هرڅه له لاسه ورکوي. ددوی دغه عقیده هیڅ کمونست دې ته نه هڅوي چې دټولني، وطن او ولس دگټو ساتلو او ترقي لپاره دځان اوخپلو شخصي گټو څخه تیر شي او همیش نور خلك دخپلو شخصي اوپستوغرضونو اوگټو دلاس ته راوړلو اوساتلو په خاطر دنابودي اوبدبختي کندې ته ورټیل وهي،خو یو مسلمان اوالله (ج) ته معتقد انسان دابدې ژوند دلاس ته راوړلو اودپاك خدای (ج) درضا دحاصلولو په منظور دانسان دازادي، دهغه دحقوقو دتامین، وطن دخپلواکي اوټولنیزوگټو دساتلو اوسمبالښت لپاره دخپل سر اومال قربانول، افتخار، ښه چانس،اوبریالیتوب گڼي دلته ده چې معنوي قدرت او زور اوایماني جذبه دانسان مادي وجود او کالبد په جنبش اوحرکت راولي اودا قدرت دی چې دغه ماده دسرو اورونو منځ ته ورټیل وهي اوهمدغه معنوي ځواك دی چې غونډې اوهډوکي دټانکونو، توپونو اوبمونو سره مقابلې اوټکر ته تیاروي، اوهمدا قوت دی چې مادي قوتونه په تورو دوړونو اوسپیرو ایرو تبدیلوي.

ډیر مهم اودتوجه وړمطلب دادم دی چې کله ناکله په ټولنیز ژوند کې ددین، وطن او ولسونو دپت، عزت خپلواکې اودټولنې دعمومي گټو دخوندي ساتلو په منظور ځانتیریدنې ته اړتیا پیدا کیږي هسې اړتیا چې بې له نوموړي عمل څخه یې لاس ته راوړل ناممکن بریښي داهغه سرتیرې اوقرباني ده چې انسانان پخواله دې چې خپل ژوند له لاسه ورکړي په کامل حتمي اوافتخاري ډول سره پر ځان منې چې خپل سربه قربانوي اوبې له سرقربانولو څخه دتعین شوي هدف کوم چې لاس ته راوړل یې دخدای (ج) درضا باعث کیږي اودبندگانو اووطن گټواوخپلواکي لپاره حیاتي اهمیت لري، حاصلول ناممکن وي همدغه موقع ده چې دکمونستانو اصلي ماهیت په خورا ځرگند ډول سره افشا کیږي اونه یوازې داچې هیڅ کمونست دې ته نه حاضریږي چې دخلکو، وطن او ټولنیزو گټو

لپاره خپلځان حتمی مرگ ته چمتو کړی بلکی کمونستان په دنیا کی دژوندی پاتی کیدو عیش اوعشرت کولو پخاطر دهرڅه څخه تیریږی .

کمونست له خطرڅخه دخپل ژوند دبچ کولو په منظور پست ترین ، بی ابرو ترین ، بی حیثیت ترین اوغیر انسانی ترینو اعمالو ته غاړه ږدی ځکه ددوی لار ، ایډیا اوهدف دادی چی ژوند وکړه په هره طریقه چی وی ، په هرډول چی حاصلیږی حاصل دی شی خو عیش اوعشرت وکړه اوهدف لاس ته راوړه دهری بدی اوغیر انسانی لاری څخه چی وی . په دی ترتیب سره دکمونستانو اوپه بشری ټولنه کی کمونستی سیستم رامنځ ته کیدل دانسانی ټولنی لپاره دحیوانیت ، بربریت ، پستی اوبد مرغی دتخم شنډولو مفهوم لری .

خو مسلمانان اوهغه انسان چی دخدای (ج) وحدانیت اوذات ته قایل وی ، خدای (ج) ته بندگی اوعبادت کوی دالله (ج) درضا په خاطر په ټولنه کی دعدالت اوازادی درامنځ ته کولو اوټولنیزو گټو دساتلو په لار کی دخپل ژوند او مال څخه په افتخار اوشکر په ادا کولو سره تیریږی خدای تعالی خپل بندگان همیش داسی کارونو اوعملونو ته رابولی چی دنورو انسانانو خیراو ښیگنی پکی موجودی وی نو ځکه یو مسلمان اودالله (ج) وحدانیت ته متقعد انسان دالله (ج) په لار کی چی دنورو انسانانو پکی خیر اوښیگنی وی دخدای (ج) بندگانو ته گټه رسول کیږی ، حیثیت ، ابرو ، پت او عزت یی پکی خوندی کیږی ، قربانی اوفداکاری ته حاضریږی نو خدای (ج) خپلو بندگانو ته دداسی ښواعمالو په مقابل کی ابدی ژوند هغسی ژوند چی دښه والی اوعظمت مثال یی په دنیا کی نشته ورکوی.

همدارنگه په داسی معقوله لار کی یی دمال مصرف دخدای (ج) په دربار کی اجر لری ، دتکلیفونو اوکړاوونو پ مقابل کی راحت ، صبراو اجرونه ورکوی ، اوهمدغه د خدای (ج) پر وحدانیت اوابدی ژوند باندی دزورورې عقیدی لرونکی انسانان دی چی دنړی هیڅ کفری اومادی ځواک یی په مقابل کی مقاومت اوپایه داری نشی کولی اوخورا زیات بریالیتوبونه یی په برخه کیږی .

خوکله چی یو کمونست دمرگ رښتینی احساس وکړی نو سم دلاسه خپل روحیات له لاسه ورکوی ، ریږدی ، رنگ یی زیړاوسپین اوړی اوپخواله دی چی مړ شی دمړی حالت اختیاروی اودمرگ څخه دنجات په خاطر پست ترین عمل اوداسی عمل ته غاړه ایښودل چی دملیونونو انسانانو دتباهی اوبربادی سبب هم شی خو کمونست ژوندی پاتی شی ، یو کمال لرونکی اوپوخ بریالی سیاست بولی .

په داسی حال کی چی یو مومن دالله دبندگانو دسوکالی په لار کی سرورکول اوابدی ژوند گټل دخدای (ج) لوی سوغات اولوپه میلمستیا بولی په دی ترتیب سره کمونستان دانسانی ژوند اوټولنی په مقابل کی دداړونکو حیواناتو په نسبت هم ټیټ اومضر دی .



خلک د «کي . جي . بي » دبنسټ ایښودونکي «فیلکس دیزرژینکي » مجسمه رانسکوروي

دکعبې دودانۍ جوړولو ورځ

درسول الله (ص) دژوند لس ورځې

ابوهارون

یادونه :
موږ دحضرت محمد(ص) دمبارك او بختور ژوندانه له څوپیښو نه یوه غونچه جوړه کړې، دهغه دمبارك ژوند له بهیرڅخه مو لس ورځې غوره کړې په دې خاطرنه چې دالس ورځې یې پر نورژوند غوره والی لرې ، دهغه دژوند هره شیبه سرتر پایه له شرف عزت اوسپیڅلتیا ډکه ده ، موږ دغه لس ورځې دپیغمبر(ص) دمبارك ژوند بڼ ته دننوتلو دروازې بللې ترڅو دهغه دژوند له نورانې ورانګو نه ځان خبر کړو ، دلته مو دورځې نه ۲٤ ساعته مراد نه دی بلکې دهغې مشهورې پیښې ورځې دي چې بیا دهغه(ص) دژوند پیښې جریان مومې اوښایې چې دخوشپړاو ورځو پیښې ټولې پکې راغلې وي .
، اداره ،

دغه ورځ درسول الله دبعثت نه پنځه کاله وړاندې د(عمر په ۳٥ کلنۍ) وه ، که څه هم موږ په دې ټولګه کې دحضرت رسول الله (ص) دژوند انه دهغو ورځو پیښې انتخاب کړې دي چې له پیغمبرۍ نه یې وروسته راغلي دي خو مجبوریو یوه ورځ دهغه زمانې څخه هم راواخلو چې پر نبي (ع) لاوحې نه وه نازله شوې او دپیغمبرۍ خلعت نه ؤور اغوستل شوې ، موږ چې کومه ورځ ټاکلې ده دالوحې دراتګ نه مخکینې یوازینې ورځ ده چې دلته یې پیښه لولو - او په هغه زمانې پورې اړه لري چې حضرت محمد (ص) دپیغمبرۍ ددرانه مسئولیت دپورته کولو لپاره ورته روزلې کیده . ښکاره خبره ده چې موږ دلته دومره مجبور نه یو چې یوازې دیوې ورځې پیښې راوړو او دنور ژوندانه له ورانګو شیندلونه یې محروم پاتې شو . نوځکه مو دغه ورځ دحضرت محمد (ص) دوحې دنازلیدونه مخکې ژوندانه دکتلو او لوستلو لپاره انتخاب کړه او همدغه ورځ ده چې د

حضرت محمد (ص)دژوندانه ډیر ښه خصوصیتونه موږ ته بیانوي . هغه یوه داسې ورځ وه چې نبض یې مضبوط و مخ یې روښانه او نخښې یې دکمال تر حده څرګندې وې .

هغه ورځ ...... چې دنبوی ژوند دوحې له نازلیدو نه وړاندې تر ټولو لوړې څوکې او سرونه راښیي . او زاتلونکې دوران یې هم له وړایه پکې ځلیږي ، په همدغه ورځ کې موږ دستر رب العزت (ج) دمبارك کلام ددغې ایت تفسیر ګورو چې فرمایي : الله (ج) ښه پوهیږي چې له چانه دپیغمبرۍ کار واخلي او څه ډول

(دسوره انعام ۱۲٤ ایه مفهوم)

هو! داورځ به وښیي ، بلکې دڅلیرویشت ساعتو څخه به یوازې یو ساعت داننداره وړاندې کړي چې دوحې او رسالت نه وړاندې څلویښت کاله هغه (ص) په خپله لمن کې دامانت ، پاکۍ عظمت او ثبات څومره ستري زیرمي ساتلي وې . وبه وینې چې چاته لږوروسته دنړۍ

دروند پیتی پراوږو وراېښودل
کیږی څه ډول ددغه ستر مسئولیت
لپاره تیاریږی او روزل کیږی ؟!
لازمه ګڼو چی د « یوم تحکیم »
ورځی په باب خبری دهغی له
تاریخی اړخه پیل کړو:
د پیغمبر له بعثت نه پنځه کاله
وړاندی چی هغه وخت درسول
الله (ص) عمر (۳۵) کاله ؤ لا
دوحی راتګ لړی نه وه پیل
شوی دهغه (ص) مبارک روح
دحق په لټه کی خوځنده و .
دقریشو دخلکو تر منځ دکعبی
بودانی پرجوړولو اتفاق راغی
کعبه ددوی ډیر ستر مقدس
میراث ؤ په هغه وخت کی هغه
یوازی له لویو لویو ډبرو څخه
جوړه شوی وه او پلستر شوی نه
وه چی ښکلی او مضبوطه وای
تردی پوری چی چت یی هم نه
وو پټ شوی «نه ؤ کاګل شوی»
اوس نو قریشو غوښتل چی له
سره یی بیرته جوړه کړی او
داسی ودانی جوړه کړی چی
ددوی دسرداری له شان سره
ولګیږی، خلکو په خپل منځ کی
پریکړه وکړه چی دخپلو پاکو
او حلالو پیسو څخه به هغه
ابادوی نو ابو وهب عائذ بن
مخروم چی درسول الله (ص)
دپلار له نږدی خپلوانو څخه ؤ جګ
شو او وی ویل:
ای دقریشو ډلی !
تاسو به دخپلو سپماؤ له پاک
مال پرته بل څه نه راوړی ،
دکعبی په ودانی کی به دسود
ظلم او په ناروا لاروتر لاسه
شوی پیسی نه لګوی .

قریشو کار پیل کړ ، ډبری او
لرګی یی راوړل ، دثواب او برکت
دتر لاسه کولو په تلوسه ټولو
قبیلو په ډیر ه مینه کارونه پیل
کړل او په خپلو منځو نوکی یی
دنظم دمراعات لپاره کارونه سره
وویشل ترڅو په هره برخه کی
ټولی قبیلی مناسبه ونده
واخیستلای شی . خلکو ودانی
جوړوله او کار پر مخ روان ؤ تر
هغه پوری چی دیوال دومره لوړ
شوچی توره ډبره « حجرلاسود
» باید کیښودل شی ، داهمغه
توره ډبره«حجرلاسود» وه چی
دحضرت ابراهیم (ع) او دهغه
دمبارک زوی حضرت اسماعیل
ذبیح الله دکعبی ودانی جوړولو
یادګارونه یی خوندی کړی وو ،
اوس دقریشو دقبیلو او خلکو
ترمنځ دا پوښتنه راپیداشوه
چی دغه ډبره به اوس کوم
بختور پرخپل ځای ږدی؟
یوه قبیله هم دی ته نه وه تیاره
چی دغه ستر ویاړ او شرف
بلی ته پریږدی . نو ځکه ټول
سره کیناستل او دحالاتو
غوښتنه لاداوه چی که ضرورت
پیښ شو نو توری به هم له تیکو
راوتلی او ځانونه به هم فدا کیدل
ددوی تر منځ دلیلونو او مخالفتونو
دوام وموندجګړه مخ په پیښیدو وه
دقهر او غوسی لمبی لالوړیدی او
پورته کیدی او دیوی قومی جګړی
داور لمبی په بلیدو وی، هری
خواته ګونګوسی شوی تردی
چی دبنو عبدالدار قبیلی خلکو
دوینو یوه ډکه پیاله راوړه ددی
سره دبنی عدی قبیلی خلکو هم



خپل لاسونه ددغی پیالی په
وینو کی غوپه کړل او داعهد یی
وکړ چی دغه ستر ویاړبه هیچا ته
هم ورپری نږدی که په دی لاره
کی ټول قربانی شی هم .
دقریشو قبیلی په دغه هیبتناکه
او نازکه موقع پنځه ورځی
پریکړی ته ونه رسیدلی ، په
شپږمه ورځ چی کله خلک بیت
الحرام ته ننوتل نو ټول دی ته
تیار ښکاریدل چی مقابله دمتو
او توری په زور فیصله کړی په
دی وخت کی یوه سپین ږیری
دحل یوه لاره وړاندی کړه هغه
وویل چی ددی مسئلی دحل
لپاره به دحکم واك هغه چاته
سپارو چی سبا ته« په ځنو
روایتونوکی په همغه ساعت »
هرڅوك حرم ته لومړی راننوتل

تولو خلکو داپریکړه واوریده او په یوه اتفاق ومنل شوه .

سباته تول په حرم کی ناست وو ، په فکر کی ډوب وو ، تولو په دروازه سترګی ښخی کړی وی ، زړونه په سینو کی دربیدل ، اوشیبه په شیبه دانتظار شیبی اوږدی اوغمیدلی ، څوك به وی چی راشی اودغی خورو ورو قبیلو تر منځ پریکړه وکړی ، اوبیا داسی پریکړه چی تول یی په خوښی ومنی اوعملی یی کړی ؟!

ناڅاپه داخبره روښانه شوه ، دژوند په ډیرو شیبو کی کله داسی شیبی هم راځی چی توله فضا دخوښیو شور ماشور لاندی کړی تراوسه لا دقوم تولو خلکو هغه نه ؤ لیدلی چی غړونه اوچت شول داسی په یوه غږ تولو چیغی وهلی تابه ویل دمخه دډوی (ص) دراتګ په انتظار وو.

« اوهو ! داخو همغه امین سړی دی ! موږ پری راضی یو ، وګوره داخو محمد (ص) دی .»

محمد (ص) وړاندی راغی هغه پوښتنه کوله چی لومړنی کس څوك دی چی پریکړه به کوی اوچی کله وپوهیده چی هغه پخپله دی نویی سردخپل رب په حضور کی په شکر ښکته شو .

خاونده ! تازه ددی کار لپاره انتخاب کړم ،اوددی سترمسوولیت دسرته رسولو شرف دی راوباخښه .

هغه (ص) مبارك نور له چانه ونه پوښتل چی دامسله به څنګه حل کوو ، هغه ته الهام شوی ؤ ، په کومه ربړه کی چی دنورو نظرکارنه کاوه ، ددوی مبارك نظر بیا دحل په تکی لګیدلی ؤ اوله ارادی نه په ډکه لهجه یی غږ کړ:

ماته یو څادر راکړی !

خلکو ژر هغه ته یو څادر ونیو ، رسول الله (ص) څادر په ځمکه وغوړاوه ، پخپلو مبارکو لاسونو یی حجرالاسود راواخیستله ، اوپه څادر کی یی کیښوده ، اوبیایی خلکو ته غږ کړ چی دهری قبیلی نمایندګان دی دڅادر پیڅکی ونیسی ، بیا همداسی وشول ډبره راپورته شوه په یووالی اوخوښی خپل ځای ته یووړل شوه ، اوهلته مبارك حضرت (ص) پخپلو لاسو کی له څادر نه راواخستله ، اوپه تاکل شوی ځای کی یی کیښوده ، په دی ډول دغه ستونزمنه ربړه دیوه پاخه تدبیر اوعقل په برکت په سوله ائیزه فضا کی حل شوه .

دغه ورځ دتاسیس لومړی ورځ وه ، همدغه ورځ وه چی سبنایی پروردګار خپل نازولی بنده دپیغمبری دویاړلی منصب دپورته کولو لپاره دهغه ستر منصب په لوری وخوځاوه ، دهغه مقصد په لوری یی روان کړ چی په نږدی راتلونکی کی به برالا روانیده .

هسی خو دپیغمبر (ص) ژوند نړی ته له راتګ دورځی نه دځانګړو خصوصیاتو درلودونکی ؤ – اوکله چی لاماشوم ؤ نو ځینو ماشومانو به دلوبو لوری ته وربللو خو حضر محمد (ص) به ورته ویل زه ددی لوبو دپاره نه یم پیدا شوی .

کله چی زلمی شو نو دکلی خلکو دامین لقب ورکړ ، دهغه احترام اودرناوی به کیدو اودومره دعزت اوویاړخاوند ؤ چی بل څوك په هغه پیمانه نه وو لیدل شوی ، اوبیا داسی وخت هم راغی چی بحیرا راهب دحضرت (ص) په څیره کی دنبوت پټی نخښی حس کړی اوابوطالب ته یی په ډیر تینګار هدایت ورکړ چی :

خپل دغه وراره دی بیرته وطن ته ورسوه .

ګوره ! دیهودو له نظره یی پټ ساته ، ځکه چی که هغوی ولید او هغه نخښی اواشاری چی مادده په وجود کی وپیژندلی دوی هم وپیژندلی نو په خدای (ج) سوګند دی چی هغوی به ستا وراره ته دضرررسولو زیار وباسی ، ستاله وراره سره ډیره لویه معامله کیدونکی ده« دهغه پیغمبری اورسالت ته اشاره ده »حضرت محمد (ص) ان له ماشومتوبه دخپل قوم دځینو جاهلانه خصلتونو نه بد راتلل د بوتانو یی عبادت ډیر بدګانه ، اویو خدای (ج) ته یی پناه غوښتله .

دکعبی ودانولو ورځ یا دتحکیم ورځ وګوری ، همغه قریش چی یو له بله نفرت لری ، یو بل ته له لږ امتیاز نه نه تیریږی ،اوتول په یوه ستره لانجه کی راګیر دی ، توری په تیکو کی دوینو توئیدو ته لیواله دی سرونه لویدو ،اوغوځیدو ته تیار دی ، دیوه ستر فساد دپیل نخښی نښانی دی خو ناڅاپه داهرڅه په بله واوړی ، دورورولی او عزیزولی شمال راوچلیږی – دیووالی او اتحاد چیغی پورته شی او هو ! داخو ... محمد « امین » راغی ، موږ پری راضی یو موږ پری راضی یو .

پنځمه برخه:

داسلام په اره دصلیبیانو اویهودیانو نظریې

سلطان محمود «صلاح»

وايي : اسلام له منځه یوسی :

دمسیحانو اویهودیانو لـه پاره داسلام له منځه ورل یوازینی حل دی ، دادی نصرانیان اویهودیان په ګډه داسلام دمقابلې لپاره راپورته شوی اوغواړی په ګډه سره خپل یوازینی دښمن اسلام له منځه یوسی (۱).

ګاردنوایی : صلیبی جنګونه دقدس دازادی پخاطر نه و پیل شوی بلکه ددی جګړو هدف داسلام نړول ؤ (۲) .

ددی استعماری لښکرو ترانه داسی وه چی : زه دملعون امت (اسلامی امت) (نعوذ بالله) دله منځه وړلو لپاره روان یم ترڅو داسلامی دین په خلاف وجنګیږم اوترڅو پخپل ټول توان سره قران له منځه یوسم . د۱۹۶۷ م کال دعربو اواسرائیلو دجګړو په دوران کی داسرائیلو داشعارچی (له مسلمانانو سره جګړه وکړی) په اروپا کی دومره خورشو چی مثال یی کم لیدل شوی دی ...

صیلیب فون داسی وایی :ضروری ده چی فرانسه باید په ټوله نړی کی داسلام په وړاندی ودریږی اوداسلام له دین سره ددښمنی لاره غوره کړی اوپه خپل ټول توان سره داسلام دین دخوریدو مخنیوی وکړی (۳).

فرانسوی مستشرق کیمون پخپل (باثولو جیادالاسلام) داسلام طبیعت نومی کتاب کی لیکی :

محمدی دین دجزام بیمار په شان دخلکو په منځ خورشویدی . اولګیا دی هغوی بیماروی له کاره یی اچوی بلکه اسلام داسی یو لیونتوب دی چی انسان بیهوشه اوبیکاره کوی ، اویوازی وینو تویولو شراب څښلو اونورو بدوکارونو کولوته یی راپورته کوی اوس دمحمد (ص) قبر دبرقی ستنی په شان دمسلمانانو په سرونو کی داسی لیونتوب راپاروی چی حتی عادتونه یی اصلی نوق ګرزوی لکه خنزیر له غوښی ، شرابو اوموسیقی څخه کرکه :

داسلام اساس په ظلم فسق فجوراو خوندونو باندی ولاړدی ..

نوموړی لیونی مستشرق زیاتوی :زما نظر دادی چی دپنځمی برخی مسلمانانو له منځه وړل حتمی خبره ده ،

اوپاته نور باید په شاقه کارونو وګمارل شی دنړی کعبه باید ونړول شی دمحمد صلی الله علیه وسلم قبراوجسد مطهر باید دااللوفر په موزیم کی کیښودل شی (٤).

انګریزی لښکرو دنوموړی لیونـی مستشرق یاد شوی وصیت په سوډان باندی دتیری په وخت کی په عمل کی پلی کړ ، هلته چی انګریزی قوماندان دسوډان دفاتح اودانګریزانودپخوانی قوماندان ګوردون دوژونکی مهدی په قبر حمله وکړه هغه یی له قبر څخه راوایست سریی ورنه بیل کړ اوبیا یی خپل خپل مشر ته واستـاوه اوورنـه ویـی غـوښـتـل چـی لـه دی ککری نه سګریت دانی جوړه کړی(٥).

کله چی په ١٩٦٧ کال کی قدس شریف سقوط وکړ ،او کاردینال بور ، کاردینال برلین دمسیحیت په تاریخ کی دلمړی ځل لپاره په یهودی کلیسا کی دمسیحانو اویهودیانو له ګډ عبادت نه وروسته تابلت نومی کاتولیکی انګریزی مجلی سره مرکه کی ویلی و :

مسیحیان باید له یهودانو سره دهمکاری اومرستی لاسونه ورکړی ، ترڅو اسلام له منځه یوړای شی اومقدسی ځمکی ورنه ازادی کړی (نشرة التعایش المشبوه ص : ٤)

دفرانسی پاچا نهم لویی کوم چی دمنصوری په دارلقمان کی اسیر شوی و په پاریس کی دملی وثایقو په دفتر کی ساتل شوی وثیقه کی داسی لیکی :

مسلمانان دجنګ له لاری نه شی تسخیریدای نوپه کار ده چی دهغوی دتسلیمی په خاطر لاندینی لاره غوره کړو .

الف :- دمسلمانانو مشرانو په منځ کی باید اختلاف اونفاق خورشی ، اختلاف اونفاق دزیاتوالی لپاره باید هلی ځلی وکړو ، ترڅو له همدی لاری مسلمانان کمزوری کړای شی .

ب :- باید پریږدو چی په اسلامی اوعربی هیوادونو کی یـو صـالـح اوغـوره حکومت قایم شی .

ج:- دفساد ، رشوت ، ښځـو اونـورو پـه واسـطـه داسـلامـی ملکونو دحکومتونو خرابول ترڅو رعیت له حکومت نه بیل اولیری شی .

د :- په اسلامی ملکونو کی باید دوطن پال اوځان ښندونکی لښکر دجوړیدو مخنیوی وکړو .

هـ :- په عربی نړی کی دیووالی مخنیوی .

و :- په عربی نړی کی دیوه غربی حکومت دقیام لپاره هلی ځلی ، ترڅو همدا غربی حکومت ورو ورو لویدیځ پوری راورسیږی (٦).

اسلام څنګه اوڅه ډول له منځه وړی ؟

وروسته له هغه چی داسلام دله منځه وړنی په خاطر پوره دوه پیړی اوږده صلیبی جنګونه له ماتی سره مخامخ شول ، نویی داسلام دله منځه وړلو پخاطر نوی لاری غوری کړی اودادوه پیړی کیږی چی هغوی دخپل دی شوم هدف دلاسته راوړلو په خاطر لاس اوپښی وهی .اوپدی لاره کی

> ددي استعماري لښکرو ترانه داسي وه چي : زه دملعون امت (اسلامي امت) (نعوذ بالله) دله منځه وړلو لپاره روان یم ترڅو داسلامي دین په خلاف وجنګیږم اوترڅو پخپل تول توان سره قران له منځه یوسم

دنوی طرحه اونقشه په لاندی ډول ده :
لومړی – داسلامی حکومت له منځه وړل :
دعثمانی خلافت په ټرولو سره دهغوی داارمان ترسره شو ، نوموړی خلافت که څه هم دځنی عیبونو درلودونکی ؤ ، خو دهغه دښمنان ورنه ویریدل ، چی هسی نه دایو بالکل ریښتونی خلافت جوړشی ، نوځکه یی ددی خلافت دنړولو لپاره متی رانیولی .
په لومړی نړیواله جګړه کی دترکیی اوالمان ماتی داسلام دښمنانو لپاره یوه طلایی موکه وه انګریزی ، یونانی ، ایطالوی اوفرانسوی لښکری ترکیی ته ننوتی او دعثمانی خلافت مرکز (استانبول) اونوری ټولی ځمکی یی ورنه ونیولی .
اوکله چی دلومړی نړیوالی جګړی دمتحاربو قطبونو ترمنځ دسولی خبری پیل شوی ، نوانګریزانو په ترکیه باندی داومنله چی زموږ لښکری به ترهغه پوری دلته پاته وی ترڅو ترکیی لاندینی شرطونه نه وی منلی :
الف – داسلامی خلافت لغوه کول ، اوله ملك نه دخلیفه شړل اودهغه ټولی ځمکی اومالونه مصادره کول .
ب – ترکیه باید دخلافت دپلویانو له خوا دهرپاڅون دمخنیوی تعهد وکړی .
ج – ترکیه باید له اسلام سره خپلی اړیکی وشلوی .
د – داسلامی قانون په ځای باید مدنی قانون تدوین اونافذ کړی (۷)
کمال اتاتورك دانګریزانو داټول شرطونه ... اوپه عمل کی یې پلی کړل ، نوبیا استعماری لښکری ... ترکیی نه ووتلی .
اوکله چی دانګلستان دبهرنیو چارو وزیر (کرزون) دبریتانیا دعمومی اسامبلی په وړاندی دترکیی دحالاتو په هکله معلومات ارایه کول ، نو داسامبلی ځینو غړو اعتراض وکړ چی ترکیی ته ولی ازادی ورکړل شویده کیدی شی اسلامی ملکونه یو ځل بیا ورسره ودریږی اوپه لویدیځ باندی حمله وکړی . نوکرزون ځواب ورکړ اوورته ویی ویل : ترکیه موله منځه وړی ده ، اوبیا به ددی جرات ونکړی چی راپورته شی ... ځکه موږ دترکیی دقوت دواړه رازونه چی اسلام اوخلافت دی له منځه وړی دی.
ددی خبری په اوریدو سره ټولو غړو لاسونه وپړکو اواعتراض کوونکی هم خاموش شول .
۱– استعباد الاسلام ص ٤٤
۲– التبشیرو الاستعمار ص ۱۱۵ – جذور البلا ص ۲۰۱
۳– الاستعمار الفرنسی فی افریقا السودا ، تالف فیلیب فونداسی ص ۲
٤– الاتجاهات الوطنیة ج ۱ – ص ۳۲۱ – تاریخ الامام ج ۱ ،ص ٤۰۹ – الفکر الاسلامی الحدیث ص ٥۱ ، القومیة والغزو الفکری – ص ۱۹۲
٥– القومیة والغزو الفکری – ص ۲۲۲
٦– العدد ۲۱۰٦ اخر ساعة ، ٥ اذار ۱۹۷٥ من خطبة امیرالحاج المصری لعام ۱۹۷٥ الوزیر احمد کمال وزیر الری المصری .
۷–الارض والشعب ص ٤٦ مجله اول
۸–کیف هدمت الخلافة ص ۱۹۰

دخوست فاتح ته

ستادتوری اومیرانی اواز خپورشوټول جهان کی
ستاجهاد ته ملائکی سلامی شوی په اسمان کی
داسلام دوحدت سیل چی په خوســـت راغی
وطني کمونستان ړوب شول یو تربله دی توپان کی
چي دستادتوری شرنګ یی تر غوږوشو
ډیر په بیړه دی تسلیم کړل جنرالان دخوست میدان کی
دکمون طلسم دی مات کړپه رښتیا چی قهرمان یی
ان مسکو کي واویلاشوه ټول دښمن شول په لړزان کی
تاقلم اوتوره دواړه په اخلاص دی چلولی
ځکه خدای (ج) دپه نصیب کړه لویه فتحه امتحان کی
ای دخدای (ج) ددین بچیه دپکتیا دغرو زمریه!
هغه څه دی چی تاکړی هغه ټول دی په قران کی.
داسلام بیرغ دجګ کړدمتون په چوټی باندی
په خوست سپینه رڼا خوره شوه مخکښی وو په توورزندان کی
داسلام ښکلی عالم یی دجهاد تکره معلم یی
ژوند دوقف کړملت ته ډیر پیاوړی یی ایمان کی
تادویاړ شمله کړه جګه زموږ ټولو افغانانو
د اسلام تاریخ به ویاړی ستاپه توره هر زمان کی
دخوست فتحه ستا دټولو فتحو زیری
دابنسټ دازادی دی زموږ ګران افغانستان کی
خدایه (ج) ټول افغانستان کی اسلامی نظام قائم کړی
زموږ ټول مسلمانان دی پدی هیله اوارمان کی
دغه لویه هیله زموږ خدایه (ج) پوره کړی
زموږ دعمرخواری خدای (ج) مه کړه تاواڼ کی
په پردیو وطنو کی هدیری شوی له موږ جوړی
اي مشرانو خپل سرونه موکړی ټیټ په خپل ګریوان کی
مسافر جړشوی منګله مسافرو به څه وس وی
دعاګوی د«حقانی » یم خدای (ج) دوساتی امان کی

س منګل – غربي المان د ۱۳۷۰ کال دمیزان دمیاشتي لومړی نیټه

مسلمانی که داند رمز دین را
نساید پیش غیرالله جبین را
اگر گردون به کام اونگردد
به کام خود بگرداند زمین را
(علامه اقبال)

درحمت للعلمین (ص) دمبارك میلاد په مناسبت

بختور میلاد

نخښې دسباوې ، خودالمر څه پښه نیولۍ ؤ
ښایی له بشرې نه دې خجل ؤ شرمیدلۍ ؤ
هلته دخدای(ج) کور کې (هُبل) پرمخې لویدلۍ ؤ
زیرۍ دراتګ دې په نړۍ کې غځیدلۍ ؤ
رنګې دکسرۍ دماڼۍ ډیرې کنګرې شولې
جوړې دقیصر دتخت له پاسه زلزلې شولې

***

ستادراتلو زیرۍ نه ؤ زیرۍ دژوندون شولو
ځیرې دې په وړانګو دتیارو پَرْدو لړمون شولو
غږ دمایوسیو پر خوښیو دبدلون شولو
وژرل شیطان په اندیښنو سرپه زنګون شولو
نوره دستم اواستبداد دنیاګۍ ورانه شوه
بیا دژوند سندره په نړۍ کې جاودانه شوه

***

نن چې دمکې خړې کوډلې ګلستان ښکاری
ژوند پکې خندلی دی مرګونه یې خزان ښکاری
بیا له وربمو ډك دغه سپیره خړ بیابان ښکاری
څه به وی نو بل ؟ درحمتونو پرې باران ښکاری
ستادراتلو زیری شول خواره تر لامکان پورې
لور په لوری ولاړل له زمینه تر اسمان پورې

***

ورکې شوې تیارې، نړۍ دتاپه راتلو سپینه شوه
بیرته راتوده په مرورګو کی دژوندوینه شوه
ګرمه شوه دژوند نغمه لاګرمه شوه شیرینه شوه
داسپیره دنیا دې په راتګ بیرته رنګینه شوه
ستا دمیلاد زیری ژوندانه ته بل مضمون راوړ
پیل انقلاب شو بشریت ته یی سکون راوړ

شفیقی

هیرې مې نه وې له زړګي نه خاطرې دماتم
راباندې غبرګې شولې بیرته شوګیرې دماتم
دسره طاعون ناسور ټپونه مې لانه دي ټکور
بیامې په کور کې شولې بلې نن ډیوې دماتم
دګردیز پرمحاذ دوروستیو شهیدانو په اړه

شیطان دۍ ترهیدلۍ مسلمان په مخه کړۍ
الحاد ګوره عدم ته چې افغان په مخه کړۍ
تکبیر مې ورته زیرۍ دمرګونونه شوڅه شو؟
ستر روس ټوټه ټوټه شو اوتوپان په مخه کړۍ

داوښکو څاڅکي

عوض الدين صديقي

مور دزوی سره غاړه غړې شوه څو ځلی یو خوا بل خوا ښکل کړ ، سینی پوری جوخت کړ دګوګل درزایی دبیلتون ناکردی او ستونزی ورته راوسپړلی ، په ګریوانونو کی خال ، خال اوښکی وڅڅیدی مور یی بیاپه غمبوری شونډی کیښودلی :

« ....شکرچی په خیر راغلی ...... شکر چی بیادرسره غاړه غړی شوم ، دبیلـــتانه تنګســوخــو ډیـــره ځوروولم ....

زوی سترګی ځمکی کی ښخی کړی ، په ګامونویی دکوټی غولی ته تللی لارلنډه کړه،مور ته مخامخ کیناست ، دمور له خولی راوتلی ساړه اسویلی څپیړه یی پرمخ ولګید ه مور بیادزوی په غاړه کی لاسونه امیل کړل :

« ....شکـر چی پـه خیرراغلـی ..... دسـترګوکسـی موستادراتلو انتظارستړی کړل ......

پـه ژبودسکوت مـهرولـګیـد، پـه سـترګوکی ډنډاوښکی وخوزیدی ، تیکری یی وروورو په کوسو رازوړند شو په رپانده لاسویی بیرته په سرراخورکړ،اوښکویی دتیکری پیڅکی لمدی کړی:

« .... نـه زویـه داسـی هـم څـوك کـوی ..... نـه دخـط رالیږه اونـه دچاپـه لاس احوال ..... اوږده انتظارپرموږ دخاورو شوهیلو وریځی راخوری کړی .....

دزوی دسترګو له بارخوګانو اوښکی ورکی شوی تندی یی وغوړید شونډوکی وروورو موسك شو:

« .... مـوری تـه ښـه یـی .... نـورکـورکـی خـیـرت دی...... دزوی پـه غـمـبـوروکـی دحـیـاسـرخـی راوخـوټیـده سترګی ټیټی واچولی ، موروړته وویل : ټول ښه دی .....

«حمیدجان» په منډورامنډوستړی شو چی غږواوری فلانی له جبهی راغلی بیامنډی ووهی ..... بیخی ناستی خوند نه ورکوی ..... تیره ورځ جبهی ته درته ، مامنعه کړ چی کور کی څوك نشته ......

پـه تنـدی یـی دمـوسکـا څـپه خـوره شـوه وروشـانـی سـاه واخیسته ، مورته یی یو څـــپك نوره فاصله هم رالنډه کړه مورمیا په ګړیدو شـــوه : « .... زرکی خوځان په ژړا مړکړ..... چی ورور دی ورتـه ووایـی هـغـوی ویل چی راځـــی داپه ژړاشـــــی بیانو کړیکی وهـی زماورور به کله راځی ..... ولــــی یی دومره ځنډ کړ ....» بیایی وویل : « ...... زوی دی زیاتی ژړالیونی کړ .... نه مورته ورځی نه ماته راځی او نه تره ته ...... شپه ورځ ناری وهـی به ...... به څه شو ..... به به کلـه راځی ....»

دوه دری څـــاڅکی اوښکی یی په لمن ګردی ګردی شوی . « ......کږه دی له حیانه سن هم نشی کولی ...... غوښی یی ولی شوی .... رنګ یی زیړ شوی .... وینه یی په زګونوکی وچه شوی بیخی د ځ لرګی ګرځــــیــــدلی .... او تره شوی ، پرون می دپلارکورته ولیږله ..... » سترګی یی له شرمه ټیټی کړی دحیا مارغان پری راخواره شول :..... هـغوی ښه دی ؟ ......

» ټول له موږ بسره لالـهانده دي ...... خواښی خودی دایوه یوه نیمه میاشت دلته وه .... په نفلونویی ځان ستړی کړ........ تل به یی ستاداوږده عمردعاکوله ......

زویه ټول خپلو خپلو ان دی سرګردان کړل ..... څوك به لاس پـه دعـاوه او چاپـه اوښکـی څڅـولـی ...... زویـه دبیلتون څپیړه ډیره سختـه وی .... ړرونـه سـوری کوی...... دارمانونو ځولی څیری ویری هره خوارپریوځی .... » زوی پرانګواوښکی راغلی دموږپخو ته ټیټ شـــو : « ...... مـــوری مـــاوبـــخـــښـــه .... » دمـــور پرپخوداوښکو څاڅکی توی شول مور نواړه لاسونـه ورځولی کړل غوښتل یی سینی ته یی راجوخت کړی ، ښکل یی کړی خوناڅاپه یی له خولی یوه کړیکه ووتله .کټ کی نیغه کیناسته دسپوږمی په رڼا کی یوی بلی خوا ولیدل هیڅ شی ترسترګو نشول ارغویی سترګو ته ونیول . داوښکو څاڅکی پکی ځلیدل هو!داوښکو څاڅکی او بس

حضـرت زمـان دتـوري شعـراوشهـادت ويار، خپلوونکی شاعر

حمزه صيب وايي :

پټ وی طوفانونه دشاعرپه خاموشی کی
مه شه پری غلط چی بس خبری جوړوی

شاعر دخپل چاپيريال ترجمان وی ، دټولنی دساندو اوسرورونو ابدی گرځونکی وی ، په شعر کی يی دخپل وخت او زمان درالوتلی طوفان دخرپ او ترپ کيسی نغښتی وی ، خو دځينو ځينو په شعر کی ، هغه چی دخرپ اوترپ په معرکو کی يی توری چلولی وی دپيښو عينی شاهدان وی .دخپلو خلکو سره کړنگ په کړنگ او پوله په پوله گرځيدلی وی ، او دپرګنو درد او غم دشعرژبه ورکړی وی او بيايی دټولنی دطوفانونو او بربادیوکيسی خوندی کړی وی ، دهمدغسی شاعرانو له جملی څخه يوهم شهيد حضرت زمان دی دحضرت زمان شعر اسلام او ټولنی ته وقف شوی ، په شعر کی يی دپرګنو ټيټی ، جگی بيان کړی ، دروسانو او دهغوی دگوډاگيانو د تباه کوونکی او بربادیوړونکی طوفان کيسی يی خوندی کړی ، دروسانو دوحشتونو بمباريو او وژنو ، او دمجاهدينو اتلوليو او حماسو ته يی دشعرژبه ورکړی .

هغه که ديتيمانو سره ژړلی ، دزندان تورو کوټنو خوړلی عالمان او ځوانان دروسانو دبمباريو په واسطه ړنگوشوجوماتو نو او دروسانو دوحشت ډېپری خوږونکی کونډی يی هم له ياده نه دی ايستلی:

ړنگی مدرسی شوی ډيريی سوی جوماتو نه دی — ژاړی ماشومان په مخی يی ځی اوښکی روډونه دی
ړنگی مدرسی شوی عالمان په جيل خانوکی دی — پاتی خدای (ج) کتاب دی طالبان په سنگروکی دی
ړنگی آبادی شوی مسلمان په توروغـــروکی دی — ديرتـــوتی ، تـــوتی شول پری چولی يی بمونه دی
ژاړی ماشومان په مخ يی ځی اوښکی روډونه دی

څوك چې مسلمان دې هغه واړه په ژړا وينم   زور دې ددهـــريـــانـــو مسلمان خپه خپه وينم
كونډې شويې بيبيانې په ژړايې او لاده وينم   ډيرشوې په ژوندون كې خاورو لاندې صورتونه دې
ژاړي ماشومان په مخ يې ځي اوښكې روډونه دې

څوك دې په سنـــګردډهـــرې مــقـابـلـه كوې   تيــرډســراو مــال دې دالله (ج) په نوم غزاكوې
كلـــك ولاړ دښــمـــن ته دې دفـــاع كوې   ډيـــر مـهاجرين شول ترينه ډك واړه كمپونه دې
ژاړي ماشومان په مخ يې ځي اوښكې روډونه دې

نشته فاطمه چې دبابا په ديـــن ژړا وكـــړي   نه وينم عـــلي چـــې په كفارو نې حمله وكړي
څه شولو بلال چې د الله(ج) په نوم صدا وكړي   دنن صباعالم خو په دنـــيا باندې جنګونه دې
ژاړي ماشومان په مخ يې ځي اوښكې روډونه دې

شهيد حضرت زمان دپكتيا ولايت دخوست په لوى ولسوالى كې زيږيدلى او د سلطان محمد په كهول كې رالوى شوى دظاهر او داود په دوران كې يې دخوست ولسوالى په بيلابيلو مدرسو كې ديني زده كړې كړې په همدې دوران كې يې داسلامي غورځنګ سره اړيكې ټينګې كړې او دڅور كودتا دبرياليتوب سره جوخت يې په وسله وال جهاد لاس پورې كړې.

حضرت زمان دڅور تركرغيړنې كودتا دمخه ددينې زده كړو ترڅنګ داقتصادى ستونزو درفع كولو په خاطر خپلو ځمكوكې بزګرې كوله خودكومې ورځې راهيسې يې چې داسلامي غورځنګ سره اړيكې ټينګې كړې د جهادى جذبې راپاريدلو ترڅنګ يې دشعر جذبه هم راپاريدلې او د شعر له لارې يې دروسانو ظلمونه او دمجاهدينو حماسې له وركيدوژغورلې .

شهيد حضرت زمان شعر دمظلوم غږ دى ديوه مجاهد غږ دى دهغه مجاهد غږ چې ددسمن پرتېر دګولې ور خوشې كولو په وخت يې له خولې وتې ، هغه خپل شعرد خانانو او ملكانو وصف او مد حې ته نه دى وقف كړې ، مجاهدين يې ستايلې هغه مظلوم خپيبله او سپين ږيرى بوډا ته يې دعقيدت پيرزوينې وړاندې كړې چې په خالى لاس يې پر روسي ټانګ وردانګلى

حضرت زمان هغه ټول په نوم پښتانه او ملكان چې دقدرت ليوال دى او دروسانو سره دمعركو په وقت دخيرپه غونډې ناست ؤ غندلي :

څه شول پښتانه چې په ناحقه به يې جنګونه كړل   په يوه لويشت ځمكه به يې ډيرډيرتاوانونه كړل
تش دقام په نوم به يې زيات ، زيات مـرګونه كړل   نـن يې دهـــريانو ته پريښې خپل كورونه دې
ژاړي ماشومان په مخ يې ځي اوښكې روډونه دې

حضرت زمان كه دكونډو ، رنډو او ژبغړانده ماشومانو له ساندو سره كړيكې بدرګه كړې دبلې خواپى پرشهيدانو دپاس اوښكې نه دي څڅولي دهغوى شهادت يې ځان او اسلام ته افتخاربللى دهغو ى پرسريى دوياړونو شمله وهلى دهغوى حماسې او افتخارات يې دشعر په ژبه خلكو ته رسـولې ، خپـــل فـــرض يې اداكړې او هغه يې دتاريخ پاڼو ته سپارلي :

ربه مهربان شي ډيرمې زړه کې دې غمونه   ځمکه نه يې ټانګ دې په هوا ګرځي جهـازونه
ربه مهربان شي مسلمانٍ يې دړې درکـړل   څوك يې په ماشينو څوك يې توپونې بمبارکړل
خدای لپاره خلکه يتمان يې ډير آزار کړل   رب دې پرې نازل کړې دخپل قهرنه تند رونه
ربه مهربان شي ډير مې زړه کې دې غمونه

ربه مددګارشې مسلمان خو تباه کيږي   څوك په جيلخانو کې څوك تر خاورو لاندې کيږي
ژاړي يتيمان خپل ادې بابا يې ياديږي   دهـــرې ظـــالم اخته وې پرې چوی نيپام بمونه
ربه مهربان شي ډيرمې زړه کې دې غمونه

پورته شي يارانو دانن ورځ ده دجهاد   ختم دهريان کړې درنه خلاص نشي شداد
يابه شهيدان شو يابه ختم کړو فـساد   ورځ دقربانـــي ده که څوك غواړي جنتونه
ربه مهربان شي ډيرمې زړه کې د ې غمونه

ربه مهربان شي طالبان په سنـــــګروکـــي دي   ژاړي مسلمان چې عالمان په جيلخانوکې دي
رنګي آبادې شوې ماشومان په تورو غروکې دي   ځـــې دماشـــومانو په مخ اوښکې سيلابونه
ربه مهربان شي ډير مې زړه کې دې غمونه

وګوری عالمه نن جنـــګـــيږي مـاشـــومان   يولاس کې يې ده توره په بل لاس کې يې قران
قسم دې ښادبه نشي دلينين زامـــن خلـــقيان   ای «حضـــرت زمـــان » وروره مــــه کوه ويرونه
ربه مهربان شي ډيرمې زړه کې دې غمونه

نه کوم ژړا ، شـــهيـــــدان چې يـــادومـه   وې مـــنــــه « احمـــدغني » چې فخر پرې کومه
ټانك ته خپه نه يـم خـــو چې شين راکټ لرمه   دشـــويلـــو زهـــرپوشونه مې ډك کړل کرنګونه
ربه مهربان شي ډير مې زړه کې دې غمونه

شهيد حضرت زمان د داود خان په دوره کې دشعر ويل پيل کړي تقريباً د (٢٠٠) په شاوخوا کې شعرونه لري چې په (٢٥) کستونو کې څه يې په خپل آواز او څه دشهيد احمد غني سره په ګډ ه ثبت کړي .

شهيد حضرت زمان دشعرويلو تر څنګ توره هم چلولې د «حقاني » صاحب ترڅنګ يې دروسانو او هغوی دګوډاګيانو پرضد معرکوکې برخه اخيستې هغه تردې وخته چې شهيد کيده دحقاني صاحب دجبهاتو کې قوماندانې دنده لرله ، په دې دوران کې يې دډيرو روسانو ناپاکو هيلو ته کفن وراغوستې او دهغوی ارادې يې دګورملګرې کړې .

حضرت زمان دجهاد ليوال ؤ په پرخه په پرخه او کرنګ په کرنګ لويدلو ستړې کړې نه دې هغه متې او عزم يې لاغښتلې کړې او جهاد دجذبه يې دوه چنده شوې .

هغه دپکتياولايت په زياترو جهادی عملياتو کې برخه اخيستې او له دې لارې يې اسلامي انقلاب ته زيات افتخارات ګټلي او بلاخره په (١٣٦٢) کال کې دباك په علاقداری کې دلمانځه په وخت دټانګ ګولې دلګيدو له امله په شهادت ورسيد او په دې توګه يې دتورې او شعر دوياړو خپلو لو ترڅنګ دشهادت وياړهم خپل کړ .

حوادث داغ:

جهان در ماه سنبله

جمیل الرحمن «سائل»

۱ سنبله :

مردم مسکو در جریان تظاهرات مجسمه (فلیکس ژر ژنسکی)اولین رئیس سازمان چیکا (کی ، جی ، بی) کنونی را باشعار دادن های قصاب وقاتل مردم روسیه سرنگون نمودند .

ویوریس یلتسین رئیس فدراسیون روسه طی صادر نمودن فرمانی مسول خبرگزاری رسمی روسیه (تاس) رابخاطرنشر اخبار دروغ در جریان کودتا از کار بر کنار نمود وی همچنان نشر روزنامه (پراودا)ارگان مرکزی حزب کمونست روسیه را به حال تعلیق در آورد .

۲ سنبله :

رئیس دولت هند «ونکاتارامان »وارد کشمیر اشغالی گردید ، با فرود آمدن طیاره وی در سرینگر اعتصابات مسلمانان شروع گردید دوکان های شهر بسته شد ،وهمه چیز دگر گون گردید .

۳ سنبله :

اوکراین که دومین جمهوری بزرگ روسیه می باشد ، اعلان استقلال نمود مسولین ان جمهوری وعده دادند که درماه دسامبر اینده دران جمهوری انتخابات عمومی صورت خواهد گرفت .

***

گورباچوف ذریعه بیانیه تلویزیونی خویش که از مسکو پخش شد ازریاست حزب کمونست روسیه استعفا داد و کمیته مرکزی ان حزب را منحل ساخت ، واز دیگران نیز تقاضا نمود که از عضویت حزب کمونست استعفا بدهند .

٤ سنبله :

محترم مجددی طی یك نامه ای عنوانی یلتسین رئیس فدراسیون روسیه از وی خواسته است تامانع ارسال مساعدات روسیه به رژیم مزدور کابل گردد ، سال گذشته یلتسین خواهان توقف ارسال اسلحه به حکومت کابل شده بود .

***

آیس لیند اولین کشوری است که هرسه کشور بالتیك ، لیتویا ، لیتوانیا و استونیا رابرسمیت شناخت .

٥ سنبله :

سه تنظیم بزرگ مجاهدین حزب اسلامی افغانستان ، اتحاد اسلامی افغانستان وحزب اسلامی محترم مولوی خالص درکنفرانس تهران که قرار است امروز تشکیل گردد اشتراك ننمودند ، انها علت این اقدام خود را نپذیرفتن شرایط خویش از طرف حکومت ایران قلمداد نمودند .

جمهوری ملداوی روسیه اعلان استقلال نمود گورباچوف گفته است که اگروحدت جمهوریهای روسیه حفظ نه شود دران صورت ازمقام خویش مستعفی خواهد گردید .

٦ سنبله :

دوازده کشور جامعه اروپایی استقلال هرسه جمهوریت بالتیك رابرسمیت شناختند .

***

شورای ائتلاف مجاهدین شیعه افغان طی یك اعلامیه ای کنفرانس تهران را تحت سوال قرار داد وگفت چرا دران از تنظیم ها عمده جهادی منجمله شورای ائتلاف دعوت بعمل نیامد تادران کنفرانس اشتراك ورزد .

٧ سنبله :

گورباچف طی فرمانی سفیر روسیه در چکوسلواکیا بوریس پینکن را بحیث وزیر خارجه ان کشور تعیین نمود.

وزیر خارجه قبلی روسیه بستمرنیخ بخاطر ازکار بر کنار شد که در جریان کودتای اخیر روسیه هیچ عکس العملی نشان نداده بود .

٨ سنبله :

آذربایجان ششمین جمهوری روسیه است که خواهان آزادی واستقلال ازمسکو گردید ، این تصمیم بعد از رای گیری پارلمان ان کشور گرفته شد وبه تعقیب ان این جمهوری اعلان استقلال نمود.

***

مولوی جمیل الرحمن رهبر جماعة الدعوة الی القران والسنة که نام اصلی اش محمد حسین می باشد ذریعه یکنفر عرب بنام عبدالله رومی بقتل رسید ، قاتل نیز توسط محافظین مولوی جمیل الرحمن ازپادراورده شد .

٩ سنبله :

ازبکستان وقرغزستان نیز اعلان استقلال نمودند ، وجریده پراودا دوباره به نشرات خویش اغاز نمود .

١٢ سنبله :

بینن سیوان نماینده خاص سرمنشی موسسه ملل متحد وارد کابل گردید وباعده از مسولین رژیم ملاقات نمود.

١٤ سنبله :

بالاخره کریملین بعد از سالها تجاوز وسیطره بر جمهوری های بالتیك مجبور شد ، ازادی ان جمهوریتها رابرسیمت بشناسد ، حکومت امریکا بتاریخ ١١ سپتمبر ازادی ان جمهوریتها را برسمیت شناخته بود .

١٧ سنبله :

جمهوری مسلمان نشین تاجکستان که تحت اشغال روسیه قرار دارد ، اعلان استقلال نمود ، هزاران تاجك درین روز بیرون پارلمان ان کشور دست به تظاهرات زدند وانها شعار می دادند ما کمونیزم را نمیخواهیم ونظام اسلامی می خواهیم .

١٨ سنبله :

پریزدیکوپار سرمنشی موسسه ملل متحد وارد تهران گردید ، وی میخواهد بامسولین ایران درباره گروگان های اسرائیلی ، فلسطینی ولبنانی ، اوضاع ایران ، عراق ونیز درمورد حل قضیه افغانستان با انها صحبت نماید ، وی درسال ١٩٨٧ نیز بخاطر ختم نمودن جنگ عراق وایران وارد تهران گردیده بود .

***

کنفرانس حقوق بشر برای اولین بار درمسکوبیانیه گورباچف افتتاح گردید وزرای خارجه ٣٨ کشوراروپا – امریکا وکانادا درین کنفرانس اشتراك ورزیده اند گورباچف ازانها تقاضای کمك های بیشتر رانمود .

***

بنابه گزارش رادیو کابل برای اولین بار بعد از تحولات اخیرروسیه یك هیئت ان کشور وارد کابل گردید وبا مقامات رژیم ملاقات نمود ، ازطرف این هیئت وعده هرگونه مساعدت نظامی واقتصادی به رژیم مزدور داده شده است .

٢٠ سنبله :

فیدرل کاسترو رهبر کیوبا اظهار تاسف نمود که گورباچف بدون مشوره باوی میخواهد قوای خود را

ازکوبا خارج سازد .

***

اقای غلام اسحق خان رئیس دولت پاکستان وارد تهران گردید وی بامقامات ایرانی ونیز با سر منشی موسسه ملل متحد ملاقات نمود وموضوع عمده مذاکرات انها یافتن راه حل برای قضیه افغانستان بود .

۲۱ سنبله :

سرمنشی موسسه ملل متحد که اکنون در تهران بسر می برد ، ازمجاهدین افغان خواسته است که عملیات نظامی خویش برضد حکومت نجیب رامتوقف سازند تا پروسه صلح وی مورد اجراً قرار گیرد .

***

بعد از مذاکرات وزرای خارجه امریکا و روسیه (جیمزبیکر وبوریس پینکن) که در مسکوبرگزار شد هردوکشور اعلان نمودند که سر از تاریخ اول جنوری سال ۱۹۹۲ هرگونه کمك نظامی خویش رابه هردو جناح درگیر درافغانستان قطع خواهند نمود ، انها گفتند این تصمیم بهترین راه برای حل قضیه افغانستان خواهد بود.

۲۳ سنبله :

محترم استاد سیاف ومحترم مولوی خالص طرح اخیر روسیه وامریکا مبنی بر توقف ارسال اسلحه به مجاهدین وحکومت کابل رایکجانبه خواندند وگفتند که رژیم کابل دارای نخایر هنگفت اسلحه می باشد ولی نزد مجاهدین چنین نخایر وجود ندارد ، که این طرح بنفع رژیم مزدور تمام خواهد شد.

محترم انجینر حکمتیار از تصمیم روسیه وامریکا استقبال نمود ولی افزود که دادن چهارماه فرصت خیانت به جهاد دانسته می شود واین امرراکمك امریکا به رژیم مزدور دانست .

۲۴ سنبله :

نجیب رئیس رژیم مزدور دریك پیام تلویزیونی خویش از همه اطراف قضیه حتی ظاهرخان نیز خواست تادرمورد تطبیق طرح اخیر روسیه وامریکا بخاطر بمیان آمدن صلح همکاری نمایند وی ازقوماندانان جهاد خواست تادرمناطق مربوط خویش آتش بس رامراعات نمایند وی افزود باید از استعمال اسلحه ثقیل خود داری شود ووعده داد که حکومت آینده به کشورهای همجوار ضرری نخواهد رسانئید ؟!!

***

مجاهدین افغان همه پیشنهادات نجیب را مردود دانستند وآنرا فریب محض وبازی تبلیغاتی خواندند .

۲۶ سنبله :

نجیب رئیس رژیم مزدور طی صادر نمودن فرمانی به ظاهرشاه وهم خانواده سلطنتی که اکنون درخارج ازافغانستان بسر می برند حق تابعیت داد وفرمان شماره پنج ۲۲ جوزای سال ۱۳۵۷ شورای انقلابی وقت مبنی بر سلب تابعیت خاندان سلطنتی رالغو اعلان نمود.

***

وزارت خارجه روسیه از رهبران مجاهدین خواسته است تابه مسکوبروند ودرباره اسرای روسی ومسایل مربوط باهم صحبت نمایند- این مطلب راکوزیروف اعلان نمود وگفت سفارت روسیه دراسلام اباد این دعوت نامه روسیه را به رهبران مجاهدین افغان سپرده است .

۳۰ سنبله :

جمهوری ارمینیای روسیه بعد از اجرای انتخابات باالکثریت قاطع ۹۹ فیصد فیصله نمودند تا از روسیه جدا شوند واستقلال سیاسی خود رابدست آورند .

رئیس حکومت ان کشور فعالیت های حزب کمونست را ممنوع قرار داد وحزب بر سر اقتدار ان کشور را بنام حزب سوسیالیست نامید .

چنانچه انها شاهراه لینن رابنام شاهراه رودکی مسمی نمودند .

۳۱ سنبله :

پارلمان تاجکستان اسلانوف رئیس حکومت راازکار بر کنار نموده ودرعوض معاون وی نبیوف راتعین نمودند اسلانوف بخاطری بر کنار شد ، که فعالیت های حزب کمونست را متوقف ساخت وبر کمونیزم انتقادات شدید نمود .

چون پارلمان تاجکستان ازکمونستهای سرسخت تشکیل گردیده است بدین مناسبت اسلانوف راازکار بر کنار نمودند .



راغلی لیکونه

په دې ګڼه کې دمجلې دیو شمیر لوستونکو اومینه والولیکونه لروچې مونږ ته یې رالیږلي اومونږ دلیکونو دزیاتوالي په وجه دځینو دنومونو په یادولو اودځینودلیکونو دیوې برخې په خپرولو اکتفا کوو .

دبنوں دعوة الحق دلیسی اتم ټولګی محصل محمد هاشم احمدزی دپیښور پیپل منډی څخه قاری محمد ابراهیم فدایي ، دکوهاټ ضلع هنګو نوی کلی الهجرت والجهاد دمدرسې څخه شمس الحق عاجزیار، کوهاټ ضلع هنګو دکاهی سراج السلام دارالعلوم څخه طالب العلم طالب ګل حاځی له اکوړه خټک څخه محمد نادر دکوهاټ ضلع هنګو رود دامام ابویوسف مدرسې څخه طالب العلم محمد عالم حق مل دکوهاټ ضلع هنګو روډ دارالحفاظ مدرسې څخه حافظ عبدالهادی خاکسار له میرامشاه څخه طالب العلم نور محمد له اټک څخه عبدالبصیر دمیرانشاه له منبع العلوم مدرسې څخه طالب العلم محمد قاسم ابراهیمی دمردان دتخت بهایي له جلاله څخه مولوی صاحب ګل رسول متوکل دکوهاټ ضلع هنګو دارالعلوم سراج الاسلام څخه متعلم سید جمال الدین ماهوال دمانسهرې دهجرت الجهاد دمدرسې څخه سر معلم عبیدالله نیازی دکوهاټ ضلع دارالعلوم عربیه څخه محمد شعیب جهادیار له ضلع مردان رستم دارالعلوم سراج الاسلام څخه طالب العلم رفیع الدین خاکسار حاځی له صوابی څخه بختور شاه دمانسهرې روحاني بازار څخه فخرالدین درویش له میرانشاه څخه طالب العلم احسان الله احساني له کوهاټ ضلعی کچه پخه څخه حاجی غازی نیازی دکوهاټ له هنګوبازار څخه نورنبي صادق یار دکوهاټ دارالعلوم عربیه ټل څخه محمد امین الله افضلي دپیښور خیبر روډ دارالقران الکریم مدرسې څخه قاری تاج محمد ملنګیار له میرانشاه څخه طالب العلم محمد قاسم ابراهیمي له کورمې أیجنسي بګن بازار څخه هریو معلم شاه محمد نوراني او سردار خان له میرانشاه څخه فقیرمحمد ، دباجوړ ایجنسي راغګان بازار څخه عبدالروف صابر دصوابي دبرکي کمپ څخه قاری عبدالرزاق دملاکنډ ایجنسي څخه ببرك افغاني دمیرانشاه دعبدالله بن مبارك حربي پوهنتون محصلین هریواول خان پکتین ، اوعبدالباقي ، دمنبع الجهاد دمجلې په نوم په خپلو لیکونو کې دفرهنګي ټولنې دنشراتو دمحتوی قطع اوصحافت ډیره ډیره ستاینه کړیده اودفرهنګي ټولنې مسولینو اومنسوبینو زیار او زحمت ته یې دقدر په سترګه کتلي دي.

ځینو ورونو ! دفرهنګي ټولنې دنشراتو دوراستولو په هیله خپلې پتې اوادرسونه رالیږلي اوځینو زمونږ دنشراتو ور رسیدلو اطمینان راکړی دی فرهنګي ټولنه ددوی دنیکو احساساتو څخه دزړه له ګومې مننه کوی اودوی ته ډاډ ورکوي چې اداره به هڅه وکړي .

ترڅو دوی ته خپل نشرات ور ورسوی .

یو شمیر نورو ورونو دفرهنګي ټولنې په نوم لیکونه رالیږلي چې دلته یې ځني برخې خپروو .

دکورمی ایجنسی گرزندی کمپ څخه داکتر بابری په خپل لیك کی لیکی :

له هرڅه دمخه خپل سلامونه اونیکی هیلی درته وړاندی کوم ، وروسته دتاسو ټولو قدرمنو اومجاهدینو ورونو روغ صحت غوښتونکی یم .

دقلم په سنگر کی ناستو ورونو څومره چی قلم سترې کوم بیابه هم ستاسو دخپرونو په صفت صبرونکړم واقعیت دادی چی تاسی خپرونی په زړه پوری مطالب لری لکه شعرونه لنډی کیسی ، جهادی قوماندانانو یانورو باشعوره کسانو سره مرکی ماچی اول ځل داخپرونی ولیدی نوهرڅه کوشش کوم چی نوی شماره یی لاس ته راوړم خوډیر کم بریالی کیږم هیل من یم چی زه ددی خپرونو له قیمتی سوغاتو بی برخی نه شم .

دکوهاټ ضلع مامون خوړی څخه وردگ لیکی .

لومړی خپل سلامونه دمنبع الجهاد دمجلی کارکوونکو اولوستونکو ته وړاندی کوم خدای دی وکړی چی درسپارل شوی اسلامی دندی په پوره اخلاص اوصداقت سره مخ په وړاندی بوځی .

قدرمنو ورونو ! باورمووشه چی دستاینی ورخدمت کوی ستاسی دغه فرهنگی جهاد زه دومره متاثره کړی یم چی نور خیالونه می له ذهن څخه وتلی دی زه هر وخت په ډیر زیار سره دمنبع الجهاد دمجله ترلاسه کوم ستاسی دکب دمیاشتی مجله می دیو ملگری څخه ډیر په زیار سره ترلاسه کړه چی په مطالعه کولو می ټوله مجله دځینوکیسوله امله په اوښکو لمده کړه نوموړی دلیك په پای کی فرهنگی اداری نه غوښتی چی دوی په پته خپل نشرات ورولیږی .

دبنون سمروت څخه محمد وزیر لیکی دمنبع الجهاد دمجلی قدرمنو مسولینو اسلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

خدای دی ستاسی په فرهنگی جهاد کی لا مرستندوی شی زه له منبع الجهاد ، جهاد هنداری سره زیاته مینه لرم په سوال یایی د کوم ملگری یادمدرسی له استاد څخه لاس ته راوړم .

همدارنگه له ابوظبی څخه شاه حسین مشغول په یو لیك کی فرهنگی ټولنی کارکوونکو ته سلامونه ویلی اودفرهنگی ټولنی دنشراتو فعالیتونو ستاینه یی کړی اویو شعریی دخپرونی لپاره رالیږلی چی دمجلی اویاجریدی له لاری به خپور شی کوهاټ ضلع خپیانگی ٤نمبر کوه صافی دکمپ څخه قاری سمیع الله قانت دلیك په یوه برخه کی لیکی :

زه دلوی خدای په دربار کی ټولو مجاهدینو ته دبریالیتوب دعا کوم اوستاسی دفرهنگی نشراتو سره زیاته مینه لرم چی ډیر په زړه پوری مضامین لری اوډیر په شوق سره یی لولو .

دلیك په پای کی غوښتنه کوی چی دوی په ادرسونو ورته نشرات ورولیږی .

موږ دغو ورونو ته ډاډ ورکوو او هڅه کوو چی خپل نشرات دوی ته وروړسولی شو .

همدارنگه دپنج پیر له دارالقران مدرسی څخه دگران ورور محمد امین دانش لومړنی لیك راورسید نوموړی زموږ دمجلو دورسیدو څخه خوښی کړی اوغوښتنی یی دی چی دمجلو تعداد ورته زیات شی .

موږ پداسی حال کی چی دنوموړی ورور له لیك څخه مننه کوو وعده ورکوو چی دده دغوښتنی په برخه کی به پاملرنه وکړو خو باید ووایو چی په هر هفته کی زموږ دنشراتو دورلیږلو امکانات نشته.

اتلان ژوندي

شهید توریالی

هغه یو قهرمان اویو اتل ؤ ، داسلام دلاری یونه ستړی کیدونکی سپاهی اولاروی ؤاودحق دسنګر یو باتور «توریالی » لکه چی یی نوم «توریالی »ؤ همداسی دتوری اوننګ خپلوونکی و ، شهید توریالی دلغمان ولایت دفرمان خیلو دکلی دمحمد اکبرخان په کهول کی خاپوړی کړی اورالوی شوی له وړوکوالی یی داسلام سره مینه وه ،اوچی کله دځوانی پر پسرلی ورګډ شو خپله مینه یی دعمل په جامه سینګارکړه ، د۱۳۵۹ هـ ش کال دچنګابښ په ۲۰ یی یرغلګرو روسانو اودهغوی ګوډاګیانو سره ډغرو وهلو ته ملاراوتړله ، په سر کی یی د« امبیر» له جبهی ځان په وسله سمبال کړ خو وروسته د«اتحاد » په جبهه کی دیوه ګروپ مشری وروسپارل شوه دجهاد په دوران کی یی دزیاتو روسانو ککری دخاورو سره خاوری کړی ، دډیرو روسانو اودهغوی دګوډاګیانو ناپاکی هیلی او ارمانونه یی په سینه لاهوکړل ، ډیر دښمنان یی مات ګوډ بیرته ستانه کړل ، زموږ اسلامی انقلاب ته یی زیات افتخارات اونه هیریدونکی کارنامی وګټلی ، نه هیریدونکو کارنامو یی نوم دتاریخ په پاڼو کی په زرینو کرښو ولیکه اوبالاخره د۱۳٦۳ هـ ش کال ددلوی میاشتی په ۲۳ نیټه دخپلو شپږوتنو ملګرو اوخپلوانو هریو حبیب الله ، محمد نسیم ، غلام سخی ، محمد سامان ، سالارالله ، اوجان اغا سره یو ځای دروسانو له خوا دیوه کمین په ترځ کی ژوندی ونیول شو اووروسته دټول کلی په وړاندی دلغمان ولایت په فرمان خیلوکی دملګرو سره یو ځای شهید کړای شو .

یاد یی ژوندی اوروح یی ښاده

شهید ککوخان

شهید ککوخان دحاکم خان زوی چی په ۱۳٤۸ هـ ش کال کی دلوګر ولایت دازری ولسوالی دپیرو په خوشحال خیلوکی سترګی غړولی اوپه قوم احمد زی ؤ په ۱۳۵۸ کال کی وسله وال جهاد پیل کړی اودلوګر اوپکتیا ولایت په زیاترو جهادی عملیاتوکی برخه اخیستی په ۱۳٦۵ کال کی دحضرت عمرفاروق (رض) په غونډ کی شامل شو ، دغونډ له مجاهدینو سره یی زیاترو عملیاتوکی برخه اخیستی ، اوبالاخره د ۱۳۷۰ کال دسنبلی په لومړی نیټه دزرمت په سیمه کی دتوپ ګولی لګیدو له امله په شهادت ورسید.

انالله وانا الیه راجعون

شهید محمد عالم

شهید محمد عالم دمحمد زوی دبغلان ولایت دنهرین ولسوالی دطبقان په سیمه کی زیږیدلی .

دثور کودتا دبریالیتوب سره جوخت یی دکمونستانو په مقابل کی په وسله وال جهاد پیل کړی اودجهاد په دوران کی ی ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی او مالی تاوانونه وراړولی .

دغه زړور مجاهد په ۱۳٦۹/۳/۹ نیټه دحضرت عمرفاروق (رض) په غنډ کی شامل شوی اوپه ۱۳۷۰/۲/۹ نیټه دخوست ولسوالی کی ددښمن دماین چاویدو له امله دشهادت لوړ مقام ته ورسید .

انالله وانا الیه راجعون



شهید میرعلی

شهید میر علی دجان محمد زوی دپکتیاولایت دوزی ولسوالی دشواك علاقه داری دابراهیم خیلو اوسیدونکی په ۱۳٤۵ هـ ش کال کی زیږیدلی ترشپږم ټولګی پوری دسواك په منځنی ښوونځی کی زده کړه کړی.

په ۱۳۵۸هـ ش کال کی دخپل فامیل سره یوځای اسلامی هیواد پاکستان ته هجرت کړی اودهجرت سره سم په وسله وال جهاد پیل کړی په ډیرو جګړو کی ددین او وطن دښمنانو ته دسراومال درانه تلفات وراړولی دی بالاخره د۱۳٦۹ هـ ش کال دروژی دمبارکی میاشتی په ۱۱ نیټه دخوست پر امنیتی پوستوکی ددین او وطن دښمنانو له خواپه شهادت ورسید .

انالله وانا الیه راجعون

شهید قوماندان علی خان

شهید علی خان دجان امیر زوی په ۱۳۴۸ هـ ش کال دپکتیا ولایت دخوست دلویی ولسوالی دیعقوبیو علاقه داری دکوتکیو په کلی کی زیږیدلی .

نوموړی په افغانستان کی دثور کودتاتربریالیتوب وروسته دخپلی کورنی سره پاکستان ته هجرت کړی اودهجرت وروسته یی ددهریانو په مقابل کی وسله وال جهاد پیل کړ دجهاد په دوران کی یی ددین اووطن دښمنانو ته زیات ځانی او مالی تاوانونه واړولی .

بالاخره دغه نومیالی مجاهد په ۱۳۷۰/۱/۱ نیټه دیعقوبیو علاقه داری په فتحه کی دشهادت لوړ مقام ته ورسید .

انالله وانا الیه راجعون

شهید حبیب الرحمن

شهید حبیب الرحمن دماني زوی په ۱۳۵۲ هـ ش کال دپکتیا ولایت دخوست دلویی ولسوالی مربوط دعلیشیرو علاقه دری دزدرانو په کلی کی زیږیدلی په ۱۳۶۰ هـ ش دخپلی کورنی سره دهجرت لار خپله کړی اودهجرت څخه وروسته یی ددهریانو په مقابل کی په وسله وال جهادلاس پوری کړی دجهاد په دوران کی یی ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی او مالی تاوانونه واړولی اوبالاخره د۱۳۷۰/۱/۱ نیټه دیعقوبیو علاقداری په فتحه کی دشهادت لوړ مقام ته ورسید.

انالله وانا الیه راجعون

شهید حاجي محمد رفیق



شهید حاجی محمد رفیق دظریف زوی دپکتیا ولایت دزرمت ولسوالی دمنګل خیلو په سیمه کی زیږیدلی اوپه قوم مموزئ دی .

دثور کودتا دبریالیتوب سره جوخت یی ددهریانو په مقابل کی په وسله وال جهاد پیل کړی ، دجهاد په دوران کی ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی او مالی تاوانونه واړولی.

په ۱۳۶۹/۱۱/۲۰نیټه دحضرت عمر فاروق (رض) په غنډ کی شامل شوی اوبالاخره ۱۳۷۰/۳/۱۲ نیټه دزرمت ولسوالی دسراوړی په سیمه کی ددښمن ماین چاویدو له امله دشهادت لوړ مقام ته ورسید .

انالله وانا الیه راجعون

شهید حسن زی

شهید حسن زی دعبدالمحمد زوی
دغزنی ولایت دده یگ ولسوالی کی
زیږیدلی او په قوم جلال زی و .
نوموړی دثور کودتا دبریالیتو سره
جوخت دکمونستانو په مقابل کی په
وسله وال جهاد پیل کړی اودجهاد په
دوران کی یی ددین او وطن دښمنانو
ته زیات ځانی او مالی تاوانونه
وراړولی.
دغه نومیالی مجاهد په
۱۳۷۰/۲/۳۰ هـ ش نیټه درزمت په
ولسوالی کی ددښمن دبمبارد له امله
دشهادت لوړ مقام ته ورسید .
انالله وانا الیه راجعون

شهید خدایقل

شهید خدایقل دتاغن زوی دبلخ
ولایت دکلداد په ولسوالی کی
زیږیدلی په ۱۳٦۹ هـ ش کال
دحضرت عمر فاروق (رض) دغنډ
دمجاهدینو سره دجهاد په صف کی
شامل شوی ، دجهاد په دوران کی
یی ددین او وطن دښمنانو ته زیات
ځانی اومالی تاوانونه وراړولی .
اوبالاخره دغه زړور مجاهد په
۱۳۷۰/۲/۳۰ نیټه درزمت ولسوالی
دگاویانی په سیمه کی دملحد دښمن
سره په مخامخ جگړه کی ددښمن
دبمبارد له امله دشهادت لوړ مقام ته
ورسید .
انالله وانا الیه راجعون

شهید معراج گل

شهید معراج گل دخانی گل زوی
دپکتیا ولایت دخوست لویه ولسوالی
کی زیږیدلی او په قوم اخرو .
نوموړی مجاهد په ۱۳٦۹/۸/۲۸
نیټه دحضرت عمر فاروق (رض) په
غنډ کی شامل شوی اودوسله وال
جهاد په جریان کی ملحد دښمن ته
زیات ځانی او مالی تاوانونه
وراړولی.
بالاخره دغه زړور مجاهد په
۱۳۷۰/٥/٥ نیټه دخوست په
ولسوالی کی ددښمن دماین
چاودیدوله امله دشهادت لوړ مقام ته
ورسید .
انالله وانا الیه راجعون

د خوست کې د نیول شوو افسرانو
فوتوګراف





نبوي ارشاد

يوه ورځ رسول الله (ص)وفرمایل : بدي دې وي دهغه چاپه حال ، بدي دې وي دهغه چا په حال ، بدي دې وی دهغه چا په حال ، یوه صحابي پوښتنه وکړه : يارسول الله (ص) دچاپه حال دې بدي وي؟
ویی فرمایل : دهغه چاپه حال چی پلاراومور دزړښت په حالت کی ووینی اوجنت ته له ننوتلو نه محروم شي(یعني دهغو په خدمت کی سستي وکړي)

(مسلم)

دمجاهدینو یوه ډله پر دښمن دتعرض په نیت پرمخ روانه ده

شیبه په شیبه دګردیز په شاوخوا کی ددښمن سنګر توغندي لګیږی